


Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کتاب پېژندنه

||||||||||||||||||||||||||||||||||||

کتاب :: د نبوت پای (ختم نبوت )

لیکوال ::شیخ الاسلام ، علامه عبدالسلام رستمی ، حفظه الله تعالی .

ژباړن :: استاد قریب الرحمن سعید ، حفظه الله تعالی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اهدأ:**

د شیخ الاسلام ، علامه ، شیخ عبدالسلام رستمی دلیکنی د نبوت پایی (ختم نبوت ) دغه ژباړه ، خپلو ټولو درنو ، مجاهدو او حق پالونکی علماؤته او په ځانګړی توګه خپل مرحوم والد، مولوی ګل رحمن غفرالله له ، خپلومجاهدو ماماګانو، هریو مرحوم مولوی عبدالحکیم ، مرحوم مولوی عبدالحمید(مولوی تور)، مرحوم مولوی محمد اکرم ، خپلو درنو مجاهدواستادانو ، هریو مرحوم مولوی ظل الله اخنزاده ، او میا صاحب معین الدین (دبړومیاصاحب ) ،غفرالله لهم اجمعین ، او ټولو هغه حق پاله علماو ته چی په محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم باندی یی د نبوت د پایی ته درسیدو (ختم نبوت ) په هکله یی نه ستړی کیدونکی جدو جهد کړی او یا یی کوی ، په ډیر درنښت تقدیم ووم.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ژباړې په هکله

## بسم الله الرحمن الرحیم

الحمد لله نحمده و نستعینه و نستغفره ونؤمن به و نتوکل علیه ، و نعوذ بالله من شرور انفسنا و من سیْات اعمالنا من یهده الله فلا مضل له ومن یضلله فلا هادی له ، و نشهد ان لا اله الا الله وحده لاشریک له و نشهد ان سیدنا و مولانا محمد عبده و رسوله ، ارسله بالحق بشیرا و نذیرا . فجعله خاتم الرسل و النبیین ، و سیدهم و سیدالعالمین.

الحمد لله ، د خپل ځان له پاره افتخار ګڼم چې د شیخ القران ، علامه عبدالسلام رستمی ،حفظه الله ، دغه ستره تاریخی اومستدللــــه څیړنه چې د قادیانیت د فتنی دله منځه وړلو او دهغوی د یو شمیر بی دلیله پو ښتنو په ځواب کی یی لیکلی خپلو وطن والو مسلمانانو ورونو ته په پښتو ژبه وژباړم.

دغه دروند او ستر عالم ،په محمدرسول الله صلی الله علیه والسلم باندی د نبوت د پایی ته د رسیدو او د قادیانیت د فتنی په هکله، چې په برتانوی هند کی یی د شلمی پیړۍ په لمړیو کی د انګریزانو، دا دسلامی عقایدو او مسلمانانو سوګند خوړلی دښمنان او د مسلمانانو په شتمنیو باندی غاصب استثماری ځواک ،د شیطانی سیاست تر سرپرستی لاندی او دهغوی دمستقیم ملاتړ په واسطه سر راپورته کړ او اوس هم د همدی طاغوتی ځواک په ملاتړ او د صلیبی کلیسا او یهودانو په مالی بسپنه ، نژدی په ټولو اروپایی او یو شمیر افریقایی هیوادونو کی په پوره حیلی ، مکر او فریب سره دیو شمیر ، د اسلام د عقیدی څخه د ناخبره ، مسلمانانو د عقایدو دخرابولو له پاره فعالیت کوی اود خپلو تبلیغا تو دخپرولو له پاره یی د انګریزانو په پایتخت ، لندن کی ،یو لړ خپرنیز مرکزونه جوړ کړی او په تلویزونی چینلونو کی هره ورځ ژوندۍ خپرونی لری، پوره څیړنه او تحقیق کړی د ی.

شیخ القران علامه عبدالسلام ، نه یواځې د ا چې د قادیانیت د فتنی د مشر غلام احمد قادیانی یو لړ د عقل نه لیری درواغژنو دعوو ته یی دقران کریم او نبوی احادیثو په رڼا کی مستدلل ځوابونه ویلی دی ، بلکه ددغی فتنی تر شا یی ، د مسلمانانو او اسلامی امت پرخلاف د انګلیس د طاغوتی نظام د شیطانی سیاست او ددښمنۍ نه ډکی توطی او دسیسی ، چې همدا نن ورسره اسلام امت د نړۍ په ګوټ ، ګوټ کی مخ دی ، هم په مستنده توګه را بر بنډی کړی دی او دایی په ډاګه کړی ده چې دغه فتنی څه ډول ،د چا له اړخه او د څه له پاره په کار اچول شوی دی ، او څه ډول یی ورته وده ورکړی ده ، همدا اوس یی څوک پالنه کوی او څوک یی د پرمختګ او ودی له پاره کار کوی . او څه ډول وګړی یی ښکار ګرځی، د نمونی په توګه د کتاب د متن دغه لاندی جملی چی پخپله د غلام احمد قادیانی لیکنه ده و لولې :

]مرزا غلام احمد قادیانی دسیالکوټ د ډپټی کمشنر په کچرۍ کی د ۱۸۶۴ عیسوی کال څخه تر ۱۸۶۸ کاله پوری په ډیره کمه تنخوا ملازم و. په همدی وخت کی یی د پادری (مسټر شفیر ایم ای ) سره اړیکی و غزول . د برتاییی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مرکزی انټلیجنس د راپور په مطابق ، د سیالکوټ د څلور وګړو څخه مرزا ډیر د ښه نصیب خاوند و چی د نبوت له پاره منتخب کړل شو[.

همدا راز د خپل کتاب ،تحفه قصریه، په اتم مخ کی لیکی چی :[او دویم اصول چی زه یی پری قایم کړی یم هغه د جهاد دهغی غلطی مسلی اصلاح کول دی چی په ځینو مسلمانانو کی مشهوره دی . نوخدای تعالی زه په دی پوهه کړم چی کومی طریقی چی تر اوسه پوری جهاد ګڼل کیدی هغه د قران دتعلیماتو څخه بلکل مخالفی دی]. او بیا لیکی چی:

[زما دعمر ډیره برخه د انګریزانو د سلطنت په تایید او ملاتړ کی تیره شوه او ما د جهاد ممانعت او د انګریزانو د اطاعت په هکله دومره کتابونه ولیکل او دومره اشتهارات می خپاره کړل چی که چیر ی هغه رسالی او کتابونه راټول کړل شی نو پنځوس الماری به تری ډکی شی. ما خپل لمړنۍ عمر کی (دا د ۱۸۹۳ کال خبره ده )، یعنی تر دی وخته چی نژدی شپیته کلنۍ ته رسیدلی یم دخپلی ژبی او قلم له لاری په دی کار کی مشغول وم چی دمسلمانانو زړونه د انګلیسی حکومت سره د ریښتنی محبت او خیرغوښتنی او دهغوی دملاتړ په لور را و ګرځوم او دیو شمیر ناپوهه خلکو د زړونو څخه د جهاد غلط خیال او فکر لری کړم]. ( ضمیمة شهادت القران ۱۰م مخ ). همدا راز خپلی ډلی ته هم وصیت کوی او لیکی چی :

[خدای تعالی زه په همدی اصولو باندی قایم کړی یم چی د محسن حکومت ، لکه څرنګه چی د برتانیی حکومت دی، په ریښتونی توګه اطاعت و کړم اوپه ریښتونی توګه د هغی شکر ادا کړم ، نو زه او زما ډله په دی اصولوباندی پابند یو]. (تحفه قیصریه ۹ مخ )

�ددی ټولو خبرو څخه او په ځانګړی توګه ددی اخری خبری څخه یی په ډاګه کیږی چی انګریزانو د مرزاییت بنسټ په دی خاطر ایښودی و تر څو دجهاد نظریه له منځه یوسی او په هندوستان کی دتل لپاره برتانوی حکومت مسلط کړی.............�

ماچی کله ددی کتاب د ژباړی له پاره غوښتل د انګلیس د شیطانی سیاست په هکله چی همدا اوس یی په اسلامی نړۍ کی د فساد د را پیداکولو له پاره تر لاس لاندی نیولی څه ولیکم ،نو خبره را دومره اوږده شوه ، چی د یوی ځانګړی څیړنی په څیر باید خپره شوی وایی، نو په دی اساس می په همدغه څو جملو لیکلو او د کتاب څخه د لنډ اقتباس په اخستلو سره بسنه وکړه.

دا په اسلامی امت باندی د الله جل جلا له ډیر ستر احسان دی چی دغه ډول ستر ، جید ، فقیه او دحق علمایی په کی را پیدا کړی چی هر وخت او هره ګړۍ د علم او پوهی له لاری دباطل په مقابل کی یی خپلی سینی سپر ګرځولی دی او د حق خبره په پوره ډاګیزه توګه د امت تر مخ ږدی . الله جل جلاله دی زمونږ دغه د حق علماو ته د اسلامی دعوت د خپرولو او د باطل د مقابلی کولو توفیق نور هم ور اعطا کړی .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدا راز غواړم د درونډ ورور مولوی عبدالرؤف ساپی څخه چی ددی کتاب په را رسولو کی یی له ماسره مرسته کړی د زړه له کومی مننه وکړم او هم د خپلی کورنی غړو ته چی د ژباړی په وخت کی یی راته ټولی اسانتیاوی برابری کړی اوپه ځانګړی توګه دخپل زوی محمود الرحمن یاسر سعید څخه چی دکمپیوټر په ټایپ او ستونزو کی یی را سره مرسته کړی د الله تعالی څخه دخیر اوعافیت او په دنیا او اخرت کی د ستر اجر او عزت دورکړی له پاره دعا وکړم.

د الله جل جلا له څخه غواړم چی دد غه کتاب ژباړه د ټولو مسلمانانو له پاره د پوهی او خیر سبب و ګرځوی او زما له پاره یی په دنیا او اخرت کی د اجر او سرلوړی ذریعه کړی . امین

قریب الرحمن سعید

۴م اګست ، ۲۰۰۷م عیسوی کال

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحیم

الحمد لله الذی اکمل بنیان الرسالة باللبنة الاخیره و ختم سلسلة الرسالة بمن له الاسمأ و الصفات الکثیرة ، هو محمد و احمد و الماحی و الحاشر و العاقب و نبی التوبة و الرحمة و قاید المرسلین ذوالمناقب و المکتوب فی التورة و انه لیس بفظ ولا غلیظ و لاسخاب فی الاسواق ، کان احسن الناس و اجودهم و اشجعهم بالوفاق و الانفاق ، بعثه الله تعالی لاتمام محاسن الافعال و تکمیل مکارم الاخلاق ، له الاخلاق الحسنة الجلیلة و الشمایل الجمیلة و السیر النبیلة ، اکمل الله تعالی له الدین و الملة ، و اتم علیه النعم و المنة ، فجعله خاتم الرسل و النبیین ، و سیدهم و سید العالمین ، فلا تمس حاجة الی بعث رسول او نبی بعده ، و لا یمکن لاحد ان یکمل او ینسخ دینه کله او بعضه ، و صلوا ت الله تعالی و سلامه علیه الی یوم الدین و علی اله و اصحابه و اتباعه و ازواجه اجمعین .(امین)

ژباړه : د الوهیت ټول صفتونه هغه ذات ته دی چی د رسالت ماڼۍ یی د(خپلی) اخری خښتی په واسطه تکمیل کړه . او د رسالت لړۍ یی پر هغه ذات پای(اختتام ) ته ورسوله ، چی د ډیرو نومونو او سترو صفتونو خاوند دی . او هغه محمد، احمد ، ماحی ، حاشر ،عاقب او (نبی التوبة و الرحمة ، او د ټولو پیغمبرانو قاصد او د ډیرو مناقبو خاوند دی . چی په تورات کی دهغی صلی الله علیه و سلم په صفت کی راغلی دی چی �هغه بد ژبی او سخت زړی نه دی ، او نه په بازارونو کی شور او غوغا راپیداکونکی دی ، او د ټولو خلکو څخه ډیرد ښه صورت او زیات سخاوت خاوند،او ډیرستر او بهادرشخصیت دی، � دا اتفاقی خبره ده چی الله تعالی هغه (صلی الله علیه وسلم ) را ولیږه تر څو د ښیګڼو (ښه کارونو ) اتمام او د نیکو اخلاقو تکمیل وکړی . هغه صلی الله علیه وسلم ته تر ټولو ستر اخلاق ، عادات او ستر سیرت ( عظیمه سیرت ) ورپه برخه دی . الله تعالی دهغی صلی الله علیه وسلم له پاره ملت او دین کامل کړل ، او په هغه صلی الله علیه وسلم یی خپل نعمت او احسان پوره کړ .

نو هغه صلی الله علیه وسلم یی دخاتم المرسلین و النبیین او د ټولو عالمیانو سردار و ګرځاوه . نو دهغی صلی الله علیه وسلم نه وروسته دبل کوم نبی د را استولو(اوراتللو) اړتیا نه شته . او نه د یوچا له پاره ممکن دی چی د هغه صلی الله علیه وسلم دین په جزوی او یا کلی توګه منسوخ کړی . دالله تعالی درود او رحمت دی پر تا ، او ستا په اولادونو ، اصحابو (ملګرو)، تابعدارانو ، او په پاکو بیبیانو ( ازواج مطهرات ) باندی تر قیامته پوری وی . (امین)

اما بعد:

د ټول اسلامی امت ( دسلفو او خلفو ) اتفاقی او اجماعی عقیده ده چی د نبوت لړۍ د آدم علیه السلام څخه پیل او پر محمدرسول الله صلی الله علیه وسلم باندی پای ته رسیدلی ده . دهغه صلی الله علیه وسلم څخه وروسته هیڅ ډول ،حقیقی ، ظلی ،بروزی او مجازی نبی نړۍ ته د رسول په څیر نشی راتلای ، او هر څوک چی دهغی دعوا وکړی ، او دخپل نبوت لوری ته بلنه ورکړی هغه دواغژن (کذاب ) او دجال دی . نو پر ټول امت دهغی تکذیب او

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهغې څخه انکار کول لازم او فرض دی . هغه څوک چې دداسې وګړي تکذيب ونکړي بلکه هغه ته مجدد ، مصلح يا نبي ووايي (وپې منی) او يا هغه مومن اومسلمان وګڼي نو هغه وګړي هم د اسلام له دايرې څخه بهر دی.

د داسې دعوا کونکو د را څرګنديدو په هکله د رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه په زيات شمير احاديثو کې وړاند وينې شته : لکه چې فرمايي:

۱ -حديث:

عن ثوبان رضی الله عنه ، فی حديث طويل ، انه سيکون فی امتی کذابون ثلاثون کلهم بزعم انه نبی الله ، و انا خاتم النبيين، لا نبی بعدی ( رواه ابوداود والترمذی ، هو فی مشکوة المصابيح ۴۸۷م مخ )

ژباړه : په يوه (اوږده ) حديث کې ثوبان رضی الله عنه څخه روايت دی چې په کې راغلي ؛ بې شکه چې زما په امت کې به ديرش ستر او کوچنی درواغژن او غولونکی (فريب ورکونکی ) راپيداشي . هر يو به دعوا کوی چې زه د الله تعالی نبی يم ، او حال داچې زه خاتم النبيين يم ، رما څخه وروسته هيڅ نبی نشی راتلای.

۲ -حديث:

عن ابی هريرة رضی الله عنه: ان رسول الله صلی الله عليه وسلم قال: لاتقوم الساعة حتی تقتتل فـــــتان عظيمتان تکون بينهما مقتلة عظيمة و دعوا هما واحدة ، و حتی يبعث دجالون کذابون قريبا من ثلاثين کلهم يزعم انه رسو ل الله ( رواه البخاری ۱-۱۰۵۴ او مسلم )

ژباړه : د ابوهريره رضی الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلی دی چې : ترهغوپورې به قيامت قايم نه شي تر څو چې دوه ستری ډلی يوله بله سره و جنګيږی ، دهغوی تر مينځ به ستر جنګ وشي او دهغوی دعوا به يواځې يوه وی ، او ان تردی پورې چې نژدې ديرش کسه فريب ورکونکی اودرواغژن وګړي به پيدا کيږی هريو به دعوا کوی چې هغه د الله تعالی رسول دی.

داسلام تاريخ ګواه دی چې ددې ټولو وړاند وينو رينبتونولی وخت پر وخت په مختلفو اسلامی هيوادونو کې را څرګنديږی او دهغوی عاقبت د تاوان ( خسران ) په شکل کې را څرګند شوی دی.

په اوسنی وخت کې د هندو پاکستان په سيمه کې د دی وړاند وينی تر ټولو ستر مصداق ،د مرزا غلام احمد قاديانی ،دنبوت او رسالت دعوا ده . دهغه فريب ، غولونه ، عياری او مکاری ، تدليس او تلبيس تر ټولو زيات دی . او دا فتنه په يو شمير اسلامی هيوادونو او په غربی او افريقايی هيوادونو کی ډيره زياته خپره شوی ده ، ځکه چې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهغی ملاتړ او سرپرستی د هماغه لمړۍ ورځی څخه را پدیخوا تر نن ورځی پوری دا نگریزانو حکومتونه کوی . ددی فتنی په مقابله او مخالفت کی د اسلامی امت علماو او پوهانو زیات شمیر کتابونه لیکلی دی چی په هغوی کی ددغی دجال ،خبایث او بداخلاقی په بوره تفصیل سره د اسلامی امت تر مخ ایښوول شوی او واضح کړل شوی ده ، دداسی لیکنو او تصنیفاتو په موجودیت کی ما دا ضرورت نه محسوساوه چی زه هم یو څه ولیکم . خو داسی څه عوامل مخته راغله چی دهغی په واسطه زه هم دی ته تیار شوم چی په دی هکله څه ولیکم:

د لیکلو لمړۍ علت داو چی : دداسی فتنی د مقابلی له پاره هر ډول جهاد کولو ته اړتیاده ،او دهغی له ډلی څخه دقلم په واسطه دعوت اوجهاد د ټولو علماوو فریضه او مسولیت دی . نو ما دا لنډه شانته رساله په همدغه نیت ولیکله ؛

ترڅو د(فالذین آمنو ا و عزروه و نصروه ) په ډله کی په داخلیدو سره دلیکونکی له پاره د نجات ذریعه و گرځی.

دویم علت داو چی : انسان په طبیعی توگه دهغی وگړو د ویناو ، لیکنو او تصنیفاتو او تالیفاتو څخه گټه اخلی د کومو سره چی هغه عقیدت او مینه ولری . که څه هم د مرزاییت د تردید په هکله زیات شمیر علماو او مشایخوتصنیفات کړی ، چی په ځانگړی توگه د شیخ ثناالله امرتسری ، مولانا ارشاد الحق اثری ، مولانا محمد حنیف ندوی اوالشیخ صفی الرحمن مبارکفوری حفظهم الله تالیفات او رسایل د یادونی وړ دی.

خو دغربی هیوادونو څخه افغانی اوپاکستانی دوستانو زما څخه غوښتنه وکړه چی په دی مهمه مسله باندی ستا لیکنی (تصنیف ) ته سخته اړتیا ده . په دی خاطر ما د همدی مصنیفینو سره په صف کی د خپل ځان د ورگډولو له پاره، دا دخپل ځان له پاره سعادت او ستر جهاد و گاڼه.

الله تعالی دی مو نږ ته صحیح نیت او خپله رضا ( ابتغأ وجه الله ) را په برخه کړی او دغه رساله دی په خپله بارگاه کی قبوله کړی ، او همدا راز دی دغه رساله د ټولو مسلمانانو له پاره ددغی خطرناکی فتنی څخه د خوندی پاته کیدو ذریعه وگرزوی . و ماذالک علی الله بعزیز.

په دی رساله کی ۱۵ بابونه دی:

۱ -لمړۍ باب د نبوت دپای (دختم )د اثبات له پاره د (۳۰و) قرانی مبارک آیتونو څخه استدلال او دخاتم لغوی تحقیق او څیړنه.

۲ -دویم باب د نبوت دپایی ( دختم ) له پاره د(۱۹و) نبوی احادیثو څخه استدلال.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳ -دریم باب هغه مبارک آیتونه چې مرزاییان یې د دنبوت د اجرأ له پاره ترې په باطله توګه استدلال کوی، او دهغې ځوابونه:

۴ -څلورم باب دنبوت او رسالت تر مینځ لغوی او اصطلاحی توپیر ( چې په هغې کې د ظلي ،بروزی، او مجازی له پاره هیڅ ځای نشته )

۵ -پنځم باب د ختم نبوت په مسله کې د عیسی علیه السلام دنزول په هکله شکوک او د هغی له منځه وړل.

٦ -شپږم باب د عیسی علیه السلام د نزول په هلکه د مرزاییانو تحریف او د توفی د لفظ معنی.

۷ -اوم باب دمرزا غلام احمد د پیداکیدو او مړینی وخت ، او دهغې د ژوند حالات، چې دنبوت دصفت سره کاملا مخالف دی.

۸ -اتم باب دمرزا مختلفی ناروغتیاوی ، چې په مجموعی توګه ترې انبیا علیه السلام خوندی ساتل شوی دی.

۹ -نهم باب دمرزا مختلفی دعواوی ،دهغې منازل او عجایبات.

۱۰ -لسم باب د قراني آیتو له مخی د مرزا په کفر استدلال.

۱۱ -یولسم باب د جهاد څخه انکار کول ، د انګریزانو سره دوستی او دمسلمانانوسره د اړیکو شلول.

۱۲ -دولسم باب د مرزا ناوړه او دفسق نه ډک کارونه ، چې دنبی عصمت ترې په شرعی توګه ضروری دی.

۱۳ -دیارلسم باب د مرزا لیونتوب او پاګلتوب (معتوه کیدل)

۱۴۰ څوارلسم باب د مرزا وړاند وینی ، چې ټولی غلطی وختلی.

۱۵ -پنځلسم باب دمرزا اکاذیب ، مباهله او دمحکمی پریکړی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لمړی باب د نبوت د پایی ته درسیدو (د نبوت د ختم) د ثبوتولو لپاره د قرانی ایاتونو څخه استدلال:

## لمړی دلیل:

والذین یؤمنون بما انزل الیک و ما انزل من قبلک . (البقرة ۴)

ژباره : او هغه وګړو چې په هغه کتاب یی ایمان راوړی چې پر تا نازل شوی اوپه هغو چې له تا څخه مخته نازل شوی دی.

داستدلال کولو لار:

که چیری د محمد رسول الله څخه وروسته دکومی وحی د نازلیدو امکان وایی نو د متقینو(پرهیزګارانو ) لپاره به په هغوباندی هم د ایمان راوړل فرض ګرزیدل، نوحتما به یی دا ویلی و چې: و ما انزل من بعدک (او هغه څه چې له تا وروسته نازلیږی).

خو تر هغو چې په قران کریم کی دنازل شوو کتابونو او یا په رالیږل شوو رسولانو باندی ایمان راوړل فرض کړل شوی دی نو هلته په هیڅ کومه موضوع کی د ( وبعدک ) یادوونه نه ده شوی ، نو ددی څخه دا په ډاګه شوی چې د وحی د نزول پای ته رسیدل ( اختتام ) په محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم باندی شوی دی.

د یوه شک دله منځه وړل:

مرزاییان (احمدی ډله) وایی چې دمرزا د نبوت یادونه په (وبالاخرة هم یوقنون) کی راغلی ده . ځکه چې د( وبلاخرة) څخه ( د بالنبوة او الرسالة الاخرة ) مقصد دی.

ځواب :

لمړی خبره داده چې دا څرګنده او ښکاره ناپوهی ( اوجهل ) دی . ځکه چې د هر صفتی اسم (نوم ) له پاره، هلته چې موصوف محذوف وی نو د هغی له پاره د استعمال قرینه لازمه وی . خو په قران کریم ، احادیثو اود عربی لغاتو په هیڅ ځای کی د ( النبوة و الرسالة الاخرة) الفاظ نه دی استعمال شوی.

دویمه خبره داده چې :دا چې دغه آیت ، د دوه یا دری نورو ځایون څخه پرته ، پر نازل شویو کتابونو باندی د ایمان دراوړلو وروسته د (وبلاخرة ) د جملی یادونه نه ده شوی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دریمه خبره داده چی که چیری دلته د (بلاخرة ) څځه د ( نبوة) مقصد واخستل شی نو په آخرت (قیامت ) یاندی ایمان راوړل چی د تقوی (پرهیزگاری ) له پاره قطعی فرض دی ، یادونه به چیرته ولاړه شی.؟ نوددی څخه په ډاګه کیږی چی میرزایی ډله د اخرت نه هم منکر دی .

دویم دلیل:

یا ایهاالناس اعبدوا ربکم الذی خلقکم .....الایة. البقرة ۲۱

ژباړه: ای انسانانو، دخپل هغی پالونکی (رب ) بندگی وکړی چی تاسی یی پیدا کړی یاست.

د استدلال کولو لار:

دا وینا عامه او ټولو انسانانو ته شوی ده او په قرانکریم کی( ۱۹)ځایه راغلی ده. د (الناس ) په لفظ کی ټول انسانیت شامل دی او د قرانکریم د نزول څخه نیولی تر قیامته پوری په کی ټول انسانان رانغښتل شوی دی.

پوښتنه :

یوچاته د اواز کولو په وخت کی د هغه موجودیت ضروری دی نو د نه موجود (غایبو) وگړو له پاره دا اواز څنگه صحیح کیدای شی ؟

ځواب: د لغت پوهانو او مفسرینو دغه عمومیت ته دتنزیلی خطاب نوم ورکړی دی. (تنزیلا للمعدوم منزلة الموجود ) یعنی نشت ( معدوم) یی موجود فرض کړی او اواز یی ورته کړی . نو کله چی ددی خطاب ( اواز او وینا) په وړاندی ټول هغه انسانان چی تر قیامته پوری پیداکیږی مکلف شوی دی نو هغه ټول انسانان د محمد رسول الله صلی الله علیه و سلم امتیان او پیروان دی چی د قیامت تر ورځی پوری را پیدا کیږی . په دی اساس په دی دوران کی د بل کوم نبی د راتللو اړتیا نه پیدا کیږی.

دغه عمومی وینا ( خطاب ) لکه څنگه چی دبندگی د بلنی (توحید) سره یو ځای دلته راغلی ،نو په همدی توگه د محمد رسول الله صلی الله علیه و سلم د رسالت د عمومیت له پاره هم ده . لکه چی فرمایلی یی دی :[یا ایهاالناس قد جأکم الرسول بالحق من ربکم .....]( النسأ ۱۷۰)

ژباړه : بی له شکه ، تاسی ته ستاسی د پالونکی رب له لوری په حق سره رسول راغلی دی.

[قل یا ایهاالناس انی رسول الله الیکم جمیعا](اعراف۱۵۸)

ژباړه :ووایاست ، ای انسانانو ! زه تاسی ټولو ته د الله جل جلاله له اړخه رسول ( استازی ) یم.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



[قل یا ایها الناس انما انا لکم نذیر مبین. ] ( حج ۴۹)

ژباړه : ووایاست چی ای انسانانو! زه تاسی ته ښکاره ویرونکی یم.

د قرانکریم د عمومی نزول په هکله هم الله تعالی فرمایلی دی چی:

[یا ایهاالناس قد جأتکم موعظة من ربکم و شفأ لمافی الصدور ] ( یونس ۵۷)

ژباړه: ای انسانانو! تاسی ته ستاسی د رب له لوری پند او نصیحت راغلی ، او هغه د هغو ناروغیو لپاره ( چی په سینوکی دی) شفا ورکونکی دی.

[قل یا ایهاالناس قد جأتکم الحق من ربکم ] (یونس ۱۰۸)

ژباړه : ای انسانانو ! تاسی ته ستاسی د رب له لوری حق راغلی دی.

نو اوس ددی عامو خطابونو ( ویناو ) څخه ښه په ډاګه کیږی چی محمدرسول الله صلی الله علیه وسلم او قرانکریم د قیامت تر ورځی پوری د ټولو مکلفو انسانانو له پاره رالیږل شوی دی . په دی دوران کی د بل کوم نبی او یا کوم کتاب نوم نه دی راغلی او نه را تلای شي

دریم دلیل:

[قل ان کنتم تحبون الله فاتبعونی یحببکم الله و یغفرلکم ذنوبکم ](ال عمران )

ژباړه : ووایاست ! که چیری د الله جلا جلاله سره محبت کویۍ نوزما تابعداری وکړۍ ، الله تعالی به له تاسی سره محبت وکړی او ستاسی ګناهونه به درته و ښښی.

د استدلال کولو لار:

په دغه مبارک ایت کی د الله جل جلاله د محبت تر لاسه کول او د ګناهونو د ښښنی له پاره ځانګړی شر ط د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم تابعداری ښوول شوی ده. که چیری د هغه (ص) وروسته د بل کوم نبی د راتګ امکان موجود وایی نو ضرور به یی دهغی د تابعداری هم مشروط کړی وایی . لکه چی ددی حدیث څخه دا ثابتیږی چی که چیری فرض کړو چی کوم نبی ژوندی هم وای نو په هغه به هم د رسول الله (ص) تابعداری لازمه وای . حدیث دا ډول دی:

[عن جابر رضی الله عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم � الی ان قال: ولو کان موسی حیالما وسعة الا اتباعی](د بیهیقی او الدارمی د روایت له مخی ، په ښه سندونو سره )

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه : جابر رضی الله عنه څخه روایت دی چی نبی صلی الله علیه وسلم و فرمایل : که چیری فرض کړو چی موسی علیه السلام ژوندی وای نو هغه ته به هم زما له تابعداری پرته بله کومه لاره نه وایی (یعنی ضرور به یی زماتابعداری کړی وای.)

متوجه اوسئ چی مرزاییان (احمدی ډله) وایی چی په تفسیر ابن کثیر کی دا الفاظ راغلی دی:(لوکان موسی و عیسی حیین لما وسعهما الا اتباعی . ) یعنی که فرض کړو چی موسی او عیسی دواړه ژوندی هم وای نو هغوی به ضرور زما پیروی کړی وای .

ددی وینا څخه د هغوی موښی د عیسی علیه السلام د ژوندانه څخه منکریدل او دعیسی علیه السلام د مړینی ثابتول دی.

ځواب :

ابن کثیر دغه حدیث د (ال عمران او الکهف )د سورتونو په تفسیر کی بیان کړی دی . خو په دواړو ځایو کی دهغی سند نه دی ښوول شوی ، په داسی حال کی چی د سند پرته هیڅ حدیث د منلووړنه ګرځی .داسی بریښی چی دا الفاظ کوم باغی انسان دخپله ځآنه په تفسیر ابن کثیر کی ورننویستی وی ، ځکه چی د ابن کثیر (رح) عادت دی چی هیڅ حدیث د سند پرته نه بیانوی ، نو دا حدیث به یی د سند پرته ولی ذکر کړی وی ؟ دا په داسی حال کی دی چی ابن کثیر د عیسی علیه السلام د ژوند او د هغه د نزول په هکله (ال عمران) د سوری په تفسیر کی ډیر زیات مستند احادیث را وړی دی ، نو دهغوی ټولو په مقابل کی دداسی یوه بی سنده حدیث د راړلو معنی به څه وی ؟

څلورم دلیل:

لقد من الله علی المومنین اذبعث فیهم رسولا من انفسهم یتلوا علیهم ایاته و یزکیهم و یعلمهم الکتاب و الحکمة و ان کانوا من قبل لفی ضلال مبین ( ال عمران ١٦۴)

ژباړه : بی له شکه چی الله (ج) پر مسلمانانو احسان کړی چی د همغوی څخه یی هغوی ته رسول (استازی ) ورولیږه ، چی هغوی ته د هغی جل جلاله ایتونه لولی او او ورته اوروی یي ، او هغوی پاکوی او کتاب او حکمت ورزده کوی ، که څه هم ، پخوا له دی څخه ټول خلک په لار ورکیو کی پراته و.

د استدلاکولو لار:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دغه مبارکې ایت کې د(المومنین )څخه ټول د ایمان خاوندان ، د قران د نزول څخه تر قیامته پورې ، مراد دي . دلته د تخصیص او ځانګړتیاو له پاره کوم دلیل نه شته ، نو تر قیامته پورې ، دالله (ج) له اړخه دمحمدرسول الله صلی الله علیه وسلم بعثت په ټولو مؤمنینو باندې ډېر ستر احسان دی . نو که چیرې د هغې وروسته د بل کوم نبي د جوړیدو او راتللو امکان موجود وایې نو ددې احسان په کولو سره به الله (ج) د هغه نوم هم یاد کړی و . او یا به یې په ( المؤمنین ) کې د هغه تخصیص او تحدید کړی وای چې دا احسان د هغه فلانکي نبي تر راتګه پورې دی !

نو څرګنده شوه چې دمحمد رسول الله صلی الله علیه وسلم نه وروسته ، د میرزاغلام احمد د نبوت دعوا پر مؤمنینو باندې د الهي د احسان دله منځه وړل ، بلکه د ظلم او تیرې سره برابر ه ده .( فکلا و حاشا)

پنځم دلیل:

الیوم اکملت لکم دینکم و اتممت علیکم نعمتی و رضیت لکم الاسلام دینا ( المایده ۳)

ژباړه: نن مې تاسې ته ستاسې دین کامل (پوره ) کړ. او پر تاسې مې خپل انعام تکمیل کړ ، اوستاسې له پاره د اسلام پر دین باندې راضي شوم.

د استدلال کولو لار:

په دغه مبارک ایت کې الله تعالی ، محمدرسول الله صلی الله علیه وسلم او امت ، دواړه مخاطب کړي او فرمایلي یې دي چې ( نن د عرفې ورځ او دجمعې ورځ د هجرت لسم کال ) ماستاسې له پاره ستاسې دین پوره او تکمیل کړ او خپل نعمت مې هم پر تاسې تمام کړ او دغه د اسلام دین مې له تاسې له پاره غوره کړ.

د اتمام او اکمال تر مینځ توپیر دادی چې اکمال د ذواتو او د احکامو د اصولو له پاره استعمالیږي. او اتمام د صفاتو ، فروعو او د هغې دوضعې له پاره استعمالیږي . نو د اکمال سره یې ددین لفظ په دې خاطر راوړی دی چې ددین څخه مراد اصول دي او د اتمام سره یې د نعمت لفظ په دې خاطر په ځانګړې توګه یاد کړی دی چې د نعمت اطلاق په صفتونو ، کیفیتونو او دهغې په شکل او وضعې باندې کیږي.

زیبښه یې داشوه چې: محمدرسول الله (ص) ته ددین اصول په مکمله توګه او ددین فروع په پوره پوره ډول ورکړل شوي دي او دغه ټول د قرنکریم او احادیثو په بڼه کې موجود دي. نو د اکمال او اتمام نه وروسته ، د اسلام په دین

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کی د کوم زیادت او یاد کمښت د پیدا کیدو ځای نه شته ، او دا پریکړه تر قیامته پوری موجوده ده ، نو بیا د بل نبی د راتلو اړتیا له کومه را غله ؟

خو که چیری له دی وروسته هم، دا فرض کړو ، چی نبوت جاری دی نوبیابه د هغی نبی اونبوت ګټه څه وی ؟ پرته له دی چی هغه کوم حکم منسوخ کړی او یا دخپله ځانه کوم حکم ورزیات کړی ، چی په دی صورت کی ددی ایت څخه انکار کول لازمی ګرځی .

شپږم دلیل:

قد جأکم من الله نور و کتاب مبین . یهدی به الله من اتبع رضوانه سبل السلام و یخرجهم من الظلمات الی النور باذنه و یهدیهم الی صراط مستقیم ( المایده ١٦)

ژباړه : بی له شکه ، تاسی ته د الله (ج) له لوری نور او واضح کتاب راغلی ، چی ددی په واسطه الله (ج) هغوی ته ، چی د خپل رب د خوشحالۍ د ترلاسه کولو هڅی کوی ، د سلامتۍ لاری ور ښي، او دخپل توفیق په واسطه یی دتیارو څخه د رڼا لوری ته باسی او په نیغه لاره یی لارښوونه کوی.

د استدلال کولو لار:

په دغه مبارک ایت کی په څرګنده توګه ویلی چی رسول الله (ص) او قرانکریم همیشنۍ نور او لارښوونه ده ، چی په ذریعی یی منونکوته د سلامتۍ په لور د تلونکو لارو په لور لارښوونه کیږی . او د الله (ج) په اجازی سره د ټولو تیارو څخه د نور په لوری د نجات او خلاصون لاره ورته په ګوته کیږی . او د ( عقایدو له اړخه ) ورته په نیغه لاره د تللو لار ښوونه کیږی.

په رسول الله (ص) او قران کریم کی دغه صفات تر قیامته پوری موجود دی . نو بیا ددی وروسته کوم نبی او وحی ته څه اړتیا لیدل کیږی ؟ بلکه دداسی وګړی راتګ به ، چی دناممکناتوڅخه دی ، د نبی (ص) او قران کریم د نورانیت د صفت له پاره د خسوف او کسوف په څیر ګرځی چی په شرعی توګه یی هیڅ امکان نشته.

په دی ایت کی دری جملی راغلی دی او په هره جمله کی بیلی بیلی ګټې او موښی پرتی دی . په لمړۍ جمله کی د(سبل السلام) د لفظ څخه مراد شرعی اعمال او ددین ټول فروع او جزییات شامل دی نو په دی خاطر یی دلته د (سبل) لفظ جمع استعمال کړیده ( په قرانکریم کی چی په کومو ځایو کی هم د سبیل لفظ د مفرد په توګه یاد کړل شوی دی نو هلته یی مقصد اصول وی چی د ټولو انبیاؤ(ع) له پاره یو شان دی .) او په بله جمله کی یی د

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولو کفرياتو ،شرکياتو ، بدعاتو اوخرافاتو څخه د په څنګ کيدو يادونه شوی ده او دا ټول د (ظلماتو ) په لفظ کی را ټول شوی دی.

او په دريمه جمله کی ټول ايمانيات اوعقايد داخل دی چی پر هغوی ټولو د (صراط مستقيم ) لفظ په مفرده توګه دلالت کوی.

زيبنبه يی دا شوه چی د نبی (ص) او قرانکريم په واسطه دغه دری واړه ګټی تر لاسه کيدای شی او دا د مکمل دين څخه عبارت دی. نوبيا ايا د قرانکريم او نبی (ص) څخه وروسته تر قيامته پوری بلی وحی ته او يا د وحی خاوندته د راتلو اړتيا شته ؟

اووم دليل:

يا اهل الکتاب قد جأکم رسولنا يبين لکم علی فترة من الرسل ان تقولو ا ما جآ نا من بشير ولانذير فقد جآأکم بشير و نذير والله علی کل شی قدير ( المايده ١٩)

ژباړه: ای د کتاب خاوندانو !په يقين سره چی زمونږ رسول تاسی ته د رسولانو د يو څه ځنډ وروسته در ورسيد، چی تاسی ته په ډاګه او څرګنده توګه (زما آيتونه )بيانوی تر څو ستاسی له پاره دا خبره (عذر) ونه ګرځی چی مونږ ته کوم دنيکۍ اويا بدۍ څخه د خبرونی له پاره څوک نه و راغلی . نو اوس په يقين سره تاسی ته زيری درکونکی او پوهه ونکی در ورسيد او الله تعالی په هر څه باندی قادر دی.

داستدلال کولو لار:

ددی مبارک ايت مضمون او مفهوم دادی چی دکتاب پر خاوندانو د حجت د جوړولو په خاطر يواځی د محمدرسول الله (ص) په مبعوث کيدو او استازی توب باندی بسنه شوی ده . او د هغی (ص) د استازيتوب او بعثت په واسطه پر هغوی باندی حجت پوره کړای شوی دی . په دی اساس د هغه (ص) نه وروسته کوم وګړی ته(که هغه مرزايی وی او که بل څوک) دا موقع او فرصت نه دی ورکړل شوی چی هغه د خپل کاذب (درواغجن ) نبوت په واسطه پر اهل کتابو حجت قايم کړی.

اتم دليل:

وانزلنا اليک الکتاب بالحق مصدقا لما بين يديه و مهيمنا عليه فاحکم بينهم بما انزالله ....الاية(المائده ۴۸)

ژباړه : او مونږ پر تاباندی د حق سره دا کتاب رانازل کړی دی، چی د خپله ځانه مخته (زمونږ له اړخه )د راغليو کتابونو تصديق کوی او دهغوی ساتونکی دی ، نو دهغوی تر مينځ د الله (ج) د راليږل شوی کتاب په اساس پريکړی کوه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د استدلال کولو لار:

الله تعالی په (تیرو شوو ایتونو کی ) دتورات او انجیل کی د یادوولو وروسته ، اوس دلته د قرانکریم د نازلیدو یادونه کړی ده او دهغی سره یو ځای یی رسول الله (ص) ته حکم کړی چی د ټولو وګړو (کتابی او غیر کتابی ) تر مینځ د همدی کتاب (قران کریم ) له مخی پریکړی کوه . همدا راز دډیرو قطعی نصوصو څخه په ډاګه او ثابته دی چی د قرانکریم پریکړی به تر قیامته پوری جاری وی . او د ( بینهم ) لفظ هم په عمومی توګه تر قیامته پوری ټول مکلفین په خپلی غیږ کی را اخلی . نو اوس کوم بل چاته ددی اجازه نشته چی د قرانی پریکړو وروسته ، خپلو احکاماتو ته د وحی د رنګ په ورکولو سره، هغه جاری کړی.

نهم دلیل:

یا ایها الرسول بلغ ما انزل الیک من ربک و ان لم تفعل فما بلغت رسالته( المائده٦٦)

ژباړه : ای رسوله ! هر هغه څه چی تاته ستاد رب دلوری په تا نازل شوی دی خلکوته ورسوه ، خو که چیری تا داسی ونکړل نو تا د الله تعالی پیغام نه دی رسولی.

د استدلال کولو لار:

په دی مبارک ایت کی محمدرسول الله صلی الله علیه و سلم ته ویل شوی دی چی قرانکریم په داسی امانتداری او مسؤلیت سره (خلکو) ته ورسوه چی یوه کلیمه او یو حرف یی هم (خلکو ) ته د ور رسیدو پرته پاته نشی .( اومونږ په دی ایمان لرو چی نبی (ص) (انسانیت ته ) قرانکریم په پوره اومکمله توګه ور رسولی دی ) نو اوس مونږ د ختم نبوت دمنکرینو څخه پوښتو چی نبی صلی الله علیه وسلم په کوم یوه آیت او کوم یوه حدیث کی د مرزا غلام احمد نوم او یا د هغه د نبوت یادونه کړی ده ؟ (کلا و حاشا)

او د (مبشراٌبرسول یأتی من بعدی اسمه احمد) څخه چی قادیانیان کوم استدلال کوی نو دهغی ځواب به انشاالله تعالی په خپل باب کی راشی.

لسم دلیل:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



و اوحی الیْ هذا القرآن لا نذرکم به و من بلغ ( انعام ١٩)

ژباړه : او ماته دا قران د وحی په ډول را لیږل شوی دی چی زه دهمدی (قران ) په ذریعه تاسی وویروم ، او هغوی(هم ) چی دغه قران ورته ورسیږی .

داستدلال کولو لار:

په دغه مبارک ایت کی ( ومن بلغ) په (کم) باندی معطوف دی یعنی د قران د نازلیدو د وخت ، د هغی د مخاطبینو له پاره، محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم د ویرونکی (نذیز ) په توگه مبعوث شوی دی نو کومو خلکو ته چی تر قیامته پوری دا قران ور رسیږی نو د هغوی نذیر(ویرونکی ) هم همدا محمد صلی الله علیه وسلم دی نو په مینځ کی بل کوم نذیر (نبی) ته له کومه اړتیا را پیدا شوه ؟

یولسم دلیل:

اولـــــک الذین هدی الله فبهدا هم اقتده قل لا اسُلکم علیه اجرا ان هوا الا ذکری للعالمین ( انعام ٩٠)

ژباړه : همدا خلک داسی و چی الله تعالی ورته لارښوونه کړی وه . ته هم د همغوی په لار ولاړ شه ، تاسی ووایاست، چی زه له تاسی څخه په دی کومه معاوضه نه غواړم ، دا خو یواځی د ټولو جهانیانو له پاره یو نصیحت او پند دی.

د استدلال کولو لار:

ددی مبارک ایت مفهوم دا دی چی زمونږ نبی صلی الله علیه وسلم ته حکم شوی و چی دپخوانیو، تیرو شوو، او په ځانگړی توگه د یاد کړل شوو انبیا(ع)اقتدا کوه، او هغه صلی الله علیه وسلم ضرور د هغوی اقتدا کړی ده نو زمونږ نبی صلی الله علیه وسلم د رسالت او نبوت د ټولو کمالاتو مجموعه ده نو د هغی صلی الله علیه وسلم نه وروسته د بل ناقص الصفات نبی جوړښت ته اړتیا له کومه را پیدا شوه ؟

په همدی توگه په دی ایت کی قران کریم ته (ذکری للعالمین ) ویل شوی دی او عالمین هغه خلک دی چی تر قیامته به راځی ، نو د قران په څیر د یوه مکمل کتاب نه وروسته د بل نبی د راتگ له پاره اړتیا څه ده ؟

دولسم دلیل:

و تمت کلمة ربک صدقا و عدلا لا مبدل لکلماته و هو السمیع العلیم ( انعام ١١٥)

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه : ستا د پروردګار ( رب ) کلام د ریښتونولۍ او انصاف له اړخه کامل دی . ددی کلام کوم بدلونکی نه شته او هغه ذات (ج) ښه اوریدونکی او پوهیدونکی دی.

د استدلال کولو لار:

قرانکریم د ریښتونولۍ او عدالت ، او د نه بدلون له اړخه په پوره توګه کامل او بی نمونی کتاب دی . او دغه صفات به په دی کتاب کی تر قیامته پوری موجود وی . نو ددی په موجودیت کی د بلی کومی وحی او نبوت اړتیا نه احساسیږی . او په ځانګړی توګه د (مرزاییانو) دغه ددرواغو نبوت چی د قرانکریم د ځینو احکامو د منسوخولو هم مدعی دی .دداسی وګړی په درواغجنوالی او دجالیتو ب کی هیڅ شک نه شته.

دیارلسم دلیل:

الذین یتبعون الرسول النبی الامی الذی یجدونه مکتوبا عندهم بی الوراة و الانجیل یأمرهم بالمعروف و ینهاهم عن المنکر ......الایة ( اعراف ۱۵۷)

ژباړه :کوم خلک چی دداسی رسول او امی نبی تابعداری کوی کوم چی دا خلک دخپلو ځانو سره په توات او انجیل کی لیکلی مومی ، او هغوی ته په نیکو کارونو (خبرو) حکم کوی او د بدوکارونو( خبرو) څخه یی منه کوی.

داستدلال کولو لار:

د آیت د سیاق څخه په ډاګه کیږی چی د الله جل جلا له د عذاب څخه د خوندی پاته کیدو له پاره څلور شرایط اینښوول شوی دی . (تقوی )، ( د زکوة ورکړه )، ( په آیتونو ایمان درلودل )، او (د اخری رسول [محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم] اتباع کول ) . او د آیت په اخر کی فرمایلی دی چی په رسول (ص) باندی ایمان او د هغه (ص) بسپنه (نصرت ) او د قرانکریم تابعداری کول د بریالیتوب وسایل دی او دا حکم تر قیامته پوری جاری دی.

که چیری د هغه (ص) نه وروسته په شرعی توګه د کوم رسول د راتللو امکان موجود وای نو دهغی تابعداری او پر هغی باندی د ایمان را وړلو شرط به ضرور اینښوول شوی و . خو کله چی داسی کوم شرط د سره موجود نه دی نو ددی څخه دا په ډاګه شوه چی د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم نه وروسته د نبوت دهیڅ یودعوا لرونکی خرافات به و نه منل شی.

څلوارلسم دلیل:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لقد جأتکم رسول من انفسکم عزیز علیه ما عنتم حریص علیکم بالمومنین روف رحیم .......(التوبه ۱۲۸)

ژباړه : په یقین سره تاسی ته داسی یو پیغمبر تشریف را وړی چی همستاسی له جنسه دی . چاته چی ستاسی د زیانمنې خبره ډیره درنده تمامیږی ، هغه ستاسی د ګټو او خیر ډیر ،ډیر غوښتونکی دی ، د ایمان پر خاوندانو ډیر مهربانه او شفیق دی .

داستدلال کولو لار:

په دی مبارک آیت کی دی امت ته په عامه توګه خطا ب کیږی چی حکم یی تر قیامته پوری جاری دی او یاد کړل شوی صفات یواځی محمدرسول الله (ص) ته ځانګړی شوی دی نو څرګنده شوه چی د هغه صلی الله علیه وسلم نه وروسته د نبوت د اجرا هیڅ اړتیا نشته او نه داسی صفات محمدرسول الله صلی الله علیه وسلم نه وروسته په بل کوم وګړی کی پیدا کیدای شی.

پنځلسم دلیل:

وما ارسلنا من قبلک الا رجالا نوحی الیهم من اهل القری ......( یوسف ۱۰۹)

ژباړه : ستا څخه دمخه چی مونږ د کلیو خاوندانو ته څومره استازی استولی و ، هغوی ټول نارینه و.

د استدلال کولو لار:

په دی مبارک آیت کی د الهی د قانون یادونه شوی ده اوهغه دا چی دالله (ج) استازی تل نارینه وی او دهمدی قانون لاندی یواځی (من قبلک [ستا څخه دمخه ])یادونه شوی ده نو که چیری دغه (مرزا ) استازی وایی نو په دی قانون کی دداخلیدو له پاره د (من بعدک ) لفظ زیاتول په کار و . نو ددی نه په ډاګه شوه چی رسالت په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندی پای ته رسیدلی دی.

شپاړسم دلیل:

کذلک ارسلناک فی امة قد خلت من قبلها امم لتتلو علیهم الذی اوحینا الیک. ( رعد ۳۰)

ژباړه : په دی توګه مونږ ، ته ، هغه امت ته لیږلی یی چی تر هغوی د مخه ډیر امتونه تیر شوی دی ، تر څو ته هغوی ته ، هغه وحی چی زمونږ له اړخه تاته درغلی ، واوروی.

د استدلال کولو لار:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دی مبارک آیت کی په داسی یوه قوم کی د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مبعوث کیدو یادونه شوی ده چی صفت یی دادی ( قد خلت من قبلها امم) . نو که چیری ددی امت نه وروسته بل کوم امت ( مرزایی ډله) د الله تعالی په وړاندی په حق او هدایت سره وایی . نو حتمابه یی ویلی وای چی (وتاتی من بعد ها امة). خو داسی هیڅکله هم نه دی ویل شوی . نو ددی څخه دا څرګنده شوه چی همدغه امت تر ټولو اخری امت او تر ټولو غوره او افضل امت دی . که چیری میرزاییان کومه ډله وی نو هغوی به د لار ورکۍ او ګمراهۍ ډله وی او دهغی استازی به هم درواغجن او دجالان وی.

اولسم دلیل:

انا نحن نزلنا الذکر و انا له لحفظون . ( الحجرات ۹)

ژباړه : مونږ پخپله دغه قران نازل کړی او مونږ پخپله ددی ساتونکی یو.

د استدلال کولو لار:

په دغه مبارک ایت کی ، الله تعالی د قران د همیشنی ساتنی او خوندیتوب وعده کړی ده ، او دغه قران به د خپل حقانیت او ریښتونولۍ سره تر قیامته پوری خوندی وی او ښکاره ده چی قران زمونږ د نبی صلی الله علیه وسلم د رسالت ( استازیتوب ) کتاب دی . نو څرګنده شوه چی د نبی صلی الله علیه وسلم رسالت تر قیامته پوری جاری دی ، په دی اساس په دی دوران کی د بل چا د رسالت او استازی کیدو له پاره ځای نه پیدا کیږی.

اتلسم دلیل:

وما ارسلناک الا رحمة للعالمین ( انبیا ۱۹۷)

ژباړه : او مونږه ، ته، د ټولو نړیوالو له پاره رحمت جوړ او استولی یی.

د استدلال کولو لار:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله تعالی په ډاګه فرمایلی دی چی یواځی رسول الله صلی الله علیه وسلم د عالمیانو رحمت دی ، او د عالمیانو د کلیمی اطلاق تر قیامته پوری په ټول عالم کیږی . د مرزاییانو د نبوت مفروضه که چیری رحمت وی نو د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم د عالمیانو د رحمت (رحمت للعالمین ) په صفت کی درز را پیدا کیږی چی په ډاګه کفر دی . نو څرګنده شوه چی د مرزا (درواغجنه ) دعوه پر هغه د لعنت سبب ګرځی او سوچه دجل او غولونه ده .

نولسم دلیل:

تبارک الذی نزل الفرقان علی عبده لیکون للعالمین نذیرا (فرقان ۱)

ژباړه : د ډیر زیات برکت خاوند دی هغه الله تعالی ، چی پر خپل بنده یی فرقان (بیلونکی د حق او باطل ) را نازل کړ ، تر څو هغه د خلکو لپاره خبرونکی او پوهونکی (ویرونکی ) و ګرځی.

د استدالال کولو لار:

د ( لیکون ) په ضمیر کی دوه احتمالات شته . (۱) بنده(عبد) ته راجع دی یا (۲) فرقان ته . دغه دواړه احتمالات صحیح دی او یو مقصد ثابتوی. او په (العالمین ) کی ټول انسانان او پیریان تر قیامته پوری داخل دی.

زبیښه یی داشوه چی تر قیامته پوری دټولو انسانانو او پیریانو له پاره یواځی یو نذیر ( پوهونکی او ویرونکی ) شته او هغه محمدرسول الله صلی الله علیه وسلم او پر هغی باندی نازل کړل شوی قران کریم دی . نو دهغی (ص) د نبوت نه وروسته د بل کوم نبوت او کتاب له پاره کوم ځای خالی نه دی پاته.

شلم دلیل:

لقد کان لکم فی رسول الله اسوة حسنة لمن کان یرجو ا الله و الیوم الاخر و ذکرالله کثیرا. ( احزاب ۲۱)

ژباړه : یقینا ستاسی له پاره په رسول الله صلی الله علیه وسلم کی ډیره ستره نمونه موجوده ده . د هر هغه چا له پاره چی د الله تعالی ( تر مخ د حاضریدو ) او د قیامت د ورځی(دحساب او کتاب دورکولو) امید لری او د الله تعالی جل جلاله ډیر زیاته یادونه کوی .

داستدلال کولو لار:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دی مبارک آیت کی دمحمدرسول الله صلی الله علیه وسلم د مکملی اقتدأ له پاره لس تاکیدات یاد کړل شوی دی . لکه چی مفسرینو لکلی دی : په دی کی دځانګړی خطاب (لکم ) څخه وروسته عمومی خطاب له پاره د (لمن کان یرجوا الله ) یادونه شوی ده. تر څو د آیت خطاب تر قیامته پوری ټول مسلمانان (داسلام منونکی ) را ونغاړی . که چیری په دی مینځ کی د بل کوم نبی (مدعی ) بعثت حق وای ، نو الله تعالی به خامخا دهغی اقتدآ هم ضروری ګرځولی وای. نو څرګنده شوه چی تر قیامته پوری د اسلام په منونکو باندی دمحمدرسول الله صلی الله علیه وسلم او دهغی اقتدآ فرض کړل شوی او دا دنبوت د پایی (ختم نبوت ) له پاره غوڅ دلیل دی.

یوشتم دلیل:

ما کان محمد ابا احدا من رجالکم و لکن رسول الله و خاتم النبیین و کان الله بکل شئْ علیما (احزاب ۴۰)

ژباړه : ستاسی د نارینه و څخه ،محمدصلی الله علیه وسلم ، د هیڅ یوه پلار نه دی ، لیکن هغه د الله تعالی استازی (رسول ) دی او د ټولو نبیانو د لړۍ پای ته رسونکی (خاتم) دی او الله تعالی په هر څه باندی ښه پوه او عالم دی.

د استدلال کولو لار:

دغه مبارک ایت ددوو اړخونو څخه د نبوت د پایی ته رسیدو (ختم نبوت ) له پاره غوڅ دلیل دی.

لمړي وجه یی د مبارک آیت سیاق دی : ددی تفصیل دا ډول دی ، چی په تیر مبارک آیت کی د هغو خلکو تردید شوی دی چی وایی زید بن حارثه د نبی صلی الله علیه وسلم زوی دی او زینب رضی الله عنها د هغه (ص) نګور(دزوی ښځه ) ده ، نو په دی اساس د هغی سره د نبی صلی الله علیه وسلم نکاح جایزه نه ده . نو الله تعالی دغه مبارک آیت د هغوی په ځواب کی راولیږه . لمړۍ جمله داسی ده چی محمد صلی الله علیه وسلم د کوم بالغ نارینه پلار نه دی او (زید خو بالغ نارینه دی ). نو اوس دا پو ښتنه را پیدا کیږی چی د زینب رضی الله عنها سره یی نکاح ته ضرورت څه و؟

ځواب: په دویمه جمله کی د( و لکن رسول الله ) الفاظ راغلی دی ، څرنګه چی هغه صلی الله علیه وسلم د الله رسول دی او پر هغی صلی الله علیه وسلم د جاهلیت ټول رسوم او ناروا امور له منځه وړل لازم و، نو په دی خاطر رسول الله صلی الله علیه وسلم د زینب رضی الله عنها سره د نکاح په کولو سره په عملی توګه د جاهلیت دغه غلط رسوم او عنعنات بیخی له منځه یوړل دکوم په بنسټ چی د متبنی (ورته ویل شوی زوی ) د ښځی سره نکاح کول ناروا تصور کیدل.

اوس دا پو ښتنه راپیدا شوه چی دا پیغام به د هغه وروسته بل کوم نبی ( خلکوته ) ور رسولی و؟

ځواب یی( و خاتم النبیین )دی . یعنی د هغی صلی الله علیه وسلم څخه وروسته بل کوم نبی نه راځی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا پوښتنه را پیدا شوه چی ، چاته دا معلومه شوه چی تر هغی صلی الله علیه وسلم وروسته بل کوم نبی نه راځی ؟

ځواب یی د ( و کان الله بکل شیْ علیما ) الفاظو کی راغلی دی . یعنی په هر څه پوهیدونکی اوپه هر څه عالم ، الله تعالی ، پیغام را لیږلی چی هغه صلی الله علیه وسلم (خاتم النبیین ) د انبیاوو دلړۍ پای ته رسونکی دی.

ددی آیت دسیاق څخه دا بلکل واضحه او څرګنده شوه چی د خاتم النبیین څخه مقصد دادی چی هغه صلی الله علیه وسلم اخری نبی دی او پر همغی صلی الله علیه وسلم باندی دنبوت لړۍ پای ته رسیدلی ده ( خاتم النبیین دی)

بله وجه یی داده چی د (خاتم) لفظ داخر راتلونکی له پاره غوڅ لفظ دی.

دخاتم دلفظ لغوی څیړنه:

دا ماده د( خ ،ت ، م )، په قرانکریم کی اته ځله په مختلفو صیغو سره راغلی . ختم ، یختم ،خاتم ، ختامه ، مختوم .

په عربی لغاتو کی دغه ماده ، یو شی اخر ته در سولو له پاره استعمالیږی . لکه: دکتاب ختمول ،(خاتم الکتاب )یعنی کتاب یی تر اخره پور و لوست ، د قران ختمول ( ختم القران ) یعنی قران یی تر اخره پوری ورساوه.

قال ابن منظور:و ختم فلان القرآن اذا قرأه الی اخره ( ابن سیدة) الشیْ یختمه ختماْبلغه اخره . و ختم الله له بخیر. وخاتم کل شیْ و خاتمته و عاقبته و آخره و خاتمة السورة آخره . و فی التنزیل : ختامه مسک ، أی آخره لان آخر ما یجحدون رأیحة المسک.

ژباړه : ابن منظور لغوی ویلی دی چی هغه فلانکی سړی قرآن ختم کړ- په داسی حال کی چی تر اخره پوری یی لوستلی و . د ختم معنی تر اخره پوری رسول دی لکه د خاتمی د خیر لفظ. او خاتم د هر شی د آخر او عاقبت نوم دی ، خاتمة السورة څخه مقصد د هغی اخر دی ، او په قران کی دی چی (ختامه مسک)، اخر د هغی مشک خوشبویه شول. (لسان العرب ،حرف : خ )

قانون دادی چی کله چی یو څیز اخر ته رسیږی نو پر هغی مهر لګیږی دا دختم لازمی مجازی معنی ده نو د ختم معنی مهر لګول دی لکه څرنګه چی په قرانکریم کی راغلی دی :[یسقون من رحیق مختوم ] یعنی خالصه څکونکی (شراب ) به په داسی جامونو کی وی چی مهر به پری لګیدلی وی . نو په دی اساس ابن منظور ویلی دی:

قال ابو اسحق: معنی ختم و طبع فی اللغة واحد و هو التغطیة علی الشیْ و خاتم ما یو ضع علی الطینة و الختام الطین الذی یختم به علی الکتاب . ( لسان المیزان ج ۲۴/۴)

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه : ابو اسحاق ویلی چی ختم او طبع یو شی دی او هغه یو شی په پرده کی پټوی ، په کیڅږ مهر لګول چی دهغی نوم خاتم( مهر ) دی ( لسان المیزان ).

بیا چی کله په کوم شی مهر و لګیږی نو بیا دهغی سره د منعی معنی لازمی ګرزی . نو په زړونو باندی د مهر د لګولو مقصد دادی چی په هغی کی د حق د خبری ورننوتل ممنوع ګرزیدلی دی . لکه چی په یوه مکتوب مهر ولګول شی نو د هغی مقصد دادی چی پر هغی د مهر د لګولو وروسته په هغی کی نور کوم شی ور داخلیدای نشی، یعنی خبره تر اخره پوری رسیدلی ده.

زبیښه داشوه چی د ختم معنا یو شی تر اخره پوری رسول دی ، بیا د هغی سره لمړی مهر لګول لازمی شول او بل منعه کول ورسره لازمی وګرزیدل . ابن منظور لیکی چی:

و فی التنزیل العزیز: و لکن رسول الله و خاتم النبیین : أی آخرهم و من اسمأـه العاقب معناه اخر الانبیأ(ج:۲۵/۴ لسان العرب)

ژباړه : په قران کی راغلی ( خاتم النبیین )، یعنی د هغوی آخر ، او د نبی صلی الله علیه وسلم په نومونو کی د (العاقب ) نوم هم دی چی معنی یی (آخر الانبیأ) دنبیانو اخر نبی دی.

همدا راز د(مبرد) وینا ده چی ( خاتم النبیین ) د ماضی د فعل صیغه ده نو معنی یی داده چی هغی صلی الله علیه وسلم د آنبیأو لړی پای ته ورسوله.

نو د مرزا غلام احمد دا وینا چی د خاتم معنی مهر دی او بیا د مهر څخه تصدیق مراد اخستل کیږی ، دا تأویل نه دی بلکه تحریف دی ، څکه چی د سول الله صلی الله علیه وسلم له پاره د مصدق (ریښتونوالی ) صفت قرانکریم ذکر کړی دی . په هر ځای کی یی (لمابین یدیه )یادونه کړی ده . یعنی هغه صلی الله علیه وسلم د پخوانیو ( تیروشوو ) تصدیق کونکی دی. په هیڅ آیت کی یی داسی نه دی فرمایلی چی د وروسته راتلونکو تصدیق کوی. او په دی خبره ښه پوهیدل په کار دی که چیری خاتم د مهر په معنی واخستل شی نو مهر تل د خط په پای او اخر کی لګیږی ، نه په مینځ کی ، نو هیڅکله هم داسی نه کیږی چی الله تعالی د انبیأو په رالیږلو مهر لګولی او دهغی وروسته بیا هم کوم نبی یا رسول مبعوث کړی.

د خاتم لفظ دهره اړخه ، راتلونکی او د نورو منعه کونکی له پاره دحقیقی معنی په توګه استعمالیږی او دا لفظ د نبوت د دپای ته د رسیدو (ختم ) په لړی کی غوڅ او قاطع لفظ دی . او قانون دادی چی په قطعیاتو کی تاویل کول د تحریف مترادف دی او مرزا د همدغی تحریف مرتکب شوی دی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنبوت د امکان په هکله که د ابن حجر هیثمی څخه په حدیثیه فتاوی کی څه رانقل شوی نو پر هغی باندی آلوسی مفسر په تفصیل سره رد کړی دی او د غزالی په کتاب الاقتصاد کی چی کوم څه را نقل شوی دی هغه قرطبی مفسر په پوره تفصیل سره مسترد کړی دی.

دوویشتم دلیل:

ان الله و ملائکته یصلون علی النبی یا ایهاالذین آمنوا صلوا علیه وسلمو ا تسلیما (احزاب ٥٦)

ژباړه : الله تعالی او دهغی ملایکی پر دغه نبی صلی الله علیه وسلم باندی رحمتونه لیږی � ای د ایمان خاوندانو ! تاسی هم پر هغی صلی الله علیه وسلم باندی دورود و لیږی اوښه سلام پری د تل له پاره لیږی .

د استدلال کولو لار:

په دی مبارک آیت کی زمونږ د نبی صلی الله علیه وسلم دستر مقام او لوړی مرتبې یادونه شوی ده ، او هغه دا چی الله تعالی او دهغی فرشتی په سیدنا نبی صلی الله علیه وسلم باندی هر وخت صلوة (رحمت ) لیږی نو ای د ایمان خاوندانو ! پرتاسی د قیامت تر ورځی پوری فرض دی چی تاسی پر هغی باندی دورود او سلام ورلیږی. نوځرګنده شوه چی د هغی صلی الله علیه وسلم دنبوت دغه شان به تر قیامته پوری جاری وی . نو په دی اساس دهغی صلی الله علیه وسلم څخه وروسته دبل کوم د نبوت د دعوه کونکی راتګ ممکن نه دی.

درویشتم دلیل:

وما ارسلناک الا کافة للناس بشیراْ و نذیرا ولکن اکثر الناس لایعلمون (سبا٢٨)

ژباړه : مونږه ، ته ، ټولو انسانانو ته زیری ورکونکی او ویرونکی وراستولی یی، خو زیا ت خلک پری نه پوهیږی.

داستدلال کولو لار:

د (کافة) معنی ( جمیعاْ) ټول دی او د (الناس ) دلفظ حال هم همداسی دی. دا په نحوی توګه بلکل روا دی لکه چی ابو حیان او نورو مفسیرینو ددی آیت د تحقیق اوڅیړنی لاندی لیکلی دی:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو مقصد دادی چی تر قیامته پوری د پیدا کیدونکو ټولو انسانانو له پاره زمونږ نبی صلی الله علیه وسلم رسول دی او په حدیث کی هم ( ارسلت الی الناس کافة) ویل شوی دی . نو ددی امت له پاره زمونږ د نبی صلی الله علیه وسلم نه وروسته د بل کوم دعوه کونکی له پاره هیڅ ډول اړتیا نه لیدل کیږی.

څلریشتم دلیل:

انا ارسلناک بشیرا و نذیزا و ان من امة الا خلافیها نذیز ( فاطر ۲۴)

ژباړه : مونږ پخپله ، همتاته حق درکړ اوزیری ورکونکی او ویرونکی (پوهه ونکی ) مو و استولی ، اوهیڅ داسی امت(ډله) نشته چی کوم ویرونکی ( د الهی د غذاب څخه ) ورته نه وی ور استول شوی.

داستدلال کولو لار:

ددی مبارک آیت په لمړی جمله کی زمونږ د نبی صلی الله علیه وسلم درسالت او استازیتوب یادونه شوی ده ، او د هغی صلی الله علیه وسلم درسالت سره یو ځای یی د کوم ځانګړی امت او وخت (مدت ) قید نه دی لګولی . په بله جمله کی د تیرو شوو انبیأو علیه السلام اوامتونو یادونه شوی ده . که چیری د خاتم النبیین صلی الله علیه وسلم نه وروسته کوم استازی په کوم امت کی راتلونکی وایی نو قران به خامخا د هغی یادونه کړی وای. نو په ډاګه شوه چی زمونږ نبی صلی الله علیه وسلم د الله تعالی اخری نبی دی او همدا صلی الله علیه وسلم دامت اخری استازی اورسول دی.

پنځه ویشتم دلیل:

و انه لکتاب عزیز لا یاتیه الباطل من بین یدیه و لا من خلفه ( فصلت ۴۱-۴۲)

ژباړه : دا د ډیر وقعت کتاب دی ، چی باطل ورته ،نه د مخی څخه او نه د شا څخه ، یعنی د هیڅ اړخ څخه نه شی را تلای.

داستدلال کولو لار:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د (الباطل ) معنی د قران کریم څخه مخالف او منسوخ کونکی . یعنی نه په تیرو شوو کتابونو کی کوم داسی کتاب شته او نه په راتلونکی کی داسی کوم کتاب نازلیدای شی چی د قرانکریم دکومی خبری پرخلاف راشی ،هغه درواغ اویایی منسوخ کړی.

ددی پر خلاف مرزا غلام احمد دعوه کوی چی زه په دی خاطر مبعوث شوی یم چی د قرانکریم څخه د جهاد مسله منسوخ کرم.( دهغی د عقایدو په بیانولو کی به دا حواله انشأالله را شی )

الله تعالی په دی آیت کی واضحه کړی چی د قرانکریم هیڅ یوه خبره وروسته یوڅوک یا وحی نشی منسوخولای.

شپږویشتم دلیل:

هو الذی بعث فی الامیین رسولا منهم .....الایة.. ثم قال : و اخرین منهم لمایلحقوا بهم و هو العزیز الحکیم ( جمعه ۳۲)

ژباړه : هماغه ذات دی چی په نالوستی خلکو کی یی، د هم هغوی څخه یو کس د استازی (رسول ) په حیث ور واستاوه. (بیافرمایی ) او دهغوی څخه علاوه د نورو له پاره هم ، چی تر اوسه دهغوی سره نه دی مخ شوی . اوهماغه غالب او د حکمت خاوند دی.

د استدلال کولو لار:

د(اخرین ) لفظ په ( الامیین ) باندی معطوف دی، د (آخرین ) د لفظ په هکله د مفسیرینو دوه ډوله ویناوی راغلی دی.

۱)(تابیعین او د تابیعینو تابیعین (تبع تابعین) تر قیامته پوری.

۲) (عجمی ( غیر عرب ) خلک.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هری وینا له مخی زمونږ نبی صلی الله علیه وسلم ته د ټولو له پاره بعثت ثابت دی . د هغی صلی الله علیه وسلم بعثت تر قیامته پوری دی د هغی صلی الله علیه وسلم پیروی د عربو څخه علاوه پر ټولو عجمی وګړو لازمه او دهغوی له پاره کافی ده . د هغی صلی الله علیه وسلم وروسته په عربو او یا عجمو کی د هیچا د مبعوث کیدو له پاره ځای نشته.

اوه ویشتم دلیل:

اولم یکفهم انا انزلنا علیک الکتاب یتلی علیهم ان فی ذلک لرحمة د ذکری لقوم یوْمنون. ( عنکبوت ۵۱)

ژباړه : ایا د هغوی له پاره دا بسنه نه کوی چی مونږ پر تا باندی کتاب نازل کړ، چی هغوی ته لوستل کیږی . په هغی کی رحمت دی ، اونصیحت دی د هغه خلکو له پاره چی د ایمان خاوندان دی.

داستدلال کولو لار:

په دی مبارک آیت کی په ډاګه ویل شوی دی چی قرانکریم رحمت ، ذکر او اعجاز له لوری کافی کتاب دی ، په ځانګړی توګه د ایمان دخاوندانو له پاره. او دا بسنه(کفایت ) به تر قیامته پوری جاری وی نو ددی کتاب وروسته ، دهیڅ ډول وحی (که درسالت وی او که دنبوت ، حقیقی وی او یاظلی اوښکاره وی ) ، اړتیا نشته. هر هغه څوک چی دقرانکریم د نزول نه وروسته د کومی وحی انتظار کوی او یایی دعوه کوی نو په حقیقت کی دغه شخص د قرانکریم ددی صفت څخه منکر دی.

اته ویشتم دلیل:

ومن اظلم ممن افتری علی الله کذبا او قال اوحی الی و لم یوح الیه شیْ اوقال سانزل مثل ما انزل الله .........ولو تری اذ الظالمون فی غمرات الموت........الایة (انعام ۹۳)

ژباړه : او دهغی وګړی څخه به ډیر تیری کونکی (ظالم) څوک وی چی پر الله تعالی باندی درواغ و تړی او یا ووایی چی ماته وحی راځی ، حال دا چی هغه ته د هیڅ خبری وحی نه ده راغلی او څوک چی وایی چی زه د الله تعالی (دکلام ) په څیر کلام راوړم ،..... او که ته هغوی ووینی چی ظالم (تیریکونکی ) خلک به د مړینی په ستونزو (سختیو) کی راګیر وی.

د استدلال کولو لار:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددی مبارک آیت څخه مخته د تورات د نزول یادونه شوی ده او بیا دقران کریم نزول او دهغی صفتونه یادکړل شوی دی. او دهغی څخه وروسته دامبارک آیت ذکر شوی دی . او ددی مبارک آیت په دویمه جمله کی هغه وګړی ته ډیر تیری کونکی (ظالم ) ویل شوی دی چی دقران کریم نه وروسته د وحی دعوه کوی . دا په داسی حال کی چی وحی بنده شوی ده . نو څرګنده شوه چی ددی دعوی مصداق پخپله غلام احمد مرزا دی چی د قرانکریم نه وروسته هم د وحی دعوا کوی ، چی نه ورسره ددی وحی په هکله کوم دلیل شته او نه د کوم دلیل ځای ورته لیدل کیږی.

نهه ویشتم دلیل:

فبأی حدیث بعده یوْمنون (مراسلات ۵۰)

ژباړه : اوس ددی قران نه وروسته ، په کومی بلی خبری ایمان راوړی؟

داستدلال کولو لار:

دلته د (حدیث ) څخه مراد قرانکریم دی . مقصد دادی چی د قرانکریم نه وروسته بل کوم کتاب یاالهی وحی را تلونکی ده چی دا خلک به یی ومنی؟ څرګنده شوه چی د قرانکریم نه وروسته کوم کتاب یا وحی نه رانازلیږی.

دیرشتم دلیل:

فبأی حدیث بعد الله و ایاته یوْمنون (جاثیه ٦)

ژباړه : نو د الله تعالی او دهغی د ایتونو نه وروسته په کومی �بلی� خبری ایمان راوړی؟

د استدلال کولو لار:

دلته هم د استدلال کولو لار هماغسی ده چی په مخکنی آیت کی بیان کړل شوی ده.. دقران کریم د عقلی او روحی نښو نښانو نه وروسته د هیڅ ډول وحی او کتاب د راتلو ګنجایش نه شته.

دغه ټول مبارک آیتونه دفهم له اړخه د محمدرسول الله صلی الله علیه وسلم د(ختم نبوت ) د ثبوت له پاره قطعی او غوڅ دلایل دی ، ددی نه اخوا نور زیات شمیر ایتونه شته چی د یوی نه یوی لاری څخه د نبوت د اختتام له پاره دلایل ثابتیدای شی .

من لم تکن تکفیه هذه فلا------ یکفیه الله شرحوادث الازمان

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کوم وګړی له پاره چی دا آیات بسنه ونکړی نو الله تعالی دی داسی وګړي دزمانی د حوادثو د شر نه خوندی و نه ساتی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دویم باب  د نبوی احادیثو په رڼاکی د ختم نبوت ثابتول:

۱-عن جابر بن عبدالله رضی الله عنه ، قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: مثلی و مثل الانبیأ کمثل رجل بنی دارا فاکملها و احسنها الا موضع لبنة فکان من دخلها فنظر الیها قال: ما احسنها الا موضع اللبنة ، فأنا موضع اللبنة ، ختم بی الانبیأ علیهم الصلاة و السلام . و فی روایة : و ختم بی الرسل ، و فی روایة : فا نا اللبنة و انا خام النبیین ( دغه حدیث په ابوداود الطیالیسی او بخاری ، مسلم او ترمذی کی د سلیم بن حیان له اړخه او د احمد بطرق له اړخه بیان شوی دی )

ژباړه : د جابر رضی الله عنه څخه روایت دی چی وایی ، رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمایل : زما او د تیرو شوو انبیآو مثال د هغی وګړی په څیر دی ، چی یو کور یی جوړ کړی وی او د هغی ابادی یی سر ته رسولی وی او ډیر یی ښایسته کړی وی ،پرته دیوی ښختی د ځای څخه ، چی هغه خالی پاته وی ، نو هرڅوک چی دغه ماڼۍ ته ورننوځی او ګوری یی ، نو وایی چی دا خو ډیره ښایسته ماڼۍ ده خو دیوی ښختی ځای په کی خالی دی (یعنی دښختی دی خالی ځای زیانمنه کړی )، نو زه (دهغی اخری) ښختی په ځای یم . الله تعالی زه د انبیأو علیه السلام په اخر کی را لیږلی یم �او په یوه روایت کی د(رسل ) لفظ راغلی ، او په یوه بل روایت کی راغلی چی زه هغه ښخته یم او زه د نبوت همغسی پای ته رسونکی (خاتم النبیین ) یم . لکه څنګه چی هغه ښخته اخری ده .

۲-عن ابی هریرة رضی الله عنه قال ، قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: فضلت علی الانبیأ بست : اعطیت جوامع الکلم ، و نصرت بالرعب ( وفی روایة: مسیرة شهر ) ، و أحلت لی الغنأیم و جعلت لی الارض مسجدا و طهورا ، و ارسلت الی الخلق کافة و ختم بی النبیون . ( دا حدیث مسلم ، ترمذی ، احمد کی راغلی او همداراز په کنزالعمال کی هم )

ژباړه : د ابوهریرة رضی الله عنه څخه روایت دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمایل : ماته په ټولو انبیأو علیهم الصلوة و السلام باندی په شپږو طریقو سره برتری (فضیلت) راکړل شوی دی . لمړۍ دا چی ماته (جوامع الکلم ) راکړل شوی دی ، دویم : ماته د یوی میاشتی په فاصلی سره په (رعب ) سره کومک شوی دی .دریم : ماته یی غنیمتونه حلال کړی دی. څلرم : ماته ټوله مځکه مسجد او پاکه کړل شوی ده . پنځم : او زه یی د ټول عالم په لور لیږلی یم . او شپږم : زماد بعثت په بنسټ الله تعالی د انبیأو لړۍ (سلسله ) پای ته ورسوله.

۳-و عن العرباض بن ساریة رضی الله عنه قال : قال لی النبی صلی الله علیه وسلم: انی عند الله خاتم النبیین و ان آدم لمنجدل فی طینته . ( د اداحمد روایت دی چی په مشکاة المصابیح او کنزالعمال و شرح السنة کی راغلی دی )

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه :عرباض بن ساریه رضی الله عنه څخه روایت شوی دی چی هغی ویلی دی چی ماته نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل :چی زه د الله تعالی په وړاندی(هغه وخت ) خاتم النبیین لیکل شوی وم چی آدم علیه السلام په خپلی ختې کی پروت و .

۴-و عن جبیر بن مطعم قال : سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول : ان لی اسماً أنا محمد و انا احمد و انا الماحی الذی یمحو الله بی الکفر و أنا الحاشر الذی یحشر الناس علی قدمیْ و أنا العاقب الذی لیس بعده نبی . (بخاری ، مسلم اود احمد په مسند کی دا حدیث راغلی دی)

ژباړه : جبیر بن مطعم رضی الله عنه څخه روایت دی چی ویلی یی دی ، چی: ماد رسول الله صلی الله علیه وسلم خبری اوریدی چی ویل یی : ماته نومونه دی ، محمد یم او احمد یم ، ماحی یم ، دچا په واسطه چی الله تعالی کفر له منځه وړی او زه حاشر یم چی دخلکو حشر(بیا راژوندی کیدل ) به زما پر قدمو کی کیږی او زه عاقب یم یعنی هغه چی تری وروسته بل نبی نه راځی.

۵-و عن عبدالله بن عمر رضی الله عنهم یقول : خرج علینا رسول الله صلی الله علیه وسلم یوما کالمودع فقال: أنا محمد النبی الامی ( ثلاثلا)و لا نبی بعدی . ( دا حدیث په احمد او ابن کثیر کی راغلی دی )

ژباړه : عبدالله بن عمر رضی الله عنهم فرمایی چی یوه ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم پر مونږ باندی راووت ، داسی معلومیده چی رخصت ورکونکی وی ، نو ویی فرمایل : زه محمد امی نبی یم (دری ځلی یی دا خبره وکړه ) او زما څخه وروسته بل هیڅ نبی نه راځی.

٦........-و فی حدیث السایب بن یزید: فنظرت الی الخاتم بین کتفیه فاذاهو مثل زرالحجلة. (دبخاری ، ترمذی روایت دی )،کذا عبدالله بن سرجس (فقیه )فنظرت الی خاتم النبوة بین کتفیه عندنا غض کتفه الیسری ( مسلم ) و کذافی حدیث ام خالد و فیه فذهبت العب بخاتم النبوة ( بخاری )

ژباړه : دسایب بن یزید په حدیث کی راغلی چی ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم د اوږو په مینځ کی خاتم نبوت و کوت ،هغه دناوی له پاره د جوړی شوی ډولۍ دبټن په څیر و، په همدی ترتیب د عبدالله بن سرجس څخه هم نقل شوی چی ما (خاتم نبوت ) درسول الله صلی الله علیه وسلم ددواړو اوږو تر مینځ ، دښی اړخ د اوږی په نازکه هډوکی و کوت . همدا راز حدیث د ام خالد څخه هم روایت شوی دی ، په هغی کی ویل شوی دی چی د (خاتم النبوة ) سره یی لوبی کولی.

۷-عن جابر رضی الله عنه : ان النبی صلی الله علیه وسلم قال: اناقاید المرسلین و لافخر، و اناخاتم النبیین ولا فخر ، و انا اول شافع و مشفع و لا فخر. (الدرامی په کنز العمال کی ، ۴۰۲/۱۱)

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه : د جابر رضی الله عنه څخه روایت دی چی نبی صلی الله علیه وسلم و فرمایل چی زه د رسولانو قاید یم او په دی کی فخر نشته ، اوزه خاتم النبیین یم او په دی کی فخر نشته ، او زه تر ټولو لمړی شفاعت کونکی ( او مقبول الشفاعة )یم او په دی کی فخر نشته.

٨-و عن ثوبان رضی الله عنه قال : قال رسول الله صلی الله علیه وسلم : سیکون فی امتی کذابون ثلاثون ، کلهم بزعم انه لنبی الله و انا خاتم النبیین و لا نبی بعدی . ( ابوداود اوترمذی )

ژباړه :د ثوبان رضی الله عنه څخه روایت دی چی ویلی یی دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی : زما په امت کی دیرش درواغجن پیدا کیدونکی دی هر یو به دعوه کوی چی هغه د الله تعالی نبی دی ، حال داچی زه خاتم النبیین یم او زما وروسته کوم نبی نه راځی .

٩-و عن ابی امامة الباهلی رضی الله عنا ان النبی صلی الله علیه وسلم قال: أنا آخر الانبیأ و انتم آخر الامم ( ابن ماجه )

ژباړه : ابو امامه باهلی رضی الله عنه وایی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : زه د انبیأو آخری یم او تاسی اخری امت یاست.

١٠ -و عن آنس رضی الله عنه قال : قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ، بعثت أنا و الساعة کهاتین. ( بخاری )

ژباړه : انس رضی الله عنه څخه روایت دی چی ویلی دی چی ماته رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل چی زه په داسی حال کی مبعوث شوی یم چی زه او قیامت دومره (نژدی ) یو لکه دلاس دا دوه ګوتی .

١١ -و عن انس بن مالک رضی الله عنه قال : قال رسول الله صلی الله علیه وسلم : ان الرسالة و النبوة قد انقطعت ، فلارسول بعدی و لانبی بعدی ، قال: فشق ذلک علی الناس قال: ولکن المبشرات ، قالوا یارسول الله ! وما المبشرات ؟ قال : رؤیا الرجل المسلم وهی جزْ من اجزاْ النبوة وفی روایه من سته و اربعین جزْ. ( احمد او الترمذی )

ژباړه : د انس رضی الله عنه څخه روایت دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : بیشکه چی رسالت او نبوت منقطع ( پری کړل شوی) دی نو زماڅخه وروسته نه کوم استازی (رسول ) راځی او نه کوم نبی . انس رضی الله عنه فرمایی چی دا خبره په خلکو ډیره درنده تمامه شوه ، نو بیایی و فرمایل چی : بلی - مبشرات به وی ، هغه ورته وویل چی مبشرات څه ته وایی ؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمایل : د یومسلمان سړی خوب لیدل ، دا دنبوت دبرخو څخه یوه برخه ده - یاشپږ څلویښتمه برخه ده.

١٢ـو عن ابن سعد آن رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: أنا رسول من أدرکت حیا ومن یولد بعدی .( کنزالعمال )

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه : د ابن سعد څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چې زه د ژوندیو خلکواو دهغوی چې له مانه ورسته پیدا کیږی ، رسول او استازی یم.

۱۳ـ قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: أنا خاتم الانبیأ و مسجدی خاتم مساجدالانبیأ و ان أحق المساجد ان یزار و تشد الیه الرواحل مسجد الحرام و مسجدی . ( فردوس الاخبار ۷۸/۱)

ژباړه : رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چې زه ( خاتم النبیین ) یم او زما مسجد د انبیاو په مساجدو کی اخری مسجد دی. او مساجدو ته دسفر کولو وړ مسجد حرام او بیا زما مسجد دی.

۱۴ـ و عن أبی أمامة الباهلی رضی الله عنه قال: خطبنا رسول الله صلی الله علیه وسلم ذات یوم (الی أن قال:) وانا آخر الانبیأ و انتم آخر الامم( الی أن قال:) ویقول : أنا نبی ، آنا نبی ، ولا نبی بعدی . (کتاب السنة لابی بکر بی آبی عاصم ، تاریخ دمشق لابن عساکر ۱۹۱/۱)

ژباړه : دامام باهلی رضی الله عنه څخه روایت دی چې مونږ ته رسول الله صلی الله علیه وسلم یوه ورځ خطبه راکړه او په هغی کی یی وفرمایل : زه د ټولو انبیاو اخری یم او تاسی په امتونو کی اخری امت یاست . زه نبی یم ، زه نبی یم ، زما څخه وروسته کوم نبی راتلونکی نه دی .

۱۵ـ و عنه قال: سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول فی خطبته : ایها الناس ! انه لانبی بعدی و لا امة بعدکم. ( مجمع الزواید: ۴۷۱/۸)

ژباړه : ابوامامه باهلی رضی الله عنه څخه بیا روایت دی چې ویلی یی دی : ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه په خطبه کی واوریدل چې فرمایل یی : ای انسانانو ! زما څخه وروسته نبی نه راځی او نه ستاسی څخه وروسته کوم امت.

۱٦ـ و عن ام سلمة رضی الله عنهاـ ان النبی صلی الله علیه وسلم قال لعلی: اماترضی ان تکون منی بمنزلة هارون من موسی ، غیر انه لانبی بعدی . (صحیح ابن حبان ۱۵/۱۵)

ژباړه : د ام سلمه رضی الله عنها څخه روایت دی چې ویلی یی دی چې نبی صلی الله علیه وسلم ، علی رضی الله عنه ته وفرمایل : ایا ته په دی خبره خوښ نه یی چې زما او ستا نسبت یو بل ته داسی وی لکه د هارون علیه السلام نسبت چې موسی علیه السلام ته و . لیکن زما څخه وروسته بل نبی نشته دی.

۱۷ـ عن عبدالله بن مسعود رضی الله عنه ( فی حدیث طویل )قال : قولوا: اللهم اجعل صلاتک ورحمتک و برکتک علی سید المرسلین و امام المتقین و خاتم النبیی محمد عبدک و رسولک امام الخیر ، و قاید الخیر ورسول الرحمة. ( مسند ابی یعلی الموصلی : ۱۷۵/۹)

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه : د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه څخه روایت دی ( په یوه اوږده حدیث کی ) چی ویلی یی دی : ولوله اللهم جعل صلاتک و رحمتک و برکتک علی سید المرسلین ،چی د متقیانو امام دی ، خاتم النبیین دی ، محمد صلی الله علیه وسلم ستا بنده او ستا استازی (رسول ) دی دخیر امام او د هغی قاید او درحمت رسول دی .

۱۸ـ و عن سهل بن سعد الساعدی رضی الله عنه قال : استاذن العباس النبی صلی الله علیه وسلم فی الهجرة فقال له : یا عم! مکانک الذی انت به ،فان الله تعالی یختم بک الهجرة کما ختم بی النبوة . ( مسند الی یعلی الموصلی : ۵۵/۵)

ژباړه : سهل بن سعد رضی الله عنه څخه روایت دی چی عباس رضی الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه د هجرت کولو په اړه اجازه و غوښته ، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل : ای کاکا! په کوم ځای کی چی یاست ، په هماغه خپل ځای کی اقامت و کړه ، الله تعالی پرتا باندی د (مکی ) د هجرت اختتام وکړ لکه څرنګه یی چی پرما باندی د نبوت لړۍ پای ته ورسوله

توجه: په دغه احادیثوکی که څه هم یو شمیر یی د سند په لحاظ کمزوری دی خو د متن له اړخه او دنورو صحیحو احادیثو په اساس حجت او دلیل ګرزیدای شی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دریم باب هغه مبارک آیاتونه چی مرزاییانو تری د نبوت د اجرا له پاره استدلال کړی دی ، او دهغی ځوابونه :**

دقادیانیانو استدلال) ۱(

ماکان الله لیذر المؤمنین علی ما انتم علیه حتی یمیز الخبیث من الطیب و ماکان الله لیطلعکم علی الغیب و لکن الله یجتبی من رسله من یشأ فآ منوا بالله وسله و ان تؤمنوا وتتقوا فلکم اجر عظیم.

ژباړه : الله تعالی داسی ذات نه دی چی مؤمنین په داسی حالت کی مخلوط اوګډوډ پریږدی ، مگر داچی گنده اوناولی خلک دپاکو خلکو څخه جدا نکړی ، اوالله تعالی داسی هم نه کوی چی تاسی ته د غیبو خبری و ښئ. لیکن الله تعالی د خپلو رسولانو څخه ، څوک چی و غواړی، منتخب کوی یی. نو په الله تعالی او دهغی په رسولانو باندی ایمان راوړی ،نو که چیری تاسی ایمان راوړی او د نفاق څخه په څنگ و اوسی نوتاسی ته به ډیر اجر درکول شی .

د هغوی د استدلال کولو لار:

(یجتبی) مضارع فعل دی او د استقبال له پاره استعمالیږی . او دغه آیت پر محمدرسول الله صلی الله علیه وسلم باندی نازل شوی دی نو معلومه شوه چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه وروسته هم ، الله تعالی رسولان ټاکی او تاسی په الله تعالی اورسولانو باندی ایمان راوړی.

ددی ټول آیت د تفصیلی ځواب ورکولو نه مخته دوه ځانگړی (تنبیهی ) خبری ذکر کیږی:

۱ـ هر آیت پر خپل سیاق او سباق باندی د ایښولو په واسطه درک کیږی . او دخپل مطلب د اثبات له پاره ، آیت دخپل سیاق اوسباق څخه غوځول او لری کول ، څرګند معنوی تحریف دی.

۲ـ دقران هغه تفسیر ډیر معتبر او باوری دی چی د نبی صلی الله علیه وسلم او صحابه کرامو رضی الله عنهم د زمانی څخه منقول او مقبول دی . ددی نه علاوه د خپلو غوښتنو او(خواهشاتو ) د ثابتولو له پاره دخپله ځانه تفسیر کول پخپله تحریف دی . د آیاتونو په کلیماتو کی که څه هم عمومی هم وی خودا عمومیت هم ددی څخه مخته دوه شرطونو سره مقید(تړل ) کیږی . په قرانکریم کی په دی اړوند زیات شمیر آیتونه شته دی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تفصیلی ځواب :

پورته یاد کړل شوی آیاتونه ټول د احد د پیښې سره اړوند دی.

)۱۵۷ (نمبر ایت پخپله د دي پو ښتنی ځواب دی چی : کله چی الله تعالی د احد په غزا کی کفارو ته بری ورکړ نو هغوی ته دا گمان پیدا شو چی دا بری زمونږ د حقانیت دلیل دی او زمونږ له پاره په دی کی خیر دی ؟ نو الله تعالی ځواب ورکړ چی کافران دی دغه مهلت (بری ) دخپلو ځانو له پاره خیر نه گڼی . بلکه دا د هغوی له پاره خاص شر دی ، ځکه چی په دغه مهلت کی دهغوی گناهونه زیاتیږی او په اخیر کی به هغوی ته د ذلت او سپکوالی دردناکه عذاب وی.

په (۱۷۹) ایت کی د یوه بل سوال ځواب راغلی دی او هغه دا چی په احد کی الله تعالی پر مؤمنانو او منافقینو باندی ولی دغه غم( قتل او ماتی ) را وسته؟

ځواب : په دی کی حکمت دا و چی د مصیبت او غم په وخت کی د مؤمن صبر او استقلال او د منافق ،منافقت را څرگندیږی. او دا په دی خاطر چی د مومنانو او منافقینو تر مینځ بیلتون (تمیز) راشي تر څو په راتلونکی کی دمنافقیینو څخه لری والی وکړل شی.

دریمه پوښتنه : د غم او مصیبت د ورکولو پرته داسی هم کیدای شول چی الله تعالی پخپله مونږ ته ویلی چی هغه فلانکی مومن او هغه فلانکی منافق دی ؟

ځواب : د ا د غیبو دپو هی مسله ده او الله تعالی تا ته په غیبو باندی خبر نه درکوی .

څلورمه پو ښتنه : د رسولانو په ژبو باندی کله کله د غیبو خبری ( دوحی په ذریعه ) را څرگندیږی ، نو ایا دا اطلاع علی الغیب ،( په غیبو باندی دخبریدو ) خبره نه ده .؟

ځواب : د ا د الله تعالی شان دی چی ځینی رسولان د ځینی مغیباتو( پټو خبرو ) [د هغوی د نبوت د مناسبت او شان سره یوځای ]دپوهی د ورکولو له پاره انتخابوی . دا دهغی مشیت (اراده ) ده .( دلته د (لکن ) لفظ ددی سوال او ځواب له پاره دلیل دی ځکه چی د عربیت په قانون کی د (لکن ) لفظ د استدراک ددفع له پاره استعمالیږی .) نو تاسی د الله تعالی توحید او د رسولانو رسالت ومنۍ (د غیبو د پوهی له مخی رسولان د الله تعالی سره شریکان مه گرځوي).

ددی تفصیل څخه را په ډاگه شوه چی د آیت مقصد هیڅکله هم دا نه دی چی نبوت دی جاری وی بلکه دا دالله تعالی د کریمه عادت یادونه ده .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



(یجتبی ) که څه هم د مضارع فعل دی خو هیڅکله یی هم معنی ،�استقبال� نشی کیدای ، بلکه د الهی د پخوانی عادت بیانول تری مقصد دی . او په قران کریم کی د مضارع فعل په زیاتو ځایو کی د عادت د بیانولو له پاره استعمالیږی ، نه د استقبال له پاره . او دی ته د ماضی (تیری شوی زمانی )اوسنی حکایت ویل کیږی . دنمونی په توګه:

ومن الناس من یقول ، یخادعون الله ، ومایشعرون ، و لکن لا یعلمون ، ...... په دوی دیوه څخه هم د استقبال معنی نه اخستل کیږی.

توجه : دمحالی فرضیی په توګه که چیری د آیت څخه د نبوت اجرا ثابته وی نوبیا د مرزا د نبوت له پاره خاص دلیل چیرته دی ؟ دا خو خاص مدعی دی او دلیل عام دی په داسی حال کی چی د دلیل او مدعی تر مینځ موافقت ضروری وی.

۲ـ ومن یطیع الله و الرسول فأولـــــــک مع الذین انعم الله علیهم من النبیین و الصدیقین و الشهدأ و الصالحین وحسن اولـــــــک رفیقا. ( النسا ٦٩)

ژباړه : اوهر هغه څوک چی د الله تعالی او دهغی د رسول تابعداری وکړی ، هغه به دهغو خلکو سره وی چی الله تعالی پری انعام کړیدی او هغه به د نبیانو ، صدیقینو ، شهداو اونیکو خلکو بهتر ین رفیق وی.

دهغوی داستدلال کولو لار:

دهغوی داستدلال کولو لار داده چی وایی : چی د (مع) لفظ د صفت د ګډون لپاره دی ، مقصد یی دادی چی د الله تعالی او د رسول د اطاعت کولو څخه په انعام کړل شوو ډلو ( منعم علیهم ) سره د صفت ګډون تر لاسه کیږی . او دهمدغی ډلو څخه تر ټولو لمړی ډله د انبیأو ډله ده . نو ددی څخه څرګنده شوه چی د اطاعت په واسطه نبوت تر لاسه کیدای شی.

ځواب : ددی استدلال ټول کره وړه د (مع) دلفظ په شاوخوا کی را ګرځی ، چی هغوی یی معنی د صفت ګډون اخستی دی ، خودا د ډیرو علتونو له مخی غلطه او باطله ده .

لمړی طریقه:

د (مع) لفظ په ډیرو معناګانو کی شریک دی ( ما په خپل تفسیر کی لیکلی دی چی د (مع) لفظ په قرانکریم کی ٦٠ځلی را غلی دی او په ۱۴ مختلفو معناګانو باندی استعمال شوی دی، چی د هغی له پاره د یوی ځانګړی معنی دټاکلو لپاره قرینی او دلیل ته اړتیا وی اوهغه ددی مرزاییانو سره نشته.

د (مع) د لفظ معناګانی دادی:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ځای، وخت ، او عمل ګډون ( اشتراک مکان،زمان ، وعمل ) ، دصفت او عمل ګډون ، په سیر او سیاحت کی ګډون ، په ثواب کی ګډون ، په عذاب کی ګډون ، په غونډو کی ګډون ، په خلاصون کی ګډون ، په الوهیت کی ګډون ، په دین کی متابعت کول ، دوروسته (بعد) په معنی ، د لوړ او پورته (علی ) په معنی ، د لزوم او یوځای والی (اتصال ) په معنی ، د الله تعالی له اړخه دنصرت په لاره د ځانګړی ملګرتیا( معیت خاصه ) په صفت ، د الله تعالی له اړخه د عامی ملګرتیا(معیت عامه ) ، علم او قدرت په صفت.

دویمه طریقه:

دغه ډول کلیمه په (محمدرسول الله و الذین معه ) کی مستعمل ده او دا آیت یواځی د صحابه کرامو په اړوند دی ، نو ایا صحابه کرام ټول ، ټول انبیأ و؟

دریمه طریقه:

دلته قرینه موجود ده ( و حسن اولـــــــک رفیقا) یعنی دغه ملګرتیا (معیت ) د انډیوالۍ (رفاقت ) ګډون دی ، چی مقصد یی په عیلیین کی د ارواحو ملګرتیا ، او په جنت کی د ټولو مومنانو ملګرتیا (درفاقت اوملګرتیا ، لفظ د صفت په توګه نه شی استعمالیدای) بلکه د ځای (مکان ) او غونډی ( مجلس ) سره خاص کړل شوی دی.

څلرمه طریقه:

دا نظریه او فکر غلط دی چی د اطاعت په واسطه نبوت تر لاسه کیږی . ځکه چی نبوت کوم کسبی څیز نه دی ، که چیری کسبی څیز وایی نو نبی ته به ضرور ددی پوهه (علم ) یا امید وای چی د اطاعت په واسطه ماته نبوت ترلاسه کیدای شی . لیکن الله تعالی د نبی صلی الله علیه و سلم په واسطه ددی دواړو نفی کړی ده . لکه چی فرمایلی یی دی:

ماکنت تدری ما الکتا ب و الا الایمان ( شوری ٥٢)

وماکنت ترجو ان یلقی الیک الکتاب الا رحمة من ربک (القصص ٨٦)

ژباړه : تاته معلوم نه وه چی کتاب څه شی دی او تفصیلی ایمان څه شی دی ـ او تاته دا امید نه و چی تاته به کتاب درکول کیږی ، مګر دا د الله تعالی له لوری رحمت دی.

٣ـ یا بنی آدم اما یأتینکم رسل منکم یقصون علیکم آیتی فمن اتقی و اصلح فلا خوف علیهم و لا هم یحزنون . ( اعراف ٣٥)

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه : ای د آدم بچیانو ! که چیری تاسی ته پیغمبر راشی ، نوهغه به له همتاسی څخه وی ، اوزما احکام تاسی ته بیانوی ، نوهغه څوک چی تقوی ( دالله نه ویره ) اختیار کړی او اصلاح وکړی نو داسی وګړی به نه اندیښمن شی او نه به دوی غمګین شی .

د هغوی د استدلال کولو لار:

دا د قران خاوندانو ته خطاب دی او (یأتینکم ) د استقبال صیغه ده ، نو مطلب تری دا را خیژی چی د قران دخاوندانو له اړخه به بل رسول هم مبعوث کیږی.

ځواب : دا استدلال د څو علتونو له مخی بلکل غلط او جاهلانه استدلال دی. او هغه دا چی:

لمړی علت : داچی په قرانکریم کی دی امت ته دبلنی او دعوت ویناد ( یاایهاالذین امنو ، یا ایهاالناس ، یا اهل الکتاب ، یا بنی اسراییل ..) په کلیماتو او الفاظو سره شوی دی . خو په هیڅ ځآی کی ورته د ( یابنی آدم ) خطاب نه دی شوی.

دویم علت : په دی سورت کی د آدم علیه السلام پیښه ( واقعه) یاده کړل شوی او دهغو دپر ځمکه درا ښکته کیدو (هبوط) په وخت کی هغه ته او د هغه اولادی ته یو شمیر ویناوی شوی دی .

لمړنی وینا: یا بنی آدم قد انزلنا علیکم لباسا یواری سوآ تکم وریشا (٢٦)ـ

دویمه وینا: یا بنی آدم لا یفتننکم الشیطان کما اخرج ابویکم من الجنة ینزع عنهما لباسهما) ٢٧(

دریمه وینا:یا بنی آدم خذوا زینتکم عند کل مسجد و کلوا واشربوا ولا تسرفوا) ٣١(

دغه دری واړه ویناوی د عربو مشرکینو په تردیدکی نازل شوی وی . هغوی به د طواف په وخت کی ځانونه لوڅول ، او دا یی دځانونو لپاره د ثواب کارګاڼه، نو الله تعالی د آدم علیه السلام د واقعی په بیانولو سره هغوی ته دا وریادول چی د شیطان په پیروی کی پر خپلو ځانو حلال شیان مه حراموی . لباس پر ځانو مه حراموی ، ځکه چی ابلیس د وسوسی په واسطه ستاسی د پلار(نیکه) څخه د جنت لباس لیری کړی و. او فرمایلی یی دی چی دغه (لباس ) د الله تعالی له لوری ټولو انسانانو (بنی آدمو )ته انعام دی او د هغوی له پاره زینت دی.

څلرم خطاب :

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا بنی آدم اما یأتینکم رسل منکم یقصون علیکم) ۳۵ (

دا وینا هم د ټولو انسانانو (بنی آدمو ) له پاره ده . هغه وخت چی آدم علیه السلام د جنت څخه را ښکته کړل شو نو دهغې وخت څخه دقران تر نزوله پورې چی څومره انسانان پیدا شوی دی ، هغوی ټول په دغه وینا کی را نغښتل کیږی . او ددی تایید دادی چی د آدم علیه السلام د اهباط (را ښکته کیدو ) نه وروسته د بقری په سورت کی دا وینا په دی ډول راغلی ده .[فامایأتینکم منی هدیۍ فمن تبع هدای فلاخوف علیهم و لا هم یحزنون (بقره ۳۸)] او د طه په سورت کی هم په دی ډول را غلی ده [ فاما یأتینکم منی هدیۍ فمن تبع هدای فلا یضل ولا یشقی . (طه ۱۲۳)] نو دلته هم دغه وینا (خطاب ) آدم علیه السلام او دهغی د اولادی له پاره دی ..

دمحمد صلی الله علیه و سلم د بعثت څخه وروسته د نبوت هغه لړۍ پای ته ورسیده د کوم له پاره چی نور قطعی مبارک آیتونه د استدلال په توګه وړاندی شوی دی.

که چیری دغه وینا(خطاب ) د نورو ویناوو په واسطه پری کړل شی او دهغی څخه د خپل باطل مقصد د ترلاسه کولو په خاطر د نبوت اجرأ ثابتول هدف وی نو بیا دا د الله تعالی د مبارک کلام سره مذاقی او مسخری کول دی.

دریم علت: ابن جریر ، الوسی او نورو مفسرینو ددی مبارک آیت په پیلامه کی د (قلنا) لفظ دمعنی له اړخه مقدر لګولی دی تر څو په ډاګه شی چی دغه خطاب د پخوانیو ویناوسره تړلی دی.

ټوکه:

]د مردان د ښار د رستم په سیمه کی د یوه مرزایی سره منا ظره[

په ۱۹٦۵کال کی زمونږ په کلی رستم کی د حیواناتو په شفاخانه کی یو دولتی ډاکټر و ، ګمان کوم چی هغه به د سیالکوټ (پنجاب) اوسیدونکی و ، هغه د قادیانی مسلک ډیر ستر داعی و ،او په سیمه کی یی ډیر زوک او غوغا را پیدا کړی وه. ویل به یی چی کوم عالم دی له ماسره بحث وکړی. بدبختانه چی په هغه وخت کی زیات مولوی صاحبان د قران د علومو سره نا اشنا و . په دی خاطر دهغی سره دمقابلی څخه ویریدل . یواځی همدومره به یی ویل چی هغه کافردی . زه په هغه وخت کی د پنجاب د ګوجرانواله د دیدار سنګ په کلی مدرس ( استاد ) وم.. نو زما هغه دوستانو چی په رستم کی اوسیدل دغه ډاکټر ته وویل چی زمونږ مولوی صاحب چی کله دسفر څخه راشی نو هغه به له تا سره بحث وکړی . دوستان منتظر وول ، کله چی زه یو ځل په رخصتۍ باندی راغلم ، نو دوستانو را ته وویل چی دغه ډول معامله ده . خوښمندوم چی په هغه کال ماته دا فرصت تر لاسه شوی و ، نو ما دقادیانیانو د یو شمیر کتابونو مطالعه هم کړی وه. نوماخپلو ملګرو ته وویل چی د ډاکټر صاحب سره د مباحثی له پاره وخت واخلی ، هغوی وخت و ټاکه ، په ټاکلی وخت زه او زما دری ملګری دهغه ځای ته ،هملته شفاخانی ته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



حاضر شول . ډاکټر د ډېرو نیکو اخلاقو له لوری ښه راغلاست ووایه . خو ددی ترڅنګ په خپل ضد ولاړ و چی مولوی صاحبان زما سره بحث نشی کولای . ما دهغی پر میز قرانکریم وکوت ، را پورته می کړ. په هغی کی هغه په ځینو صفحو کی نښې لګولی وی ، ما په پټه توګه هغه نښې را وویستلي او قران کریم می بیرته پرخپل ځای کښیښود.

بحث پیل شو نو ډاکټر د نبوت د اجرا معامله مخته راوړه . ما سمدستی ورته وویل چی دلیل به د قران کریم نه راوړی ؟ هغه وویل بلکل ! ما ورته وویل چی آیت را و ړاندی کړه ؟ هغه قران کریم را پورته کړ نو په هغی کی د هغی اینښوول شوی نښې غایبی وی .ډیر ی ولټولی خو پیدا یی نشوای کړی ، شرمنده شو او ویی ویل چی تا زما د قران څخه نښې لیری کړی دی . ما ورته وویل چی دا می په دی خاطر لری کړی چی ماته او تاته په خپله ستا د علم او پوهی اندازه معلومه شی.. کله چی ته نیغ په نیغه د خپل دلیل له پاره د قرانکریم څخه یو آیت هم نشی را ویستلای نو څرګنده شوه چی ته جاهل اوناپوهه یی. ستا پوهه او علم تقلیدی دی . ما ورته وویل چی د کوم آیت په هکله پوښتنه وکړه نو زه به یی (انشاالله) په هماغه وخت کی در ته را وکاږم او درته به یی ووایم.

بیا ما ورته وویل چی ستا استدلالی آیت به زه تاته وښایم ؟ نو هغه وویل چی بلی ! ایا تاته معلوم دی ؟ نو ما ورته د اعراف د سوری آیت ولوست اوپه قرانکریم کی می دهغی مخی ته راوویست ، زما ددی کار څخه هغه ډیر مرعوب شو. بیا تری ما و پوښتل چی ایا ته د نبی او رسول تر مینځ په توپیر کولو پو هیږی ؟ نو هغه وویل چی بلی ! زه پو هیږم . نوماورته وویل چی په دی آیت کی د رسالت یادونه شوی ده . نو ایا ته مرزا غلام احمد ، درسول په څیر منی ؟ هغه چوپ پاته شو . ماتری بیا بیا و پوښتل ، خو هغه په اخر کی وویل چی ته ماته تر سبا پوری وخت راکړه ، ما ورته وویل چی صحیح ده.

د مردان په ښارګوټی کی دهغی یو ځانګړی داعی و ، هغه ته ورغی او بیرته راغی نو سبا ورځ مو بیا د بحث کولو له پاره وخت وټاکه . نو مونږ دوباره د بحث له پاره کښیناستلو. ما دهغی څخه د پرونی سوال په هکله و پو ښتل . نو هغه ځواب راکړ چی بلی ! زه غلام احمد مرزا درسول په څیر منم.

ماورته په شوخۍ سره وویل چی ته تر پرونه پوری ( دخپل مسلک په مطابق ) هم مسلمان نه وی ، ځکه چی تر پرونه پوری ستادا ایمان نه و چی غلام احمد رسول دی!

ددی خبری په اوریدو سره په هغه نور هم رعب اوهیبت کښیناست . بیا ورته ما وویل چی مرزا نه نبی دی اونه رسول . بلکه درواغجن(کذاب ) دی ځکه چی دهغی ټولی وړاندوینی ( پیشنګویی ) غلطی ثابتی شوی . ما د مرزا د مړینی څخه هغه ته خبری پیل کړی او ما دهغی د کتابونو څخه د هغی د خبرو تضاد او تناقض ثابت کړ. او دا می

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته ثابته کړه چې دکومې نیتې په هکله هغه د خپلې مړینې په اړه واړاند وینه کړې وه نو هغه د هغې نه مخته ومړ . ډاکټر زما ددې اعتراض د اوریدو په واسطه بلکل حیران (مبهوت ) اوعاجز شو. او وویې ویل چې ماته وخت راکړې! نو ماهغه ته او دهغې ټولې ډلې ته تر ټوله عمره پورې وخت ورکړ.

څه وخت وروسته ، زما یو دوست د هغې سره لیدنه وکړه . نو هغه ورته وویل چې ما د مرزاییت نه توبه کړې او صحیح مسلمان شوی یم.

)دمرزا د مړینې په هکله دهغې وړاند وینې او دهغې درواغجنې(کذب ) به انشاالله په ۱۴ باب کې راشي(

۴ -الله يصطفى من الملايكة رسلا ومن الناس ان الله سميع بصير (حج ۷۵)

ژباړه : د ملایکوڅخه او هم د انسانانو څخه پیغام رسونکې پخپله الله تعالی غوره کوی ، بیشکه چې الله تعالی اوریدونکی او لیدونکی دی.

دمرزایانو د استدلال کولو لار:

د (یصطفی ) لفظ د مضارع فعل دی ، مراد تری استقبال دی ، یعنی الله تعالی په راتلونکی زمانی کی دملایکو او انسانانو څخه رسول ټاکی.

ځواب: دا پخپله ډیر غلط استدلال دی دلته د مضارع فعل د ماضی دحال بیانونکی دی . او دا د (بیت ) مسله ده . کله چې یوه پیښه تیره شوی وی خو د یادونی له پاره هغه د مضارع فعل په شکل کی بیا ذکر کړل شی.

زیبښه یی دا چې په تیر مبارک آیت کی الله تعالی د مثال په واسطه په مشرکینو باندی دا واضحه کړه چې ستاسی باطل معبودان کمزوری دی ، یو مچ هم نشی جوړولی ،بلکه که مچ تری کوم شی و تښتوی ، نوهغه تری هم نشی خلاصولای . نه پیداکونکی (خالق)دی او نه متصرف . نو مشرکانو ته دا فکر پیدا شو چې الله تعالی بزرگانوته ( هغوی چې دوی خپل معبودان گرزولی دی ) هیڅ ډول درنښت نه ورکوی ؟

نو په دی آیت کی یی ځواب ورکړ چې بلی ! الله تعالی چې کله هم انسانانو او ملایکو ته د رسالت دنده ورسپاری هغه ددوی (ددی مخلوق ) لپاره ډیره ستره درجه ده ،خو هغوی ته د الوهیت صفات هیڅکله هم نه ورکوی.

۵ـ ينزل الملآئكة بالروح من امره على من يشاْ من عباده ان انذرو انه لا اله الا انا فاتقون (نحل ۲)

ژباړه : همدا (الله ) ملایکو ته خپله وحی ورکوی او خپلو بندگانو کی یی ، چاته چې وغواړی ، ورلیږی ، تر څو تاسی خلک په دی و پوهوی چې له ما پرته بل هیڅ د عبادت وړ نشته.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغوی د استدلال کولو لار:

(ینزل ) دمضارع فعل دی او روح د وحی په معنی دی ، نومقصد یی دادی چی دقرانکریم نه وروسته هم الله تعالی ملایکو ته وحی د هغه بندګانو له پاره ورکوی ، چی الله تعالی یی غواړی . نو هغه شخص نبی یارسول ګرځی.

ځواب : دهغی ځواب هم همغسی دی لکه پخوا چی تیر شو. چی دا دماضی دحال حکایت دی ، دمستقبل سره هیڅ ډول اړیکی نه لری . زبیښه یی دا شوه چی الله تعالی په لمړی آیت کی د رسول الله صلی الله علیه و سلم وحی ته د الله تعال دامر (امرالله) نوم ورکړی ، اوفرمایلی یی دی چی ددی وحی په تکذیب کی د عجلی څخه کار وانخلی او د وحی خلاصه (لنډیز) توحید دی . استعجال (بیړه ) په دی خاطر مه کوه چی دا وحی کوم نوی شی نه دی . بلکه ددی تر مخه الله تعالی دملایکو په ذریعه وحی را کیبستی ده، نو دا مبارک آیت د ( فلاتستعجلوه ) له پاره علت او دلیل دی په دی اساس یی د آیت په پیلامه کی د (و) حرف نه دی راوړی.

٦ـ یا ایها الرسل کلوا من الطیبات و اعملوا صالحا انی بما تعملون علیم ( مومنون ٥١)

ژباړه : ای پیغمبرانو! حلال خوری او نیک عمل کوی ، تاسی چی څه کوی پر هغوی ټولو ښه پوره پوره خبر یم.

د هغوی د استدلال کولو لار:

قران کریم په راتلونکی زمانی کی ، راتلونکی رسولان مخاطب کړی دی ، نو په ډاګه شوه چی د رسالت لړی جاری ده.

ځواب : دا هم د خپل ناوړه مقصد د ترلاسه کولو له پاره د قرانکریم سره ټوکی اومسخری کول دی.

وروستنی (مابعد ) د مخکنیو (ماقبل ) څخه په پری کولو سره او دهغی څخه نتیجه تر لاسه کول دعقل اوپوهی دخاوندانو لاره نه ده ، بلکه د دی مبارک آیت څخه مخته الله تعالی د نوح علیه السلام څخه نیولی دعیسی او مریم علیه السلام پوری ، دټولو یادونه کړی ده. نو دا آیت هم د هغوی د حالت سره اړوند دی . چی الله تعالی هر یوته دخپل بعثت په زمانی کی فرمایلی و چی ( کلوا من الطیبات ) ، خو په آیت کی یی د حکایت په ډول ټول سره را ټول کړی او د (یاایهاالرسل) یعنی ( وقلنا لهم : یا ایهاالرسل ) لکه چی عامو مفسرینو یی هم یادونه کړی ده،خطاب کړی دی .او ددی دلیل د هغی وروسته لفظ ( فتقطعوا امرهم بینهم زبرا ) ، یعنی د انبیاو علیهم السلامو ملت جاری و ، خومخالفینو دغه ملت ټوټی ، ټوټی کړ، او دا د ماضی (تیری شوی زمانی ) صیغه ده.

دویم ځواب : ځینو مفسرینو دا هم لیکلی دی چی دا محمدرسول الله صلی الله علیه و سلم ته خاص خطاب دی خودجمعی صیغه یی ورته د عزت او احترام په خاطر راوړی ده.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷ـ و لقد جأكم يوسف من قبل بالبينات فما زلتم فی شک مما جأكم به حتی اذا هلک قلتم لن یبعث الله من بعده رسولا. ( مومن ۳۴)

ژباړه : او ددی څخه ترمخه تاسی ته یوسف علیه السلام دلیلونه راوړی و ، بیاهم تاسی د هغی په راوړل شوو دلایلو کی شک او شبه کوله ، ان تردی چی کله هغه وفات شو نوویل به یی ، ددی وروسته الله تعالی کوم استازی نه رالیږی.

د هغوی د استدلال کولو لار:

د یوسف علیه السلام د قوم عقیده وه، چی د یوسف علیه السلام وروسته بل کوم استازی (رسول ) نه راځی . خو دهغوی دا عقیده غلطه وه ، په همدی ترتیب نن هم خلک وایی چی دمحمدرسول الله صلی الله علیه و سلم وروسته بل رسول نه راځی. نو دا هم غلطه عقیده ده.

ځواب : دا استدلال بلکل د لیونتوب او جنون ښکاروندوی دی . او دهغی څو علتونه دی :

لمړی علت : دا چی ددی قوم دا عقیده په دی خاطر غلطه وه چی د یوسف علیه السلام نه وروسته د محمدرسول الله صلی الله علیه و سلم تر زمانی پوری ، ریښتونی رسولان راغلی دی او دهغوی په رسالت باندی صحیح او واضحه نصوص گواهی ورکوی . خو د محمدرسول الله صلی الله علیه و سلم نه وروسته داگروهه چی هیڅ رسول به نه رالیږل کیږی، پری څرگند قرانی مبارک آیتونه اوصحیح احادیث گواهی ورکو ی نو د هغی قیاس پر ماقبل (پخوانیو) باندی دلیونیان قیاس دی.

دویم علت :دا چی یو شمیر مفسرینو لیکلی چی ( لن یبعث الله من بعده رسولا). دا د انکار په توگه نه دی لیکل شوی ، بلکه د(قوم )د تاسف په خاطر یی لیکلی دی ځکه. چی د یوسف علیه السلام د وفات نه وروسته د مصر نظام له منځه ولاړ نو دهغی وخت خلکوبه د افسوس په توگه ویل چی د یوسف علیه السلام په څیر نبی به رانشی ! یعنی کاش چی د هغی په څیر نبی را شی تر څو صحیح نظام قایم کړی.

۸ـ و انهم ظنوا کما ظننتم ان لن یبعث الله احدا . ( جن ۷)

ژباړه : او (انسانانو ) هم ستاسی په څیر گمان کړی و چی الله تعالی به څوک را و نه لیږی.

د هغوی د استدلال کولو لار:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دجناتو(پیریانو) دا گروهه (عقیده) چی الله تعالی به هیڅ رسول را ونه لیږی ، گمان و گڼل شو ، او گمان د رد کولو وړ وی.

ځواب : داهم د خندا وړ استدلال دی . چی ځو علتونه لری:

لمړی : دا په رسول باندی د ایمان ( ایمان بالرسول )څخه د مخته خبری بیان کیږی ، یعنی د محمدرسول الله صلی الله علیه و سلم دبعثت څخه دمخه دهغوی دا عقیده وه چی رسول نه راځی :

دویم ـ داچی دلته د بعثت نه مراد دمړینی نه وروسته بعثت ( بعثت بعد الموت ) دی ، یعنی دا خلک دبیا را ژوندی کیدو څخه منکر وول.

۹ -وماکنا معذبین حتی نبعث رسولا ( اسرأ ۱۵)

ژباړه : او مونږ عذاب نه ورکوو مگر دا چی رسول ورته ولیږو.

د هغوی د استدلال کولو لار:

مونږ هغه وخت هغوی ته عذاب ورکوو چی لمړی ورته رسول مبعوث کړو ، اوبیا دوی انکار وکړی ، نو د مستقبل د صیغی نه دا په ډاگه شوه چی در سول څخه مراد د قران نه وروسته راتلونکی رسول دی.

ځواب : دا خو بلکل د جهل نه ډک استدلال دی ، ځکه چی ( وماکنا معذبین ) دماضی فعل دی ، یعنی د محمدرسول الله صلی الله علیه و سلم تر بعثته پوری چی څومره رسولان مبعوث شوی دی دهمدی حجت د جوړولو له پاره مبعوث شوی دی ، او د محمد صلی الله علیه و سلم بعثت د ټولو اخری حجت دی چی پر دوی باندی جوړ شوی دی ، نو دهغی صلی الله علیه و سلم دبعثت په اساس په نه منونکو باندی ډول ، ډول عذابونه راغلل اوپیروان یی د هر ډول دنیوی عذاب څخه په څنگ پاته شول.

زبیښه یی دا چی په دی مبارک آیت کی د الهي یو قانون ذکر کیږی او هغه دا چی د رسول را استول د عذاب څخه ددفع کولو او د حجت دپوره کولو له پاره کیږی.

۱۰ -یبنی اسراییل انی رسول الله الیکم مصدقا لما بین یدی من التوراة و مبشرا برسول یأتی من بعدی اسمه احمد ، فلما جأتهم بالبینات قالوا هذا سحر مبین . (صف ٦)

ژباړه : ای بنی اسراییلو ! زه د الله له اړخه تاسی ټولو ته رسول یم . زماڅخه مخته د راغلی کتاب (تورات ) تصدیق کونکی یم او دخپله ځانه وروسته د راتلونکی یوه رسول په هکله تاسی ته زیری درکوم چی نوم به یی احمد وی . نو کله چی هغه ، هغوی ته ښکاره اوروښانه دلیلونه راوړل نو دوی وویل چی دا ښکاره جادو دی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهغوی داستدلال کولو لار:

مرزا شبیرالدین قادیانی لیکلی دی چی ددی عبارت څخه دا په ډاګه کیږی چی هغه (مرزا قادیانی ) خپل ځان ددی نوم مصداق ګرځولی دی . ځکه چی هغه دهمدی دلیل له مخی ثابته کړی ده چی که چیری په دی ځای کی رسول الله صلی الله علیه و سلم تر ی مراد وای نو د محمد صلی الله علیه و سلم لفظ به یی راوړی و ، دلته خو د احمد د لفظ وړاند وینه شوی ده ، چی تری را څرګندیږی چی دا بل کوم شخص دی ، چی نوم یی احمد دی ، نو دا حواله بلکل په ډاګه کوی چی تاسی (مرزاقادیانی ) احمد یاست ، بلکه ددی وړاند ویینی مصداق پخپله تاسی یاست . ( انوار خلافت ۳۷مخ)

ځواب : دا خو په مکمله توګه او له هره اړخه د الله د کتاب تحریفول دی . او د احمد څخه د مرزا غلام احمد نوم اخستل ، ښکاره کفر دی چی ډیر علتونه لری.

لمړی علت : په قرانکریم کی او هم د عربو په ژبه کی د( بعد) د لفظ سره د (من) حرف ذکر کیږی . هلته چی د (بعدیت ) سره یوځای اتصال هم موجود وی او ددی څخه یی دمقصد تاکیدول وی لکه چی فرمایی :

الذین ینقضون عهدالله من بعد میثاقه

ثم عفونا عنکم من بعد ذلک

ثم بعثنا کم من بعد موتکم

ثم یحرفونه من بعد ما عقلوه

او په دی ترتیب بی شمیره آیتونه راغلی دی.

په دغی آیتونو کی د تاکید اومبالغی په توګه تری اتصال مراد دی.

نو په دی مبارکو آیتونو کی هم د عیسی علیه السلام نه وروسته هغه رسول مراد دی چی د عیسی علیه السلام نه وروسته مبعوث کیږی . خو په دی بعدیت کی بله کومه واسطه نه شته او هغه یواځی او یواځی محمد رسول الله صلی الله علیه و سلم دی.

دویم علت : د اچی قرانکریم د عیسی علیه السلام دراتلو نه سمدستی وروسته د را تلونکی رسول یادونه پریږدی او د ډیر وروسته راتلونکی ( دنبوت درواغجن دعوه کونکی ) یادونه وکړی نو دا خو دعبارت د لیکلو هم خلاف دی

.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دریم علت : د حیرانتیا وړ خبره ده چې میرزا د عیسی علیه السلام نبوت اورسالت هم نه مني، بلکه هغه ته شکنځل کوی اوبیا دلته دهغی له اړخه زیری (بشارت ) دځپل ځان له پاره مصداق ګرځوی . ( پرداسی عقل اوپوهه باندی بایدوژړل شی).

څلرم علت : دلته که چیری دغه دعوه لرونکی قادیانی تری مراد وی ، نو بیا خو د غلام احمد دنوم یادول په کار و ځکه چې مرزایی ، احمد، نه دی بلکه غلام احمد دی ، لکه څنګه چې دهغی مور اوپلار پری دانوم ایښودی دی.

۱۱ -و لو تقول علینا بعض الاقاویل لاخذ نا منه بالیمین ثم قطعنا منه الوتین ( الحاقه ۴۴)

ژباړه : او که چیری دوی پرمونږ باندی کومه خبره جوړوی نو مونږ د هغوی ښی لاس نیسو او دهغوی د شا رګ پری کوو.

د هغوی داستدلال کولو لار:

مرزا وایی چې په دی آیت کی د درواغجن نبی نښې نښانی ښوول شوی دی چې الله تعالی دداسی وګړی ښی لاس نیسی او دهغی د شا رګ ورغوڅوی . نو که چیری زه (مرزا) درواغجن وایی ،نو له ماسره بیا داسی ولی ونشول.

ځواب : ددی مبارک ایت سیاق او سباق واضح او څرګند دی ، چې دا د محمدرسول الله صلی الله علیه و سلم له پاره خاص دی ، چې که چیری هغه کومه جمله ( په الله تعالی باندی د افتراْ له پاره) د خپله اړخه جوړه کړی نو په همدی طریقی سره به هلاک کړل شوی وای . دلته په ایت کی د عموم صیغه نشته ، اوعلت یی دادی چې د نبی صلی الله علیه و سلم په زمانه کی مسیلمة الکذاب او اسودعنسی هم د نبوت درواغجنی دعوی کړی وی . مګر هغوی هم دداسی طریقی په واسطه نه دی هلاک شوی . نو ایا مرزایی به په خپل دغه ډول استدلال سره نبی وګرځی ؟ ابدا ، ابدا نه.

اخری خبره داده چې د نبوت د پایی ته رسولو (ختم نبوت ) له پاره بلکل څرګند او ښکاره نصوص موجود دی ، چې دهغوی څخه د یو شمیر یادونه مخته وشوه ، چې دعقل خاوندان پری پوهیدای شی . ددی ترڅنګ چې د نبوت د اجراْ له پاره (ددوی له اړخه) څومره دلیلونه وړاندی کیږی نو په هغوی کی یی قرانی آیاتونه یا خو وروستنی(مابعد) د مخکینیو(ماقبل ) سره قطع کړ دی او یا یی تری یوه احتمالی معنا اخستی ده چې د تردید له پاره یی څرګند آیاتونه موجود دی او یا یی یواځی د مضارع د فعل په یادولو سره استدلال کړی چې بلکل دعربیت د قانون پرخلاف دی

څلرم باب دنبوت او رسالت تر مینځ لغوی او اصطلاحی توپیر

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دی اقسامو کی د (ظلی بروزی نبوت ) له پاره هیڅ ځای نشتــــــه.

لغوی توپیر یی دادی : چی رسالت ، په دنیوی امورو یا دینی امورو کی ، دیو چا پیغام نورو ته ور رسول دی .

اصول دادی چی دا شخص به ددی کار نسبت د مرسل لوری ته کوی ، خو دخپله اړخه نسبت نشی کولای . د (ارسل ، او ، یرسل ) الفاظ په قرانکریم کی د مختلفو شیانو له پاره استعمال شوی دی . خو د رسول لفظ او دهغی جمع یواځی شرعی رسولانو یا ملایکو له پاره استعمال شوی ده خود لغوی معنا له اړخه یواځی یوه ځای کی استعمال شوی دی.

فلما جأ ه الرسول قال ارجع الی ربک ( یوسف ۵۰)

نبوت په لغت کی (ناقصه واوی ) یا (مهموزاللام ) ،یعنی دنبوت څخه اخستل شوی ، چی معنا یی د شان عظمت (ستروالی )، یا نبأ څخه اخستل شوی چی معنایی (اخبار ) ده . په قران کی یی استعمال د اخری معنا په اعتبار سره شوی دی . ( نبأت ، نبا، من انباک ، ینبی ، نبی او نور ، په هر ځای کی د اخبار په معنی راغلی ده ، داکه د خیر خبر وی او که د شر خبر.

خو د نبی لفظ او دهغی جمع یواځی د شرعی نبی له پاره په قرانکریم کی مستعمل دی.

شرعی اصطلاحی توپیر:

په دی هکله د علم او دپوهی دخاوندانو له اړخه دری مختلفیویناوی راغلی دی:

لمړنۍ وینا: رسول عام دی اونبی خاص ، یعنی د رسول لفظ دبشر، پیری او ملایکو له پاره استعمالیږی او د نبی لفظ یواځی د بشر لپاره ځانګړی شوی دی.

په قرانکریم کی د رسول اطلاق ملایکو ته دمفرد اوجمع د صیغی، دواړو سره راغلی دی ، لکه چی فرمایی:

قال انما رسول ربک لاهب لک غلاما زکیا ( مریم ۱۹)

الله یصطفی من الملایکة رسلا و من الناس ( حج ۷۵)

حتی اذا جأتهم رسلنا یتوفونهم قالو ا این ما کنتم تدعون من دون الله ( اعراف ۳۷)

یا معشر الجن و الانس الم یأتکم رسل منکم ( انعام ۱۳۰)

)په دی کی آیتونوکی د یوه تفسیر له مخی د پیریانو رسول داخل دی (

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دویمه وینا: رسول ، د هغه شخصیت سره ،ځانګړی شوی دی ، چاته چی د الله تعالی له لوری کتاب ورکړل شوی وی اویاد پخوانی نازل شوی کتاب په تبلیغ باندی مامور شوی وی . او هغه ته مستقل شریعت ( په فروعو او اعمالو،دواړو، کی) ورکړل شوی وی.

او نبی عام دی ، هرهغه بشر ، چی د الله تعالی له لوری ورته وحی راغلی وی ، که څه هم هغه د نازل شوی کتاب پر تبلیغ او د مستقل شریعت په لور په بلنی (دعوت ) باندی مامور شوی وی او که نه وی مامور شوی .

د یو شمیر پوهانو په وړاندی ښځه هم (نبیه) جوړیدای شی لکه مریم علیه السلام چی وه . ځکه چی الله تعالی هغه ته خطاب کړی دی .

خو دا قول او وینا صحیح نه ده ځکه چی الله تعالی دهغی دبشری صفاتو په لړکی د هغه لوړ صفت (صدیقه) ذکر کړی دی . دلته ددی خبری تفصیل ته اړتیا نشته.

دریمه وینا: هر نبی رسول دی او هر رسول نبی دی . ځکه چی الله تعالی د بنی اسراییلو انبیأ کله د ( النبیون ) اوکله هم د (الرسل ) په نامه یادکړی دی. په همدی ترتیب د النسأ د سوری په (۱٦۳) آیت کی د دولسو انبیاَو علیه السلام ذکر شوی دی . او په هغی کی یی د ( والنبیون من بعده ) الفاظ راغلی دی . بیا یی په (۱٦٥) آیت کی فرمایلی دی ( رسلا مبشرین و منذرین ) ، په دی الفاظو کی دا اشاره شوی چی هغوی انبیأ هم وول او رسولان هم.

دمریم په سوری کی د موسی علیه السلام او اسماعیل علیه السلام په هکله فرمایی چی:

و کان رسولا نبیا.

زمونږ د نبی صلی الله علیه و سلم په اړه د اعراف د سوری په (۱٥۷) آیت کی فرمایی چی :[الرسول النبی ]

ددغه دواړو صفاتو د جمعه کولو په وخت کی ددوو حیثیتونو اعتبار موجود وی ، دالله تعالی په نسبت رسول دی (بالنسبه الی الله ) او د مخلوق په نسبت نبی دی ( بالنسبه الی الخلق).

توجه: ددغی مبارکو آیتو څخه په ډاګه کیږی چی د وحی په اړوند د الله تعالی د مقربو بندګانو یواځی دوه صفته مخته راځی او هغه د (رسول) او( نبی ) دی . او په داوړو صورتونو کی یی هماغه شرعی معنی معتبره او باوری ده چی مخته لیکل شوی ده . ددی نه علاوه دقرانکریم په هیڅ نص کی (ظلی بروزی نبی ) او یا نور داسی الفاظ او مراتب نه دی راغلی.

دا د مرزا د خپله ځانه جوړشوی مراتب او اصطلاحات دی چی د شریعت سره نیغ په نیغه په ټکر کی دی.

بلی! مرزا د بایبل ، تصوف او اشراق څخه دا تر لاسه کړی دی چی یو حقیقی نبی وی او پاته نور د هغی پیروان اوتابعدار، لکه ظل ( سیوری ) چی دکوم شی تابع وی . او هغه ته ضمنی هم ویل کیږی . خو کله چی الله تعالی او

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهغی رسول صلی الله علیه و سلم ددی اجازه نه وی ورکړی او دحقیقی نبی او رسول نه پرته یی بل هیڅوک د وحی د نازلیدو وړ نه وی ټاکلی ، ځکه چی د ختم نبوت سره دا لازم دی چی د خاتم النبیین څخه وروسته د وحی را کوزیدل بند شوی دی ، نو دهغی وروسته د ظلی بروزی اونورو دروازی بندی شوی.

ددی نه علاوه د حیرانتیا وړ خو داده چی د ظلی په معنی، چی په ټولو اوامرو او نواهیو کی به د خاتم النبیین صلی الله علیه و سلم تابعداری کوی او د خپله اړخه به کوم امر او نهی نه صادروی ،( خو مرزا په دی ځای هم نه دی تم شوی ) بلکه ددی ځای اومقام څخه نور هم مخته تللی دی اوپه خپله رساله ( مبین ۴) کی په (٦-٧مخونو ) کی یی لیکلی چی : ( ځکه چی زما په وحی کی امر هم شته او نهی هم ).

دغه ډول متضاد دعوی به انشأالله په نهم باب کی د ځواباتو سره یوځای راشی.

گټی یی: د عربیت له اړخه رسول او نبی دوه مشابه صفتونه دی ، چی په کی د فاعلیت معنی را نغښتی ده . فاعلیت او (مبنی للفاعلیة ) په دوو ډولو دی:

یو هغه ، چی د کوم ذات سره یواځی فعلیت قایم شوی وی ، ددی نه اخوا دبل شی اړتیا ورته نه وی . لکه :آکل ، شارب ، ضارب ، ناصر، الحی ......او نور. نو په هغی کی یواځی د آکل اوشرب ، ضرب ، نصرت ، حیات موجودیت د یوه ذات سره دی . په دی کی فاعل ته د خپل فعل د انجامولو ددعوی د ښکاره کولو شرط نه شته.

دویم : فاعلیت او( مبنی للفاعلیت ) داسی الفاظ دی چی په هغی کی د یوه ذات سره یواځی د فعل قیام بسنه نه کوی بلکه د فعل دقیام سره یوځای د هغی دعوی کولو ته هم اړتیا شته.

دنمونی په توگه : دمومن او مسلم صفتونه د ایمان او اسلام سره یوځای ، هغه د ایمان او اسلام په ښکاره کولو هم مکلف دی. په دی ترتیب رسول او نبی هم هغه ذات دی چی په کی د نبوت اورسالت صفت الله تعالی ایښودی دی لیکن دهغی سره یوځای پر هغوی فرض دی چی دخپل نبوت اورسالت اعلان وکړی او خلکو ته پر هغی د ایمان راوړلو بلنه ورکړی.

په دی ځای کی د عیسی علیه السلام په نزول باندی هیڅ ډول نیوکه نشی کیدای . ځکه چی د نزول نه وروسته عیسی علیه السلام د خپل رسالت او نبوت دعوی هم نه کوی او نه هغی لور ی ته څوک دعوتوی . ( دغه مسله ما په پوره تفصیل سره په خپل کتاب ( دحدیثو د انکار څخه د قران تر انکاره پوری، �داکتاب په پښتو ژباړل شوی دی� ) د عیسی علیه السلام د نزول په هکله د منکرینو نیوکو ته په ځواب ځیرلی ده او دا ډیره مهمه نکته ده.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پنځم باب د عیسی علیه السلام دنزول په هکله اعتراضات (نیوکی )او دهغی ځوابونه:

مرزا غلام احمد په یوه ډول سره د عیسی علیه السلام دنزول په اړوند احادیث منی ځکه چی ( لکه چی په راتلونکی کی به ،انشأالله ، بیان کړل شی ) دهمدی احادیثو څخه غواړی خپل (درواغجن ) نبوت ثا بت کړی خو پر هغوی کی په باطله توګه تحریف او تأویل کوی ، چی دهمدی له مخی هغّه د عیسی علیه السلام د نزول څخه منکر دی : په دی اساس دعیسی علیه السلام د نزول په هکله هغه څه نیوکی لری . او هغه داچی:

لمړۍ نیوکه (اعتراض ):

په قران کریم کی د عیسی علیه السلام د نزول یادونه نه ده شوی!

ځواب : قران کریم تل د دوه متضادو شیانو څخه د یوه یادونه کوی اود بل شی په هکله سکوت ( چپتیا ) خپلوی ، چی دی ته د بدیع په علم کی اکتفا(بسوالی) وایی . دنمونی په توګه : الله تعالی فرمایی: [ بیدک الخیر ] ، دلته د شر لفظ هم تری مراد دی ، ځکه چی هغه (شر) هم د الله تعالی په لاس کی دی ، خو دلته یی حذف کړی دی.

په همدی توګه الله تعالی فرمایی :

]فاذا افضتم من عرفات فاذکروا الله عند المشعر الحرام ..( وقال ) ثم افیضوا من حیث افاض الناس[ .

ژباړه :کله چی تاسی د عرفات څخه را وګرځۍ نو د مشعر حرام سره د الله تعالی ذکر کوي ، ..(اوفرمایی ) بیاتاسی دهغی ځای څخه را وګرځۍ لکه څرنګه چی نور خلک را ګرځی .

دلته په دی آیت کی د عرفات څخه د راستنیدو او بیرته تللو ذکر شوی دی ، خو عرفات ته د تللو حکم په کی نشته ، خو دعقل له مخی را څرګندیږی چی انسان د یوځای څخه بیرته هغه وخت را ستنیږی چی لمړۍ هلته تللی وی ، او دی ته هم اکتفا وایی.

په همدی توګه ، د قرانکریم پر هغه ځای کی چی د عیسی علیه السلام (رفع) په دوه ځایو کی راغلی لکه:

و رافعک الی (ال عمران ۵۵) [ او تا زه دخپل ځان په لوری پورته کونکی یم ]

بل رفعه الله الیه ( نسأ ۱۵۸) [ بلکه الله تعالی هغه د خپل ځان په لوری پورته کړ ]

نو لازم خو دادی چی کله چی انسان په یوه لوړ او پورته ځای و خیژی نو بیا ضرور د هغه ځایه ،یو وخت نه یو وخت را ښکته کیږی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دویم ځواب : یو شمیر حکمونه او حالات په نصوصو کی د نص د عبارت ( عبارت النص) په شکل کی وی نو یو شمیر نور یی د ( اشارة النص) او ځینی نور یی د( دلالة النص) په بڼو کی راغلی وی . چی په قرانکریم کی په دی هکله ډیر مثالونه موجود دی.

دلته که څه هم په (عبارة النص ) کی د نزول ( راښکته کیدو) یادونه نه ده شوی ، خو په ( اشارة النص او دلالة النص ) کی یی دوه ځایه ذکر راغلی دی : لکه:

۱ـ یکلم الناس فی المهد و کهلا ( ال عمران ۴٦) [ د خلکو سره به په غیږ (زانګو) او بوډاوالی کی خبری کوی ].

۲ـ و یعلمه الکتاب و الحکمة و التوراة و الانجیل ( ال عمرا ن ) [ او هغه ته د کتاب ( قران ) او حکمت( حدیث ) او د تورات او انجیل تعلیم (پوهه ) به ورکړل شی .]

دلته یی په لمړی آیت کی فرمایلی دی چی [ خلک به د عیسی علیه السلام سره په مهد( دمور په غیږ ) کی خبری کوی اوهم به ورسره د کهولت ( بوډاوالی ) ته د ورسیدو په وخت کی .]، دلته پو ښتنه داده چی د کهولت په زمانه کی خو هر انسان خبری(نطق) کولی شی، نو بیا په دی کی د عیسی علیه السلام ځانګړتیا څه ده؟

ځواب : په دی کی اشاره شوی چی د کهولت نه ترمخه هغه اسمان ته پورته کول کیږی ، او اسمانی عمر د ځمکی په عمر کی نه شمیرل کیږی . نو څرګنده شوه چی د نزول نه وروسته به د کهولت زمانه وی او په هغی وخت کی به دخلکو سره خبری کوی.

په بل آیت کی یی فرمایلی دی چی : عیسی علیه السلام ته به د کتاب ، سنتو ، تورات او انجیل ښوونه (تعلیم ) ورکول کیږی ،نو تورات خو دهغی تر مخه نازل شوی و او انجیل پخپله پر هغه نازل شوی و، نو دا کتاب او حکمت څه شی دی ؟

ښکاره ده چی دا د تورات او انجیل څخه علاوه نور علوم دی ، او هغه دقرانکریم او د رسول الله صلی الله علیه وسلم دسنتو څخه عبارت دی.

دقران او حکمت لفظ په زیاتو ځایو کی د قران او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سنتو له پاره را غلی ، نوپه ډاګه شوه چی د نزول نه وروسته به هغه د قران او سنتو په مطابق پریکړی کوی.

دریم ځواب : زمونږ د اسلام ددین بنسټ په جلی (ښکاره ) وحی او خفی (پټی ) وحی ، دواړو باندی اینښول شوی دی چی دهغی له پاره دقرانکریم دغه آیت [ اطیعوا الله و اطیعوا الرسول ] بیا بیا ذکر کیدل ددی خبری ستر ګواه ( شاهد) دی..

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله تعالی ، یو شمیر اخبارونه او د قران کریم احکام نازل کړی او یو شمیر نور د رسول الله صلی الله علیه وسلم په احادیثو کی ذکر شوی دی . نو د عیسی علیه السلام د رفع ذکر ، الله تعالی په قرانکریم کی را وړی او د عیسی علیه السلام دنزول یادونه د په صحیح احادیثو کی موجوده ده . ( ددی له پاره مو پخپله پخپل کتاب �انکار حدیث سی انکار قران تک � کی نوی (۹۰) احادیث را یوځآی کړی چی د هغی ډلی څخه یو شمیر صحیح ، یو شمیر احسن ، او یو شمیر کمزوری دی او په هغی کی مونږ دا ثابته کړی ده ، چی د عیسی علیه السلام نزول په پرلپسی (تواتر ) توګه ثابت دی .)، دزیاتی څیړنی له پاره هماغه کتاب ته رجوع وکړی.

دویمه نیوکه (اعتراض):

اسمان ته ختل (رفع ) او بیا د هغی څخه را ښکته کیدل (نزول ) ډیر ستر عزت او اکرام دی ، نو په کار خو دا و چی دا عزت الله تعالی محمدرسول الله صلی الله علیه وسلم ته ور کړی وای، ددی څخه خو زمونږ په نبی محمد صلی الله علیه وسلم باندی د عیسی علیه السلام فضیلت (غوره والی ) ثابتیږی ؟

ځواب : ۱ـ الله تعالی په قرانکریم کی د سورة نسأ (۱۵۸) آیت کی د رفع د ذکر نه وروسته فرمایلی دی چی :[ وکان الله عزیزا حکیما]، په دی جمله کی دوه نیوکو ته ځواب ویل شوی دی.

لمړی: دا چی د رفع له پاره کومه ذریعه لکه هوایی جهاز ، سیارة ، اویا نورداسی وسایل نه و، او په ساینسی توګه دا ثابته ده چی پورته خلا هم شته چی حیوان په کی د اکسیجن پرته ګذاره نشی کولی ، نوبیا د عیسی علیه السلام رفعی څه ډول صورت ونیو؟ نو د (عزیزا ) په لفظ کی یی دهغی ځواب وواېه . اوهغه داچی : الله تعالی چی وغواړی یو کار وکړی هغه کوی، دهغی مخته کوم خنډ نه شی مانع کیدای ، اونه هغه اسباب او وسایلو ته اړمند دی.

دویمه نیوکه: دا چی ولی الله تعالی دا اعزاز بل کوم نبی او په ځانګړی توګه زمونږ نبی صلی الله علیه وسلم ته نه دی ورکړی ؟ نو د ( حکیما) لفظ ددی له پاره (اجمالی) ځواب دی ، دا چی په هرکار کی الله تعالی خپل حکمت لری ، که څه هم زمونږ پوهه او علم به تر هغه ځایه پوری ورسیږی او که وبه نه رسیږی.

دویم ځوال : دغه ډول فضیلت ته ، جزُیه فضیلت ویل کیږی . او د هر رسول له پاره ضرور یو ځانګړی فضیلت موجود وی . دنمونی په توګه آدم علیه السلام ته د ټول انسانی نسل دپلار فضیلت ورکړل شوی دی.، همدا راز نوح علیه السلام ته د اوږود عمر فضیلت ورکړل شوی و ، او ابراهیم علیه السلام ته د اور څخه د خوندی پاته کیدو فضیلت . موسی علیه السلام ته یی د امصا څخه د مار د جوړیدو او د لاس د لمر په څیر د ځلیدو فضیلتونه او عیسی علیه السلام ته پرته د پلار دموجودیت نه د پیدا کیدو فضیلت.

په همدی توګه جزوی اوخاص فضیلتونه خو زمونږ نبی صلی الله علیه وسلم ته ډیر زیات ورکړل شوی دی ، چی یادونه یی په قران او حدیثو کی هر ځای موجوده ده . خو په مجموعی توګه ټول فضیلت (کلیه ) یواځی زمونږ نبی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



صلی الله علیه وسلم ته ورکړل شوی دی .[ ورفعنا بعضهم درجات ] کی هم دی لور ی ته اشاره شوی ، نو په دی اساس ددغسی نیوکو هیڅ حیثیت نشته.

دریمه نیوکه:

دا چی عیسی علیه السلام به د نزول نه ورسته نبی وی یا امتی � په لمړنی صورت کی د نبوت د ختمیدو د مسلی سره ټکر کوی ،ځکه چی الله تعالی د انبیأو د راتګ دروازه بنده کړی نو وروسته بیا د عیسی علیه السلام د مبعوث کیدو مطلب څه شو ؟ او که چیری امتی وی نو بیا یی د نزول ګټه څه ده ؟

ځواب : مخکی می ثابته کړه چی نبی داسی مشتق اسم دی چی په کی دوو شیانوته اړتیاده ، اول د نبی د ذات سره د نبوت صفت پیداکول ، او دا همیشنی دی ، یعنی د مړینی وروسته هم نبی ، نبی دی لکه چی الله تعالی فرمایلی دی [فأولـــک مع الذین انعم الله علیهم من النبیین ] یعنی د مړینی نه وروسته د انبیأو ډله به وی ،چی د الله تعالی او رسول الله صلی الله علیه وسلم اطاعت کونکی به دهغوی سره یوځای وی.

دویم : د نبوت د راښکاره کیدو(اظهارنبوت ) او د نبوت په لور دبلنی ( دعوت الی النبوت ) دی ، چی په دنیوی ژوند کی دنبی سره تړلی دی ، خو دمړینی وروسته او په قیامت کی ددی صفت اړتیا نه شته . نو د ځواب نتیجه دا شوه چی عیسی علیه السلام به د نزول نه وروسته د نبی په صفت موصوف(ستایلی) شوی وی خو د خپل نبوت په لور به بلنه او دعوت نه ور کوی . نو په دی اساس ، په یوه حیثیت سره به هغه نبی وی او په بل حیثیت سره به هغه امتی وی.

ددی ځیړنی څخه وروسته نور نو دا پو ښتنه نه را پیدا کیږی چی د عیسی علیه السلام د نزول څخه په ختم نبوت کی کوم زیان را پیدا کیږی .ځکه چی په خاتم النبیین کی د النبیین څخه مرادکه دنبوت دعوه کونکی او دخپل نبوت په لور بلونکی اوسی، نو دداسی انبیأو لړۍ پای ته ورسیده ، نوکه چیری داسی نبی چی د پخوا څخه نبی وی خو د جناب محمدرسول الله صلی الله علیه وسلم باندی د ختم نبوت نه وروسته دخپل نبوت په لور دعوت او بلنه نه ورکوی ، تشریف راوړی نو دهغی په راتللو سره ختم نبوت ته کوم زیان نه ورسیږی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شپږم باب د عیسی علیه السلام دنزول په اړوند احادیثوکی د مرزاییانو تحریف او د توفی معنی.

عن ابو هريرة رضى الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : و الذى نفيسى بيده ليوشكن ان ينزل فيكم ابن مريم حكما و عدلا فيكسر الصليب ويقتل الخنزير و يضع الجزية ويفض المال حتى لايقبله احد حتى تكون السجدة الواحدة خيرا من الدنيا ومافيها . ثم يقول ابوهريرة رضى الله عنه � و ان من اهل الكتاب الا ليؤمنن به قبل موته ويوم القيامة يكون عليهم شهيدا. ( د بخاری او ترمذی دواړو په روایت سره )

ژباړه :د ابو هريرة رضى الله عنه څخه روایت دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمایل : سوګند پر هغه ذات چی زماروح دهغی په لاس کی دی ، چی نژدی ده چی په تاسی کی به عیسی زوی د مریم ،پریکړی کونکی اوعدل کونکی ، را ښکته شی ، نو هغه به صلیب ټوټی ټوټی کړی ، خنزیر به ووژنی او جزیه به له منځه یوسی ، او مالونه به دومره زیات شی چی هیڅوک به یی اخستونکی (قبلونکی ) نه وی ، ان تردی چی یوه سجده به ددنیااو مافیها څخه بهتره او غوره وی.، بیا ابو هريرة رضى الله عنه وویل ، ( دا آیت ولولیء)، نه به وی هیڅ دکتاب خاوند ، مګر دا چی په عیسی علیه السلام باندی به دهغه د مړینی دمخه ایمان راوړی، او دقیامت په ورځ به عیسی علیه السلام پر هغوی ګواهی وایی.

دا حدیث د (۲٦) صحابه کرامو رضى الله عنهم څخه روایت شوی دی ، چی مونږیی تفصیل په ( انکار حدیث سی انکار قران تک ) کی په ۳۸۷م مخ کړی دی.

دا حدیث د عیسی علیه السلام د نزول په هکله بلکل صریح او د هرډول تاویل څخه پاک دی . خو کله چی مرزا غلام احمد ته څرګنده شوه چی د محمدرسول الله صلی الله علیه وسلم وروسته بل نبی راتلای نشی او یواځی عیسی علیه السلام به را ښکته کیږی نو مرزا د خپلی نبوت د(درواغجنی ) دعوی د ثبوت له پاره د عیسی علیه السلام سیټ دخپل ځان له پاره خالی کول غواړی ، نو هغه دعوه وکړه چی عیسی علیه السلام وفات شوی دی. او په دی حدیث کی د عیسی علیه السلام څخه مقصد زه (مرزا) یم . دهغی د استدلال کولو لار داده چی د (ینزل ) معنی ( پیدا کیږی به ) دی او په دلیل کی یی ( انزلنا علیکم لباسا ، او انزلنا الحدید) وړاندی کړی دی . چی دلته د انزال څخه مراد پیداینښت ( خلق ) دی په همدی تر تیب یی د ابن مریم سره مشابه ابن مریم مقصد اخستی دی او په دی حدیث کی یی د خپل نبوت د ثابتولو لپاره ناکامه هڅی کړی دی. حال دا چی دغه ډول تاویل بلکل غلط دی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



حال داچی،(ینزل ) د ( نزل ینزل ) مجرد فعل دی. په قرانکریم او یا بل هیڅ عربی کتاب کی دخلق( پیدایښت ) په معنی نه دی استعمال شوی. بلکه د پاسه د را ښکته کیدو په معنی باندی راغلی دی ، په قران کریم کی د هغی استعمال په دی توګه شوی دی.

وبالحق نزل . ــ نزل به الروح الامین ــــ و ماینزل من الحق ــ وماینزل من السمآ

په دی ټولو آیتونو کی د (نزل ، ینزل ) یواځی د راښکته کیدو او یا را ښکته کولو په معنی راغلی دی.

بلی ! په فعل مزید کی ، د افعال په باب کی (انزال ) کله کله د خلق ( پیدایښت ) په معنی هم راغلی لکه ( انزلنا الحدید) او ( انزلنا علیکم لباسا) . خو دلته هم یواځی د خلق پر معنی نه دی بلکه د اسمانی اسبابو او وسایلو او تدبیرونو په ذریعه خلق ته (انزال )ویل شوی دی . حال دا چی په دی حدیث کی د (ینزل ) لفظ د مجرد صیغه ده او دهغی څخه د (پیداکولو) معنی اخستل خالص او سوچه جهالت دی.

په همدی توګه ابن مریم (چی په څرګنده توګه اسم کنیت ) دی د عیسی علیه السلام په هیڅ نص کی مثیل یا دهغی شبییه نه شته . نوبیا مرزا د کومه ځایه دا لفظ را وویست ؟

بلی ! د شیطانی وسوسو اود ابلیس دتلبیس ښکار کیدو سره به یی دا ډول حماقت کړی وی.

توجه: په دی حدیث کی د بخاری په یوه روایت کی (یضع الجزیة) په ځای (یضع الحربة) لیکل شوی دی ، چی معنی یی د قتال پای ته رسول (ختمول ) دی . او دا خبره مرزا پر خپل ځان تپلی ده چی زه ددی له پاره مبعوث شوی یم چی قتال منسوخ کړم ، او د حدیث د همدغی لفظ ( یضع الحربة) څخه یی استدلال کړی دی.

ځواب دادی چی دا لفظ دکوم کتاب څخه سهوا لیکل شوی او یا د چا له اړخه تحریف دی .، ځکه د (الجزیه) د لفظ څخه یی د( جیم ) او( زاْ) نقطی لری کړل شوی دی او په همدی توګه یی د (یا) څخه یوه نقطه مسخه کړی او( حربة) یی تری جوړه کړی ده . په بخاری کی دا حدیث په دری ځایو کی موجود دی ، چی په دوو ځایو کی د (جزیی)لفظ دی ، او په هیڅ کتاب کی د ( حربة ) لفظ نه ثابتیږی . د حدیثو شاریحیونو هم دی لوری ته توجه نه ده کړی ، نو ددی نه معلومیږی چی دا د کتابت غلطی ده او یا دمرزاییانو تحریف دی.

د (یضع الجزیة ) معنی داده چی عیسی علیه السلام ( اماالایمان و اما السیف ) باندی به عمل کوی ، په داسی حال کی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم د عربو د مشریکینو سره دا ډول معامله کړی ده.

په همدی ترتیب مرزا غلام احمد د خپل ځان له پاره د سیټ دخالی کولو په خاطر د (متوفیک) په لفظ زور راوړی دی ، او وایی چی ددی معنی د روح قبضول دی ، یعنی په مرګ باندی محکوم کیدل ،( نو هغه مړ شوی دی).

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دی هکله ما په تفصیلی توګه تحقیق او څیړنه په خپل کتاب ( انکار حدیث سی انکار قران تک ) کی په ۵۸۲ مخ کی کړی ده . دلته په لنډه توګه لیکم چی : ددی لفظ څخه هیڅکله هم د عیسی علیه السلام وفات نه ثابتیږی . او دهغی څوعلتونه دی:.

لمړی علت یی :لغت پوهانو د توفی دوه معناوی ذکر کړی د ی..

)۱ (یوشی پوره اخستل ،

)۲ (روح قبضول.

خو لمړنی معنی حقیقی ده او دویمه معنی مجازی . پرته له اړتیا و (ضرورت ) نه د حقیقی معنا پریښول او دمجازی معنی اخستل د جاهلو خلکو کار دی.

ابن منظور د لسان العرف په ۱٦م جلد( ۳۵۹) م مخ کی لیکی چی:

توفی فلان و توفاه الله اذاقبض نفسه . و توفیت المال منه و استوفیته اذا اخذته کله . توفیت عددالقوم اذاعدتهم کلهم . هکذا فی تهذیب اللغة ص ۴۱۹ جلد ۸ ـ و هکذا فی المحیط ص ۴۳۷ جلد ۱۰ و توفی فی اللغة اخذ الشی وافیاتاما ص ۳۱ جلد ۳.

ژباړه : توفی دوه معناوی لری ، لمړی ، د نفس قبضول ، او دویم ، یو شی پوره اخستل ، د (استوفیته) معنی یو شی پوره اخستل ، توفیت عددالقوم ، کله چی یوقوم پوره وشمیرل شی . په همدی توګه په تهذیب اللغة کی ، په محیط او لسان العرب کتابونو کی هم راغلی دی.

تسهیل اللغة العربیة چی د قادیان چاپ دی لیکی چی د توفی حقیقی معنا ( دیو چا پوره اخستل دی او مړینه یی مجازی معنی ده )

زه وایم چی پر هغه ځایو کی چی توفی د مړینی په معنی راغلی دی نو هلته ضرور کومه قرینه شته ، د حیاة (ژوند ) او دهغی د لوازمو په مقابله کی د توفی یادونه به شوی وی . یا د ملایکة الموت یادونه ، یا د( انفس ) ذکر ، یا د عاقبت دعا ، یا وصیت او دوفات دعدت یادونه شوی وی او دقرینی ضرورت د مجازی معنی د اخستلو سره خاص ده.

د عیسی علیه السلام سره د توفی دلفظ د استعمال سره دقراینو څخه یو هم نه دی ذکر شوی بلکه هلته د رفع لفظ استعمال شوی دی. . یعنی کله چی د توفی لفظ ذکر شوی وی نو دا وهم را پیدا شو چی د (توفی کل ) څخه د جسم توفی مراد دی یا صرف د روح ؟ نو د رفعی د لفظ د وریوځای کولو څخه داسی معلومه شوه چی د ټول بدن توفی تری مراد دی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بله وجه : دا به ومنو چې توفی د مړه کیدو په معنی حقیقت دی ، خو دا هم حقیقت دی چې پوره معنی اخستل هم حقیقی معنی ده . نو داسی معلومه شوه چې دا یو مشترک لفظ دی او په مشترک لفظ کی قانون دادی چې دکومې یوی معنی داخستلو له پاره د قرینی ضرورت پیښیږی. دلته هم ، توفی ، د پوره اخستلو دمعنی له پاره د (رافعک ) قرینه موجوده ده او دلته تری همدا معنی مراد دی.

توجه : مرزا او دعیسی علیه السلام د نزول نور منکرین ، د ( رافعک ) څخه د درجاتو رفع مقصد اخلی ، او دقرانکریم د ځینو آیتونو حوالی ورکوی لکه :[ رفعناه مکانا علیا]، [ یرفع الله الذین آمنوا والذین اوتوالعلم درجات ]

زه وایم چی د (ر، ف ، ع ) ماده په قرانکریم کی په مختلفو صیغوسره (۲۲) ځایه راغلی ده چی د هغی څخه (۱۲) ځایه د (ددرجاتو رفع) مراد دی ، ځکه چی هلته د (درجی ، مکان علی یا بغیر الی ) قرینی موجودی دی ، او په (۱۷) ځا یو کی (رفع ) په خپلی حقیقی معنا باندی راغلی ده . لکه ( رفع ابویه علی العرش، الله الذی رفع السموات بغیر عمد ترونها ، رفع سمکها فسوا ها ....)

او د عیسی علیه السلام په اړوند د رفع د لفظ سره د (الی) ذکر شوی دی چی تر ی د رفعی د حقیقی معنی د اخستلو له پاره واضح او ځرګند دلیل دی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اووم باب دمرزا غلام احمد دپیداکیدو نیټه ،مړینه یی ، او د ژوندانه حالات یی.

د مرزا غلام احمد قادیانی د ژوند د حالاتو یو څه دلته په دی خاطر لیکو چی هیڅ په حقه نبی دداسی حالاتو سره نه دی مخ شوی لکه څرنگه چی (دغه درواغژن )مرزا غلام احمد ورسره مخ شوی دی. او دا دهغی په کذابیت (درواغژنی ) ، بلکه دهغی په احمقۍ ، بی وقوفۍ اوناسنجیدگۍ باندی ستر دلیل دی.

مرزا غلام احمد قادیانی ، دپنجاب دایالات د گوردا اسپور په یوه کلی قادیان کی پیدا شوی دی . دا سیمه د امرتسر څخه تر شمال شرق پوری د ریلوی د لاین تر څنگ نژدی یولس میله لری پرته ده . دهغه د پیداکیدو به تاریخ کی ډیر اختلاف دی . مرزا په خپله لیکی چی زه په ۱۸۳۹ یا ۱۸۴۰ کال د سکهانو په اخری وخت کی پیدا شوی یم . او به ۱۸۵۷ کال کی د شپاړسو یا اولسو کالو په عمر کی وم او لاتر اوسه می بریت او ږیره نه و راوتلی (روحانی خزانی ، ۱۳م جلد ، ۱۷۷مخ، مرزا خپله لیکنه )

بیا دهغی زوی مرزا بشیر احمد په خپل کتاب ( سیرة المهدی : دریم جلد پنځم مخ )کی لیکی چی د هغی د پیدا کیدو کال ۱۸۳٦ یا ۱۸۳۷ عیسوی کال دی . بیا په دریم جلد ، ۷٦م مخ کی لیکی چی دهغی پیدایښت ، ۱۳م د فروری ، ۱۸۳۵ عیسوی کال کی چی ۱۴ م شوال ، ۱۲۵۰ هجری کیږی د جمعی دورځی تاریخ یی صحیح گرځول شوی دی.

بیا په همدی دریم جلد، ۲۰۳ مخ کی لیکی چی د هغی د پیدایشت تاریخ ،معراج الدین ، اولسم د فروری ۱۸۳۲تاکلی دی . بیا دهمدی دریم جلد په ۱۹۴ مخ کی لیکی چی : په داسی حال کی چی نورو ۱۸۳۳، یا ۱۸۳۴ عیسوی کال کی د هغه پیدا ینبت ښوولی دی.

د مرزا د ملگرو په حال باندی انسان حیرانیږی چی په داسی حال کی چی مرزا پخپله دخپل پیدایښت وخت ۱۸۳۹ یا ۱۸۴۰ یادوی ، نو ملگری یی ولی دخپل نبی سره مخالفت کوی او دنورو مختلفو تاریخونو یادونه کوی . په داسی خلکو باندی دی تف وی چی دخپل نبی خبره نه منی.

بلی ! هغوی دا مخالفت په دی خاطر کړی دی چی هغه د خپل عمر په هکله یوه وړاند وینه کړی وه او دغه خلک په حقیقت کی دهغی د ریښتیا د ثابتولو هڅی کوی . لیکن انشأالله تعالی مونږ به یی په ۱۴م باب کی ثابته کړو چی دهغی دغه وړاندوینه په هرصورت درواغ وو .

دهغی په خپله ژبه د هغه دپیدا کیدو څرنگوالی:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه توأم ( جوړه ) پیدا شوی وم ، زما سره یوه نجلۍ وه ، چی نوم یی جنت و . او دغه الهام چی [یا آدم اسکن انت و زوجک الجنة] چی د نن څخه شل کاله پخوا ، د احمدیه د براهینو په ۴۹٦م مخ کی درج شوی دی په هغی کی د جنت لفظ سره یوه لطیفه غوندی ا شاره ده ، چی هغه نجلۍ چی له ماسره یوځای پیدا شوی وه دهغی نوم جنت و .

(بریاق القلوب ) په ۳۵۱م مخ کی پورتنۍ لیکنی ، د روحانی خزاینو به ۱۵م جلد ۴۷۹م مخ کی په همدی صفحه کی لیکی چی : لمړۍ هغه نجلی د ګیډۍ څخه راوتلی وه او تر هغی وروسته زه را ووتم . ددی وروسته زما د والدینو په کور کی هلک یا نجلۍ پیدا نه شوه او زه د هغوی له پاره خاتم الاولاد وم ( دلته خاتم د اخر په معنی دی )

په دی الهام او د هغی په مصداق کی ډیر توپیر موجود دی . الهام ( د هغی په زعم ) کی دادی چی ، ته او ستا ښځه په جنت کی اوسې، جنت د یوه خاص ځای نوم دی چی استوګنه په کی کیږی. نو د مرزا د خور په دننه کی څرنګه سوکونت کیدای شی.؟ په دی اساس دا د کوم عاقل نه بلکه د کوم لیونی وینا او لیکنه ده.

سیرة الهدی لسم جلد ، ۳٦ مخ کی لیکی چی:

ستا(مرزا ) څخه د مخه ، دوه کوچنیان ( دهغی خور او ورور) مړه شوی و په دی اساس مو ستا په غاړه کی بند(هنسلی) واچاوه ، او تاته به سیندهی ویل کیده . دکوم کوچنی په غاړه کی به چی سیندهی ( هنسلی ) واچول شو نو د (غیرالله ) نذر به پوره کیده او نوم به یی سندهی اینبول کیده.

دمرزا نسب او کورنۍ:

په نسبی توګه هغه د قراچاربرلاس نومی یو قوم سره تړلی و چی د تصدیق له پاره یی پخپله ، په خپلو لیکنو کی ډیره اوږده نسب نامه درج کړی ده ( کتاب البریه ۱٦۴ مخ ، او دحقیقة الوحی ضمیمة ۷۱مخ )

خو د مسیحیت او مهدیت د دعوی وروسته مرزا کله خپل ځان د فارسی النسل څخه ګڼې ، کله ځانته اسراییلی وایی او کله هم د چینی نسل څخه ځان ګڼې . اوبیا کله هم د فاطمة رضی الله عنهاد نسل څخه ځان ګڼې. او د حیرانتیاوړ خبره داده چی په دی څلورو مختلفو نسلونو کی د خپل ځان د ویشلو تر څنګ بیا هم په ختهٔ پوره مغل دی .( دا تفصیل پخپله د مرزا په لیکنو کی ، کتاب البریه ۱۳٦- ۱۳۵ مخونو ، د اربعین دویم، رساله ۱۷ مخ ، د اشتهار د یوی غلطۍ ازاله تحفه ګولړویه ۲٦ او ۴۰ مخونه کی موجود دی .)

دهغه د پلار نوم غلام مرتضی و دنیکه نوم یی عطا محمد او د غورنیکه نوم یی ګل محمد و، همدا ګل محمد دهمدی پنځوسو کلیو، د جایداد دهقان و چی په ۱۸۰۰ میلادی کال کی و مړ.

دمرزا دمور نوم چراغ بی بی وه چی پخپله د هغی په ژوند کی مړه شوی ده.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تعلیم یې :

دشپږو کالو په عمر یې دقادیان په کلي کې د مولوی فضل الهي حنفي څخه د قران مجید اوفارسي ژبې ښوونه پیل کړه . او بیا یې نژدې دلسو کالو په عمر کې دګوجرانواله د فیروز پوردسیمې داوسیدونکي مولوی فضل احمد (اهل حدیث ) څخه د صرف نحو درس پیل کړ( کتاب البریة حاشیه ۱٦۸-۱٦۹ مخونه ) ، بیا یې د منطق او حکمت او نورو شیانو زده کړه د مشهور شیعه عالم ، مولو ګل علی شاه څخه وکړه اوپه دې ترتیب یې د طبابت علم د خپل پلار څخه یاد کړ.

مرزا غلام احمد قادیاني دسیالکوټ د ډپټي کمشنر په کچرۍ کې د ۱۸٦۴ عیسوی کال څخه تر ۱۸٦۸ کاله پورې په ډیره کمه تنخوا ملازم و. په همدې وخت کې یې د پادری (مسټر شفیر ایم ای ) سره اړیکې و غزول . د برتاییې د مرکزی انټلیجنس د راپور په مطابق ، د سیالکوټ د څلور وګړو څخه مرزا ډیر د ښه نصیب خاوند و چې د نبوت له پاره منتخب کړل شو.

په ۱۸۸۰ کې یې براهین احمدیه یې و لیکه ، مرزا ته لمړی الهام په ۱۸۸۲ کال کې وشو نو هغه د ملهم من الله اعلان وکړ او بیا یې دخپل ځان له پاره د مجدد اعزاز منتخب کړ.. او (د هغې په خپل عزم ورته په) ۱۸۸۸ کال کې د بیعت اخستلو حکم نازل شو . په ۱۸۹۱ کال کې د مسیح موعود او ظلي نبي په توګه یې خپل ځان معرفي کړ اوبیا په ۱۹۰۱کال کې یې دنبوت دعوی وکړه.

دمرزا حیرانونکي حالات

د هغې او دهغې قلم دخاوندانو په قلم

۱ـ دمرزا لټون : هر څوک به چې د مرزا لیدلو ته را ته او دهغې په هکله به یې معلومات تر لاسه کاوه نو ورته به ویل کیده چې د مسجد د سقاوی په کومې نلکې کې یې ګوري ، که چیری هلته پیدا نشي نو بیا یې د مسجد په کوم کنج کې ولټوي او که چیری هلته هم پیدا نشي نو بیا ووینې چې په کوم صف کې را تاوکړل شوی درول شوی نه وی ، ځکه چې هغه په ژوندون مړی دی .( مجدد اعظم ۲۷ مخ ، ډاکټر بشارت احمد قادیاني )

دا د خندا وړ خبرې دي، په نلکې کې انسان څه کوی ، او په ژوندانه د مړه کیدو څخه څه مقصد ؟ په ژوندانه کې خو هر سړی یوځل مړ کیږی.

۲ـ د پلار ناراضایتي یې:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما پلار د نیکونو او اجدادو د کلیو د بیرته اخستلو له پاره په انګریزی عدالتونو کی مقدمات چلول ، هغوی په همدغی مقدماتو کی زه هم را لتاړ کړم . او تر یوی اوږدی مودی پوری په همدی کارونو کی مشغول وم. زه افسوس کوم چی زما ډیر قیمتی وخت په دغسی عبسو کارونو او جګړو کی تیر شو . ددی تر څنګ زما پلار د دهقانی په کارونو کی هم مصروف کړم ، زه ددی فطر ت او طبیعت انسان نه وم په دی خاطر به زیات وخت د پلار د ناخوښۍ سره مخ کیدم . ( روحانی خزاین ۱۳م جلد ، ۱۸۲ مخ د مرزا غلام احمد لیکنه )

څرګنده شوه چی خپل طبیعت یی د پلار په خوښیو مقدم ګاڼه ، او دا ډیر بد عادت دی ، بلکه ددی ښځه د مرزا د کار ښځه د ځان د پېتولو د عادت په هکله هم پوره پوره معلومات را په ډاګه کیږی

غولونه او دمال راټولول:

مرزا قادیانی په لمړیو کی د یوه عالم شکل خپل کړی و او اعلان یی کړی و چی هغه د عیسایت ، هندومت او د( اریه) دټولنو په هکله یو کتاب لیکی . چی په هغی کی د اسلام په حقانیت او ددغه یادو کړل شوو مذهبونو په بطلان به په کی څیړنه شوی وی . او دا کتاب به په پنځوسو جلدونو باندی مشتمل وی . مرزا قادیانی اعلان وکړ چی ټول مخیر خلک دی ددی کتاب په چاپولو او نورو امورو کی خپل کومکونه مخکی تر مخکی را ولیږی . د مرزا د وینا په مطابق ددی پنځوسو جلدونو د چاپولو رقم خلکو مخکی ترمخکی را ولیږه ، مرزا د براهین احمدیه په نوم دغه کتاب ولیکه او ویی ویلی چی د پنځوس برخو د لیکلو اراده یی درلوده خو اوس یی د پنځوسو پر ځای پر پنځو جلدو بسنه وکړه . ځکه چی د پنځوسو او پنځو تر مینځ یواځی د یوی نقطی تفاوت دی. په دی خاطر یی د پنځه برخو په پوره کولو یی دا وعده پوره کړه . ( براهین احمدیه ، پنځمه برخه ، مندرجه روحانی خزاین ۲۱ جلد ، ۱۹ مخ )

ددی څخه را څرګنده شوه چی د راغونډی کړل شوی چندی په واسطه د کتاب د چاپ او نورو مصارفو یواځی (۵/۱)برخه پیسی و لګیدی او پاته څلور پر پنځه برخی پیسی هغه پټی کړی . په همدی ترتیب په پنځوسو او پنځو کی توپیر نه کول هم د لیونو کار دی ، خو ددی لیونتوب شاته یوډیر ستر غل ، ټګ او ډیره ستره مکاره او مکروه څهره پټه ده.

ټوکه:

د متعلمی په زمانه کی زما( دکتاب دلیکونکی )یو متعلم ملګری و ، په رستم کی یو پانګه وال و کله به یی چی درجب په میاشت کی د ذکات پیسی ویشلی نو د ځینو په برخه کی به یی خپل خزانچی ته لیکل ، ځکه چی خزانچی یو بل کس و . دغه زکات ورکونکی زما ددی دوست له پاره په رقعه کی پنځه روپۍ ولیکلی ،خو دغه متعلم ورسره یو صفر زیات کړ اوهغه یی پنځوس کړی . د خزانچی لوری ته راغی ،نو دهغی په دغه رسید باندی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شک را پیدا شو او د معلومولو وروسته یی دا متعلم ډیر سپک کړ. نو متعلم وویل چی زما څه جرم دی ؟ ماخو یواځی یو صفر ورته ایښی و ، نو مرزا هم دهمدغی ذهن یوشخص دی.

دزناکاروا‌و کنجرو سره اړیکی:

لیکی چی یو شمیر فاسق، فاجر او زانی او ظالم او غیر متدین ، غل او حرامخور او د الله تعالی د احکامو مخالف تلونکی هم لیدل شوی دی چی په هغوی کی هم کله ریښتونی خوبونه را پیداکیږی ، او دا زما ذاتی تجربه ده چی ځینی ښځی چی دقوم او ولس پریښول شوی ، چی خوراک یی مردار او کار یی د جرایمو مرتکب کیدل و.، هغوی زمونږ تر مخه ځینی خوبونه بیان کړی چی بلکل ریښتونی و ختل . ددی نه اخوا نوره حیرانونکی چی یو شیمر زنا کاره ښځی او د ولس کنجر وګړی ، چی دنده یی شپه او ورځ زناکاری ده ، لیدل شوی دی چی هغوی هم ځینی خوبونه بیان کړی هغه پوره شوی دی ( حقیقة الوحی صفحه ۳، روحانی خزاین ۲۲ جلد ، پنځم مخ )

خبره صحیح ده چی کله کله د کافر خوب هم ریښتیا خیژی ، د هغی مثال د یوسف علیه السلام په واقعه کی د مصر د پادشاه واقعه ده . خو مرزا دلته یواځی د بدکاره او زنا کارو ښځو مثال بیان کړی ، چی تری څرګندیږی چی په (دالو) کی څه نا څه (تور والی ) هم شته . د تجربی د لفظ څخه څرګندیږی چی دهغسی ښځو سره اړیکی ساتل د مرزا عادت و.

ډیری زیاتی نقدی روپۍ په خپله لمن کی لیدل:

لیکی چی د ۱۹۰۵کال دمارچ د میاشتی په پنځمه ما په خوب کی ولیدل چی یو وګړی چی فرشته ښکاریده ما ته مخامخ راغی او ډیری زیاتی روپۍ یی زما په لمن کی واچولی.(داسی خلکوته یواځی مال په سترګو کیږی .) ماتری د نوم پوښتنه وکړه هغه وویل : نوم می نشته ، ما ورته وویل چی اخر کوم نوم خو به لری � هغه راته وویل چی زما نوم ټیچی،ټیچی دی. په پنجابی ژبه کی ټاکلی وخت ته ویل کیږی ، یعنی د ضرورت په وخت کی راتلونکی . زماسترګی وغوړیدی .(حقیقة الوحی صفحه ۳۲۲، روحانی خزاین ۲۲م جلد، ۳۴٦ مخ )

دا تجربه شوی ده چی که کوم مسلمان وګړی کوم قادیانی ته ټیچی ، ټیچی ووایی نو هغه پری په قهریږی ، نو دهغی نه یو ښتنه کیږی چی اخر د فرشتی پر نوم اخستلو باندی ولی دومره قهریږی ؟

د مرزا دژوند د نورو زیاتو حالاتو د پوهیدو له پاره به انشأالله دولسم باب کی څیړنه وکړو

)په مجموعی توګه تری انبیأ علیه السلام خوندی ساتل کیږی(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اتم باب د مرزا مختلفی ناروغتیاوی او حالا ت یی:

محقیقیونو او مفسرینو د ایوب علیه السلام د ناروغتیا په اړه لیکلی دی:

قال اهل التحقیق انه لا یجوز ان یکون بصفة یستقذره الناس علیها لان فی ذلک تنفیر ( ثم قال ) یجوز علی الانبیأ کل مرض بشری لیس محرما و لامکروها و لا مباحا مزریا ولا مزمنا و لا ما تعافه الانفس ولا مرض یؤ دی الی النفرة ( تفسیر روح المعانی ۲۰۸ مخ ، سورة ص)

ژباړه : محقیقینو ویلی دی چی دا روا نه دی چی کوم نبی په داسی صفتونو موصوف وی چی خلک یی گنده وگڼی او نفرت تری وکړی ( بیایی وویلی ) پر انبیأؤ هغه بشری ناروغتیا روا ده چی حرامه او مکروه نه وی او نه داسی مباح وی چی عیب لگونکی زیان رسونکی وی او نه داسی وی چی خلک هغه بده وگڼی او نه داسی ناروغتیا وی چی د نفرت له پاره سبب و گرځی.

خو د مرزایی جسمانی او دماغی ناروغتیاوی ( چی شمیره یی د یونیم درجن څخه زیاتی دی ) د نبوت شایان شان نه دی بلکه هغه په انسانانو کی معیوب گڼل کیږی ، بلکه دغه ناروغتیاوی د مرزا د الهاماتو پر خلاف هم دی.

په (تذکره مجموعه الهامات ) کی په ۸۰۳ مخ (دویم چاپ ) کی لیکی چی : ماته الهام و شو ، چی مونږ ستا د صحت ټیکه اخستی ده.

په (دریم نمبر اربعین په حاشیه کی په ۳۰م مخ کی لیکی چی هغه ماته په براهین احمدیه کی زیری راکړی چی د یوی خبیثی عارضی څخه دی خوندی ساتمه..

خو ددی ټولو سره د هغه د ناروغتیاو څخه د یوځو لست ته ځیر شی:

۱ـ سرگردانی ( هسټیریا ). سیرة المهدی لمړی ټوک ۱۳ مخ کی دهغی ددویم زوی بشیر احمد وینا ده چی:

ماته خپلی مور ویلی دی چی حضرت مسیح موعود (مرزا غلام احمد) ته په لمړی ځل دوه ځلی د سر گرځیدلو دوره (هسټیریا) د لمړی بشیر د مړینی (۴ نومبر ۱۸۹۹) څخه څو ورځی وروسته را پیدا شوه، او دهغی وروسته هغه ته په پرلپسی توگه دغه دوری را پیداکیدی.

۲ـ د( تشخید الاذهان ) اوم د جون ۱۹۰٦ ، په ۵ مه صفحه کی لیکی چی:

ماته دوه ناروغتیاوی دی ، یو دپاسه ټکان او بل دلاندی ټکان دی یعنی مراق او د متیازو زیاتوالی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکیم نورالدین لیکی چې مالیخولیا د لیونتوب یوه څانګه ده او مراق دمالیخولیا یوه څانګه ده (بیاض القلوب نورالدین لمړی جلد ۲۱۱ مخ )

۳ـ د تریاق القلوب ، ۷۵م مخ ، روحانی خزاین ۱۵جلد ، ۲۰۳ مخ کی لیکل شوی چې:

زما زړه او دماغ ډیر کمزوری و او زه د ډیرو ناروغیو نښه ګرزیدلی وم . او دوه ناروغتیاوی یعنی ذیابطیس (دقندناروغی) او د سر درد د سر د ګرزیدو سره یوځای د ډیر پخوا څخه زما په ژوند کی شامل شوی دی.، کله کله ددی ناروغیو سره د زړه تشنج هم را پیدا کیږی ، په دی خاطر زما د (نارینتوب ) حالت دنشت سره برابر د ی.( براهین احمدیه ۵م جلد، ۲۰۱مخ)

۴ـ د متیازو ډیرښت او ذیابطیس:

ماته د څوکالو راپه دی خوا د قندناروغتیا را پیښه شوی ده ، ۱۵ یا ۲۰ ځلی د ورځی متیازو ته ځم .( ضمیمه اربعین ۴۱۳مخ)

۵ـ نامردی:

تریاق القلوب په ۳۵ او ۷۱ مخونو کی لیکی چې:

د ځلوینښت کلنۍ په عمر کی می (نارینتوب ) له منځه تللی دی ، او د عمرخوړلیو خلکو په څیر ژوند لرم ، دکمزورتیا په اساس د یوه کوچنی په څیر وم.

٦ـ دق او سل ناروغتیاوی:

د تریاق القلوب په ۷٦م مخ کی لیکی چې:

ماته د (دق) ناروغتیا پیدا شوی ده ، خو دهغه زوی وایی چې مرزا ته د(سل) ناروغتیا پیښه شوی ده .( سیرة المهدی ۴۲۰م مخ)

۷ـ ددماغ کمزورتیا:

د فتح الاسلام په حاشیه کی په ۲۷ مخ کی لیکی چې:

پر ما ددماغ دکمزورتیاډیری سختی، سختی دوری راځی. همدا راز د( حقیقة الوحی ۳۰۷ مخ) کی لیکی چې : زه ددماغی کمزورتیا، ذیابطیس ( شوګر) او د سر د ګرزیدو په اساس بی طاقته شوی یم

۸ـ د حافظی کمزوری:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نسیم دعوت په ۷۱ مه صفحه کې په حاشیه کې د خپل ځان په هکله لیکي چې: ( حافظه مې ښه نه ده ،یاد راته نه پاته کیږي.)

۹ـ اسهال او بدهضمي:

په منظور الهی ۳۴۹ مخ کې مرزا لیکي چې:

ماته د اسهال ( پیچ ) ناروغتیاده او هره ورځ څو ځله (دستونه ) کوم . په قادیانی اخبار ریویوکې په شپږم مخ کې ٦م داگست ۱۹۲٦ کې لیکي چې: دا واقعیت دی چې حضرت ته د بدهضمۍ ، اسهال او دسر د گرزیدو عمومي شکایت و.

۱۰ـ قولنج :

تریاق القلوب صفحه ۱۸۲ او په حقیقة الوحی ۲۲۴ مخ کې لیکي چې :

)ماته یوډول سخت قولنج و، اوگړۍ په گړۍ به حاجت کې راڅخه وینه تلله(.

۱۱ـ بیکاره جسم اومسلوب القوی:

بدر ۲۴ می ۱۹۰٦ کې یې لیکلي دي چې :

که چیرې یوه لکیره هم لیکم او یا پرې فکر کوم نو د سر خطرناک دوران را باندې راځي او زړه مې ډوبیږي ، جسم بلکل بې کاره کیږي او جسماني قوتونه داسې گرځي چې گویا خطرناک حالت دی ، ته به وایې چې (مسلوب القوی) دی

۱۲ـ لکنت ( دژبې په خوزیدو کې ستونزې )

په سیرة المهدی دویم جلد ، ۲۵م مخ کې لیکي چې:

قاضي محمد یوسف صاحب ماته د پیښور څخه د پوستې له لارې په یوه خط کې لیکلي دي چې د حضرت مسییح موعود(قادیانی ) په ژبه کې څومره لکنت موجود و چې تا پرنالی ته پناله ویلی.

۱۳ـ د پوندو چاودیدل:

سیرة المهدی کې ، دویم جلد ۱۲۵ مخې کې مرزا بشیر لیکلي دي چې:

د پیر پوندې به ځینې وختونه په گرمیو کې چاودیدې.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۴ـ په سترگو کی (مایی اوپیا)

سیرة المهدی په دریم جلد ۱۱۹ مخ کی لیکی چی:

ډاکټر میر محمد اسماعیل ماته ویلی دی چی د حضرت صیب په سترگو کی (مایی اوپیا) دی نو په دی اساس د لمړۍ شپې میاشت نه شی لیدلی.

۱۵ـ په غاښونواو وریو یی ښوره لگیدلی و:

سیرة المهدی دویم جلد ۱۲۵ مخ کی بشیر مرزا لیکلی دی چی:

د هغی په اخری عمر کی دهغی مبارک غاښونه خراب شوی و او ځینو غاښونو باندی چینجی لگیدلی و چی ځینی وختونه به تری تکلیف کیده ، یوو خت د هغه د یوه غاښ څوکه دومره تیزه شوی و ه ، چی په ژبه کی یی ورته زخم پیدا کړ ، کله کله به یی هغه د ریگمال په واسطه برابر کړ خو هیڅکله یی هم غاښ نه دی ویستلی . ددی نه اخوا دهغه زوی بشیر مرزا په سیرة المهدی کی د نورو ناروغتیاو یادونه هم کړی ده.

توجه :

مونږ وایو : که څه هم انبیا علیه السلام د ناروغتیاو څخه خوندی نه و مگر:

لمړۍ دا چی هیڅ نبی د ناروغتیاو په مجموعی ککړ نه و لکه (درواغجن ) مرزا چی و.

دویم داچی په هغوی کی یو شمیر داسی ناروغتیاو ی هم دی چی خلک تری نفرت کوی او انبیأ کرام دداسی ناروغتیاو څخه خوندی و.

دریم داچی : یوڅوک ددومره ناروغتیاتر څنگ د نبوت مسولیتونه څرنگه تر سره کولی شی ؟

څلورم داچی : کله چی حافظه کمزوری وی او بدن هم سخت کمزوری سره مخ وی ، نوبیا دکتابونو دادومره انبار چا ولیکه اوڅرنگه یی را ټول کړل؟ نو څرگنده شوه چی مرزا غلام احمد قادیانی دروازه کوم بل چا خوزوله ، اوهغه یواځی د یوه مهر په توگه استعمالیده.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مرزا د حیرانونکو دعوو مختلف منزلونه:

دمرزا دعوی په تدریج سره د پرمختګ منزلونه طی کوی:

۱ـ دلیکونو لړی یی د ۱۸۷۷ نه پیل شوی ، په هغی کی یواځی د اسلام مبلغ و. په هغه وخت کی دهغی په لیکنو او ویناو کی د اسلام پر خلاف هیڅ خبره نه وه . بلکه په ۱۸۸۰ کال کی یی د براهین احمدیه په دویم جلد ، ۱۵۹م مخ کی یی په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندی د نبوت پای ته رسیدل (ختم نبوت ) ، او دهغی وروسته یی چاته الهام کول هم محال او ناشونی ګرځولی دی.

۲ـ ۱۸۸۲ کال کی یی په براهین ااحمدیه په دریم جلد ، ۱۲۷م مخ څخه تر ۲٦۷ م مخه پوریی ، خپل ځان د الهاماتو اوکراماتو څښتن ګڼلی دی.

۳ـ ۱۸۸۴ کال کی یی( دبراهین احمدیه په څلورم جلد ، ۵۰۲م مخ څخه تر ۵۵۸م مخه پوری یی) خپل ځان بزرګ او خدای ته رسیدلی شخصیت او محدث را څرګند کړی دی . او خپل ځان ته یی د ابراهیم، موسی ، او داود په څیر خطاب کړی او د فاروقی مادی دعوی یی کړی ده.

۴ـ په دی جلد کی یی نړی ته د مسیح علیه السلام دتشریف راوړلو په هکله اقرار کړی دی ، خو خپل ځان یی د مسیح سره د مشابه کیدو دعوی کړیده . یعنی د مسیح په هکله په( حدیث کی د ذکر شوو ) وړاندوینو ښکاره او جسمانی مصداق همدا دی . او مرزا په روحانی او معقوله توګه د هغی ځای او مورد دی او ددی له پاره یی اعلانات هم نشر کړل .

۵ــ بیا یو څو کاله وروسته په ۱۸۸۸ کال کی یی د یوه اعلان ( اشتهار ) په واسطه د مجدد دعوی وکړه ، او دخلکوڅخه یی د بیعت د اخستلو غوښتنه وکړه ، او اعلان یی وکړ چی زه الله تعالی د امت د کارونو د اصلاح له پاره مامور کړی یم. (مجموعه اشتهارات مسیح موعود ، ۲۹م مخ)

بیا نژدی دری نیمی میاشتی وروسته لدهیانه ته ولاړ او هلته یی په ۲۳دمارچ (۱۸۸۹) کال د یو شمیر پیروانو څخه بیعت واخست او د یوه منظمی ډلی بنسټ یی کښیښود. ( سیرة المهدی ٦۳م مخ)

او دا لړی د ۱۸۹۰ کال تر پایه پوری روانه وه.

٦ــ بیا (مرزا ) په ۲۲ م د جنوری ۱۸۹۱ کال ، د فتح الاسلام او دمرام دتوضیح تر نامه لاندی دوه مجلی نشرول پیل کړل اوپه هغوی کی یی دوه دعوی وکړی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لمړۍ دا چې مسیح عیسی ( علیه السلام ) په خپل طبیعی مرګ مړ شوی دی ، د هغی دوباره نزول نشته . او په حدیث کی د مسیح عیسی ابن مریم څخه مقصد دهغه شبیه دی . د فتح الاسلام د ۱۵ می صفحی په حاشیه کی لیکی چی : هغه مسیح چی راتلونکی و نو هغه همدا (مرزا) دی . او د توضیح المرام په لمړی سر کی لیکی چی : د نزول څخه مراد په حقیقت کی د مسیح ابن مریم نزول نه دی بلکه د استعاری په توګه دیوه (مثیل) مشابه مسیح د راتلو خبر دی ، چی مصداق یی د اعلان او الهام په مطابق همدا عاجز( مرزا) دی.

د ګولړویه دتحفی په ۱٦٥م مخ کی لیکی چی : زما دعوه ده چی هغه موعود (وعده کړل شوی ) مسیح زه یم ، د چا په هکله چی د خدای تعالی په پاکو کتابونو کی وړاند وینی (پیشنګویانی) شویدی ، چی هغه (مسیح) به په اخری زمانی کی راڅرګندیږی.

۷ـ ددی وروسته یی حیرانونکی او د عقل نه لیری تغیرات ذکرکړی دی، ( د کشتی نوح ) په ۴٦م مخ کی لیکی چی : دوه کاله ما په مریمیت باندی دموصوفی په غیږ کی پالنه کړی ده ، او په پردی کی را ستر کیدلم . او بیا یی همدا خبره د ازالة الاوهام په ۴۱۸م مخ کی او دحقیقة الوحی په ۷۲مخ کی هم کړی ده

۸ـ بیا په دغه نسوانی (دښځیتوب ) حالت کی یی د الله تعالی سره د پټو اړیکو ذکر کړی دی . په براهنی احمدیه ،پنځم جلد ، ٦۳م مخ کی یی لیکلی دی چی : ( زما له خدای سره یو (نهانی ) پټ تعلق دی ، چی د بیان وړ نه دی ) بیا یی په کتاب البریه ، ۷۲م مخ کی لیکلی دی : ( ای مرزا ! خدای په تاکی را ننوتی دی !) � العیاذ باالله �ـ

بیا دهغی یو ځانګړی مرید قاضی یارمحمد راوی ( په خپل کتاب (اسلامی قربانی ، چی مرزا د تصویر د ۷۳ صفحی څخه اخستل شوی )) لیکی چی : موعود مسیح یو ځل خپل حالت داسی بیان کړی دی ، چی پر ما دکشف حالت داسی راغی چی( ګویا ) زه (مرزا) ښځه یم او الله تعالی د نارینتوب د قوت څرګندونه را سره کړی ده .((العیاذباالله )) .((العیاذباالله ))

اوبیا پر خپل کتاب ( اینه کمالات ۹۴م مخ کی او د مکاشفاتو په ۹ م مخی کی یی ، ددی څخه نور هم ډیر چټیات او ارزلی برزلی ویلی دی .( د کفر نقل دی کفر نه وی )د اصولو پر بنسټ دا لیکل روا دی او که نه قلم د هغی د لیکلو څخه شرمیږی.

۹ــ د مرزا حیض په حمل ( په ګیډی کی په بچی) باندی تبدیل شو:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



یعنی ددغو پټو اړیکو په واسطه حیض بند شو او حمل تر ی جوړ شو.

دکشتی نوح د کتاب په ۴۵م مخ کی لیکی چی : دغه کوچنی دمور په ګیډه کی (د مرزا په ګیډه کی ) تر لسو میاشتو پوری پالل کیده . بیا لیکی چی : (دمریم څخه مراد همدا عاجز (مرزا) څخه دی ، (دکوچنی دپیدا کیدو ) درد زه د کجوری دتنی په لور یوړم او بیا دغه کوچنی په یوه ټوپ وهلو سره د پنځوسو کالو زوړ انسان ( مرزا ) و ګرزید .[نعوذبالله من هذه الخرافات و الوهیات اللهم العن من وضعها] ( په الله تعالی باندی دداسی خرافاتو اوواهیاتو څخه ( چی دغه درواغجن مرزا یی بیانوی ) پناه غواړم او الله تعالی دی پری خپل لعنت وکړی. امین ))

۱۰ــ ازالة الاولهام چی په ۱۸۹۱ کی نشر شوی دی دهغی د ۷۹ صفحی په حاشیه کی (لمړی چاپ او د پنځم چاپ په ۳۵م مخ کی ) لیکی چی : هغه وړاند وینه چی په سنن ابوداود کی شوی دی ، چی دماورا النهر څخه به د حارث ترنامه لاندی یو وګړی راښکاره کیږی چی د مهدی ملاتړی به وی نو دهغی وړاند وینی مصداق هم زه پخپله یم .

ددی نه وروسته د ۱۷مارچ ۱۸۹۴) مرزا د معیار الاخبار ترنامه لاندی یو اعلان خپور کړ چی په هغی کی خپل ځان په ډاګه مهدی موعود ښوولی دی.

۱۱ــ دمحدث یعنی دجزوی او ناقص نبی کیدو دعوی:

د رسالة توضیح المرام په ۱۸ او ۱۹ مخونو کی لیکی چی: په دی کی شک نه شته چی زه عاجز(مرزا) دالله تعالی له اړخه ددی امت له پاره (محدث ) پیدا کړل شوی یم. او محدث هم د خپلی یوی معنی له مخی نبی وی که څه هم هغه سره نبی نامه نه وی خو په جزوی توګه هغه نبی وی . بیا لیکی چی زه وایم چی : نه خو د ټولو وجوهاتو په بنسټ د نبوت دروازه بنده ده او نه د هریوه څخه په وحی مهر (ټاپه ) لګول شوی ده . بلکه په جزوی توګه د وحی اونبوت دروازه ددی مرحوم ملت له پاره د تل له پاره پرانستی ده . خو دا نبوت ، نبوت تامه (مکمل) نه دی بلکه یواځی جزوی نبوت دی.

۱۲ـ د مجازی نبوت دعوی:

د سراج منیر په دریم مخ کی او د قول فیصل په ۴ او ۵م مخونو کی لیکی چی: د نبوت د حقیقی معنی له مخی د انحضرت صلی الله علیه وسلم څخه وروسته نه کوم نوی نبی را تلای شی او نه پخوانی ، قران دداسی معنی د راښکاره کیده مانع دی . خو د مجازی معنی له مخی ، د الله تعال اختیار دی چی کوم ملهم دنبی په لفظ یا د

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرسل په لفظ سره یادکړی .بیا بیا وایم چی دا د رسول او مرسل او نبی الفاظ زما د الهام په اساس د الله تعالی سره بی له شکه زما نسبت په ډاګه کوی خو د خپلو حقیقی معناو له مخی نه شی محمول کیدای.

د انجام اتهم په ١٦ او ٢٧ مخونو کی هم نژدی همداسی لیکی .

کله د هغی نوم لغوی نبی ږدی ، ( ددویم اربعین په ١٨ مخ کی لیکی چی ) د ا د استعاری الفاظ دی ، ښکاره ده چی هر هغه څوک چی الله یی را استوی نو هماغه دهغی استازی به وی او لیږونکی ته په عربی کی رسول ویل کیږی . او د د الله تعالی څځه د غیب د خبرو د ترلاسه کولو ( دیوی ) ته به عربی کی نبی وایی . د اسلام اصطلاحی معنی یی بیله ده، دلته یواځی لغوی معنی تری مراد دی.

١٣ـ ظلی (د سیوری ) نبوت:

مرزا په خپلو کتابونو ، دین حق ٦٧م مخ کی او قول فیصل ۴م مخ کی لیکی چی :کوم کمالات چی الله تعالی د نبوت پر لړی کی ایښی دی نو په مجموعی توګه هغه په کامل هادی باندی پایی ته رسیدلی دی، خو اوس په ظلی توګه ، دتل له پاره د دین د مجدد په واسطه به نړیوالو ته خپل اغیز څرګندوی.

تر ١٩٠٠ کاله پوری که څه هم هغه مختلفی دعوی کولی خو دهغی سره یی د نبوت دختم (ختم نبوت ) اقرار په څرګنده توګه هم کاوه . په ازالة الاوهام لمړی چاپ کی په ۵٧٧م مخ کی د ۵م چاپ په ٢٣٩م مخ کی او د جماعة البشری په ۴٩م مخ کی لیکی چی [ مونږ ته د محمد صلی الله علیه وسلم څخه وروسته دکوم نبی ضرورت نشته .]

او بیا د همدی کتاب په ٩٦م مخ کی لیکی چی : ایا داسی شخص چی په قران باندی ایمان و لری او دا آیت ( ولکن رسول الله و خاتم النبیین ) د الله تعالی کلام باندی یقین ولری ویلای شی چی زه د محمد صلی الله علیه وسلم نه وروسته رسول او نبی یم؟ په نورو کتابونو کی یی هم همداسی لیکلی دی.

١٦ـ دغیر تشریعی بروزی نبوت دعوی:

دمرزا خاص خطیب مولوی عبدالکریم سیالکوټی په ١٧ د اګست ١٩٠٠کال د خپلی جمعی دلمانځه په خطبه کی مرزا ، الهی مرسل ثابت کړ او د ( لانفرق بین احد من رسله ) آیت یی پری ورسلیبنت کړ . هغی دا خطبه ډیره غوره کړه او وروسته یی د هغی په تاییدکی وویل چی زمونږه هم همدا مذهب او دعوی ده.

د حقیقه النبوة په لمړی برخه کی ( چی دضیاالاسلام قادیانی په چاپ ځای کی په ۵ م دمارچ ١٩١۵ کی دلمړی ضمیمی په شکل ، د ٢٦١م مخ نه تر ١٦٩م مخه پوری ،نشر شوی دی ) په دی کی یی بیا بیا دا دعوه کړی ده چی زه، پرته دکوم نوی شریعت څخه ، رسول او نبی یم. . ماته دداسی نبی د ویلو څخه ما هیڅکله هم انکار نه دی کړی .بلکه په همدی معناو باندی الله تعالی ما ته د نبی او رسول اواز کړی دی . نو اوس هم زه په هماغه معنو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره نبی او رسول کیدو څخه منگرنه یم .. مخته لیکی چی: د ( محمدرسول الله والذین معه ) آیت په وحی کی یی زما نوم محمد ایښودی دی او رسول هم.

په همدی اقتباساتو کی هغه د بروزی نبی لفظ هم لگولی دی . او دهغی مطلب یی داسی لکیلی دی .: په داسی حال کی چی زه په بروزی توگه ( انحضرت صلی الله علیه وسلم) یم او په بروزی رنگ کی ټول محمدی کمالات د دمحمدی نبوت سره یوځای زما د ظلیت په آینه کی منعکس کیږی ، نو بیا څرنگه انسان به وی چی په علیحده توگه یی د نبوت دعوی کړی وی . لکه چی په ۱۹۰۲ کال کی یی په خپل تصنیف دافع البلا په ۱۱ م مخ کی لیکلی دی چی : ریښتونی الله هغه دی چی قادیانیانو ته یی خپل رسول ( استازی ) را ولیږه . او په څلرم اربعین کی یی په ٦ م مخ کی لیکلی دی : دهغه نه پرته ، په دی هم پو ه شئ چی شریعت څه شی دی ، چا چی دخپلی وحی په واسیه څو امرو نهی بیان کړی دی او خپل امت ته یی قانون ټاکلی دی . هماغه دشریعت خاوند گرځیدلی دی . نو دهمدی تعریف له مخی زمونږ مخالفین ملزم دی ، ځکه چی زما په وحی که امر هم شته اونهی هم.

په حقیقة النبوة کی میامحمود لیکی چی : کله چی د اسلام شریعت د نبی کومه معنی کوی دهمغی معنی له مخی حضرت( مرزا ) هیڅکله هم مجازی نبی نه دی بلکه حقیقی نبی دی (۱۷٦م مخ)

او بیا په ۱۲۱م مخ کی لیکی چی : دا خبره ثابته ده چی د ۱۹۰۱ څخه دمخه په هغو حوالو کی چی هغه د نبی کیدو څخه انکار کړی دی ، اوس منسوخ شوی دی او دهغی څخه حجت کول غلط دی.

درنو لوستونکو :! ایا کوم نبی داسی گډی وډی ، ښکته پورته خبرو کولو سره داسی حیرانونکی سرکونډالی خوړی شی؟ او ایا دداسی مجمع الهفوات والخرافات ویونکی الله تعالی نبی گرځوی او د خپلو بندگانو د لارښوونی له پاره یی ټاکی ؟ ابدا، هیڅکله هم نه !

تبصره:

د مرزایانو د ډلی څخه څو پوښتنی ؛

۱ـ دغه پورته په تدریج سره د پرمختگ پنځلس دعواوی ، دبل هیڅ یوه نبی اورسول څخه ثابتی نه دی . هیڅ رسول د خپل رسالت نه تر مخه د دغه ډول دعواوو څخه یوه هم نه ده کړی . داخو دمرزا ډیر حیرانونکی او عجیب او غریب نبوت دی ، چی دټولو مرسلینو دسنتو څخه یی طریقه او لاره بلکل جدا او سرچپه روانه ده.

الله تعالی فرمایی چی :[ سنة الله فی الذین خلوا من قبل وکان امر الله قدرا مقدورا ( احزاب ۱۳۸)]

۲ـ کله چی هغه تشریعی نبی وگرزید نو ایا دهغی شرعی احکام د هغی په کوم کتا ب کی په تفصیل سره شته ؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



حقیقت دادی چی دهغی هر کتاب کی اود هغی اصرار، یواځی دهغی په دعوو باندی دی ، دهغه سره هیڅ ډول شرعی حکم نشته .

۳ـ هر نبی او رسول تر هر څه لمړی د توحید په لور بلنه ورکوی . الله تعالی فرمایی :

و ما ارسلنا من قبلک من رسول الا نوحی الیه انه لا اله الا انا فاعبدون . ( انبیأ ۲۵)

ولقد بعثنا فی کل امة رسولا ان اعبدوا الله و اجتنبوا الطاغوت . ( النحل ٣٦)

د مرزا په زمانه کی په هندوستان کی هندوان ، سکهان ، نصارا او....دنورومشرکو عقیدو خاوندان موجود و ، نو مرزا ، کله او په کوم بیان کی هغوی ته د توحید په لور بلنه ورکړی ده ؟

۴ـ هر یو نبی په خپل وخت کی دخپل وخت د طاغوت په مقابله کی جهاد کړی دی ، د مرزا به زمانه کی د تر ټولو دستر طاغوت، برطانیه ( انګلیس ) حکومت و ، خو مرزا د هغوی پر خلاف دحق یوه کلیمه هم ونه ویله ،بلکه برعکس د هغوی حکومت یی دخپل ځان له پاره درحمت سیوری و ګاڼه ، لکه چی وروسته به یی مونږ ،انشاالله، ثابته کړو .

۵ـ ایا دنبوت ترمخه چی ځومره دعواوی هغی کړی ، په هغوی کی دمرزا له پاره شرعی دلیل (وحی ) وه او که نه ؟

که چیری شرعی دلیل یی وحی نه وه ، نوبیاخو دهغی دعواوی بلکل باطله دی . ځکه چی یواځی کشف ، الهام او کرامت په شریعت کی دلیل نه دی او که چیری دهغی سره د وحی دلیل وی نو بیا خو دهماغه وخت څخه مرزا باید نبی ګرزیدلای وای ، نو په هغه وخت کی یی د حقیقی نبوت دعوا ولی ونه کړه ؟

څرګنده شوه چی دا ټوله خبره د شیطانی ځواکونو پر مټ جوړه شوی وه.

دنبوت د مدارجو ددعواو څخه پرته نوری حیرانونکی دعوی:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱ـ دسلمان کیدو دعوا:

د ۱۹۰٦م کال داپریل د میاشتی په (اویویوآف ریچنز ) کی مرزا لیکی چی : خدای ماته وویل چی ( انت سلمان ومنی یاذا البرکات !) یعنی ای د برکتونو خاوند مرزا ! ته سلمان یی او زما څخه یی .

د سلمان رضی الله عنه څخه یو شمیر صحابه په مرتبه کی پورته و ،دنمونی په توګه ، راشدین خلفاْ رضی الله عنهم . خو دمرزا له پاره په سلمان کی کومه ځانګړتیا تر لاسه شوی ده ؟

۲ـ د علی ، حسن او حسین رضی الله عنهم ، کیدو دعوا.

په (الحکم قادیان ۱۰نومبر ۱۹۰۵) کی لیکی چی :

زه ژوندی علی یم ، او په فتح الاسلام کی په ۵۷ مخ کی لیکی چی ، زه ددی زمانی حسن او حسین یم.

په دی ترتیب د علی، حسن ، او حسین سره د برابرۍ ددعوی په کولو سره ، هغه دچاد ملاترړ تر لاسه کولو مقصد درلود ؟

۳ـ د ذوالقرنین کیدو دعوا:

دبراهین احمدیه په پنځم جلد، ۱۰۱ م مخ کی لیکی چی ، خدای تعالی زما نوم ذوالقرنین هم ایښودی دی ، زه ددی امت له پاره ذوالقرنین هم یم . په قران شریف کی ، په مثالی توګه زماپه نسبت وړاند وینه شته ،مګر دهغی خلکو له پاره چی فراست ولری.

حال داچی ذوالقرنین ، د نړۍ دری واړو اړخونو ته د الهی ددین د غلبی له پاره جهاد کړی او ملکونه یی فتح کړی دی ،خو ددی برعکس مرزا ټول عمر مسلمانان دبرتانوی حکومت د غلامولو په لار کی خپلی ناروا هڅی کړی دی !

۴ـ د آریو د بادشاه کرشن کیدو دعوا:

په خپل کتاب ( تتمه حقیقة الوحی کی په ۸۵ مخ کی لیکی چی:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدای بیا بیا پر ما څرګنده کړی چی هغه کرشن چی په اخری وختونو کی را پیدا کیږی ،نو هغه خو همدا پخپله د آریو بادشاه دی ، اووایی چی ددی څخه مراد اسمانی بادشاهت دی

دا د مرزا ډیره ستره عجوبه ده چی د آریو بادشاه او دمسلمانانو نبی ( ظلی بروزی مجاز لغوی ) ، دا خو د متضاد و شیانو یو بدبوی لرونکی څادر دی.

٥ـ دحجر اسود کیدو دعوا:

په څلورم اربعین کی په ١٥ م مخ کی لیکی چی ( یکی پای من بوسید ---- من گفتم که حجر اسود منم ) یعنی یوه سړی زما پښی ماچ کړی نو ما وویل چی حجر اسود همدا زه یم.

نبی اکرم صلی الله علیه وسلم د خپل ځان تر مخه د انحنا او سجدی کولو نه منه راوړی. خو مرزا هیڅ هم ونه ویل او نه یی هغه منه کړ.

٦ـ دبیت الله کیدو دعوا:

د څلورم اربعین په همدی ١٥م مخ کی مرزا لیکی چی:

خدای په خپل الهام کی زما نوم بیت الله هم ایښی دی.

یعنی مرزا خپل ځان د کعبی د طواف کولو اوقبله جوړیدو له پاره هم جواز ګرزولی دی.

٧ـ د کوثر حوض د ورعطاکولو دعوا:

په انجام آتهم کی په ٥٨م مخ او حقیقة الوحی په ١٠٢ م مخ کی مرزا دعوا کړی چی هغه ته دکوثر حوض ور کړل شوی دی . الهامی الفاظ دادی ( انا اعطینا ک الکوثر ) او په دی ترتیب یی خپل ځآن د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم سره برابر کړی دی ( والعیاذ باالله )

٨ـ دکایناتو د پیدایښت دعلتونو دعوا:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په حقیقة الوحی ۹۹مخی کی مرزا ویلی دی چی خدای تعالی ماته وویل ( لولاک لما خلقت الا فلا ک .). په دی ځای کی یی هم زمونږ د نبی صلی الله علیه وسلم سره د ځان دبرابر والی دعوا کړی ده ، خو دناپوهی او جهل نه ډک (مرزا) په دی هم نه پوهیږی چی د (حدیث ) دا روایت هم ثابت نه دی بلکه موضوعی دی

۹ـ د الله تعالی له اړخه د مرزا احمد کیدل او دهغی په لور د راتګ بلنه:

په انجام آتهم ، ۵۵ م مخ کی مرزا د یوه الهام یادونه کوی . ( یحمدک الله من عرشه و یمشی الیک ) یعنی ای مرزا الله تعالی د عرش څخه ستا ستاینه کوی او ستا په لوری را روان دی (نعوذ بالله من ذلک )

په یوه بل الهام کی ( بشری لمړی ج ، ٥٦مخ ) کی لیکی چی : ( خدای به په قادیان کی را نازلیږی.

۱۰ـ دالله تعالی سره د ملګرتیا دعوا:

په ( انجام آتهم ضمیمه کی په ۱۷ مخ کی لیکی چی : خدای ماته وویل ( ان الله معک ، ان الله یقوم این ماقمت ) یعنی ای مرزا خدای له تا سره دی او الله تعالی په هغه ځای کی دریږی چیری چی ته دریږی . او په یوه بل الهام کی لیکی چی : تا له ماسره یی او زه له تاسره یم ، ستا راز زما راز دی .(انجام آتهم ۵۹م مخ(

۱۱ـ د آدم ، یعنی د الله د ځاَی ناستی کیدو دعوا:

ددریم اربعین په ۳۳م مخ کی لیکی چی : ماته خدای تعالی وویل ( یا آدم اسکن انت و زوجک الجنة ) ، او په بل ځای کی په خپل کتاب البدیه کی په ۷٦م مخ کی لیکی چی : ماته خدای وویل : ما اراده کړی چی خپل ځای ناستی جوړ کړم نو ما آدم ( ای مرزا ته ) پیدا کړی.

۱۲ـ د ټولو انبیاو دمظهر کیدو دعوا:

دحقیقة الوحی د۷۲م مخ په حاشیه کی لیکی چی: خدای تعالی زه د ټولو انبیأو مظهر ګرزولی یم ، او د ټولو انبیاو نوم یی زما لوری ته منسوب کړی دی ، زه آدم یم ، زه شیث یم ، زه نوح یم ، زه ابراهیم یم ، زه اسحاق یم ، زه اسماعیل یم ، زه یعقوب یم ، زه یوسف یم ، زه موسی یم ، زه داود یم ، زه عیسی یم او د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم د اتم مظهر یم یعنی په ظلی توګه محمد او احمد یم.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۳ـ تر ټولو انبیأو د افضل کیدو دعوا:

دغه دعوا یی په اجمالی توگه د حقیقة الوحی په ۱۰۷ م مخ کی لیکلی دی. ( آتانی مالم یؤت احدا من العالمین ) او بیا یی په خطبه الهامیه کی په ۳۵م مخ کی یی لیکلی دی چی ( ان قدمی هذه علی منارة ختم علیها کل رفعة ) او بیا یی د همدی خطبی په ۱۹ مخ کی لیکلی دی چی ( لا تقیمونی با حد و لا احدابی .) ، په همدی ترتیب سره یی نور ی لیکنی په اردو شعر اونثر کی راغلی دی.

تفصیلی دعوا:

یعنی په هر نبی باندی په جلا ، جلا توگه د فضیلت دعوا:

د آدم علیه السلام څخه دافضل کیدو دعوا:

په خطبه الهامیه کی د حاشیی پر حاشیی کی یی لیکلی دی چی:

آدم علیه السلام د شیطان له لاسه دماتی په خوړو سره په ذلت اورسوایی ککړ شو او زه شیطان ته دماتی ورکولو له پاره په اخری زمانه کی دمسیح موعود په شکل کی را پیدا شوی یم.

خو زه وایم چی دغی بی وقوفه مرزا خو د تر ټولو لوی شیطانی نظام ( انگلیس ) سره موافقه او جوړ جاړ ی وکړ.

د نوح علیه السلام ةڅخه د افضل کیدو دعوی:

د حقیقة الوحی په تتمه کی پ ه ۱۳۷ مخ کی لیکی چی:

خدای تعالی ماته دومره زیاتی نښی نښانی را څرگندوی چی که چیری دنوح په زمانه کی هغی نښی را څرگندی شوی وایی نو هغه خلک به نه و غرق شوی.

دمرزا دا وینا په حقیقت کی په الله تعالی باندی اعتراض اونیوکه ده او دمرزا د ډیری زیاتی بی حیایی دلیل دی .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دموسی علیه السلام څخه د افضلیت دعوا:

دهمدی کتاب په ۸۳ م مخ کی لیکی چی : هغه نبښی چی زما د تصدیق له پاره په راتلونکی کی راځی ،هغه به دموسی نبی دنښو نښانو څخه زیاتی وی.

حال داچی ، لاتر اوسه ورته دا نښی ورکول شوی هم نه دی خو ورته معلومه شوه چی هغه ډیری ستری دی ، دا خو د مرزا د پاګلی ، او دهغی د خیال پلوی څرګنده نښه ده.

دیوسف علیه السلام څخه د افضل کیدو دعوا:

په براهین احمدیه کی په ٥م جلد ٧٦ او ٨٢ مخونو کی لیکی چی : نوبیا ددی امت یوسف یعنی دا عاجز (مرزا) د اسراییلی یوسف څخه پورته دی.

په انصاف سره دهغی شکل ته وګوری چی هغه د یوسف علیه السلام سره څه مناسبت لری ؟ لکه یوه زنګ وهلی او تور شی ته چی دکافورو نوم ورکړی.

د نبی صلی الله علیه وسلم څخه د افضل کیدو دعوا:

په تحفه ګولړویه کی په ۴۰ م مخ کی لیکی چی : زمونږ نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته دری زره معجزات ښکاره شوی دی.

بیا دخپل ځان په هکله لیکی چی : هغی (الله ) زما د تصدیق له پاره ستری ستر ی نښی را څرګند کړی چی تر دری لکو پوری رسیږی .(تتمة حقیقة الوحی ٦٨م مخ ، اوبیا د حقیقة الوحی په ٦٧م مخ کی ددری لکو څخه ډیری بیاونوی.

په اصل کی دغه دواړه دعوی بلکل د حقیقت نه مخالف دی ، او که نه مونږ چلینج ورکوو چی یوڅوک دی مونږ ته د دری لکو څخه یوائی لس هم په صحیح توګه را وشماری ،نومونږ به ورته تسلیم شو . بلکه دا به هم ثابتی نه کړای شی! البته د مرزا د حماقتو نښی نښانی شاید د دری لکو څخه هم زیاتی وی .

اوس نو ددی ټولو څخه د ډیری بی حیایی څرګندونی واوری:

قادیانی اخبار ریویو دجون د ۱۹۲۹ کال کی لیکی چی:

حضرت مسیح موعود ( مرزا ) ذهنی ارتقاد انحضرت صلی الله علیه وسلم څخه زیاته و ه ، د نبی کریم صلی الله علیه وسلم ذهنی وړتیا د تمدن د نشتوالی په اساس و نشوه او نه ورته قابلیت تر لاسه شو.(نعوذباالله )

او اخبار الفضل کی مرزا محمود د ډایری الفاظ یوځل دا ډول خپاره شول.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا بلکل صحیح خبره ده چی هر څوک پرمختګ کولی شی او ستری ستری درجی تر لاسه کولی شی . ان تردی چی دمحمد صلی الله علیه وسلم څخه هم مخته تلای شی.(الفضل قادیانی ۱۷ جولای ۱۹۲۲)

دغه ډول لیکنی او دعوای صریحا کفر دی او درسول الله ء صلی الله علیه وسلم استهزا او توهین دی.

تبصره:

ددی ټولو دعواو په هکله مرزایی ډلی نه غوښتنه کوو چی ووایی چی ددی دعواوو د اثبات له پاره له دوی سره کوم دلیل شته ؟ او د دلیل پرته دعوا منل د احمقانو او ناپوهه خلکو کار دی .

نو که چیر ی دوی وایی چی مرزا نبی دی او دهغی خبره ددلیل پرته منل کیږی نو ځواب دادی چی د مناظر په قانون کی دی ته ( مصادره علی المطلوب ) ویل کیږی . دلیل پر مدعی باندی موقوف او مدعی پر دلیل باندی موقوف کیږی ، یعنی مرزاییان دغه دعواوی د مرزا غلام احمد په نبوت باندی دلیل ګرزوی او دهغی په ګمان او جعلی درواغجن نبوت د حقانیت له پاره دلایل جوړوی . حال داچی ددی لوبی او تماشی په واسطه د چا دنبوت اثبات نشی کیدای.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لسم باب د قرانی مبارکو آیاتو څخه دمرزا د کفر استدلال:

۱ـ په لمړی باب کی (۳۰ ) مبارک آیتونه صریحا او د غوڅ دلیل په توکه د نبوت د ختمیدو له پاره ذکر شوی دی مرزا ددی ایاتونو څخه منکر دی او دهغی په معناو کی تحریف کوی . او د الهی د آیاتونو څخه منکر کافر او جهنمی دی.

الله تعالی فرمایی [ و الذین کفروا و کذبو ا با یا تینا اولـــــک اصحاب النار هم فیها خالدون .(بقره ۳۹)]

ژباړه: هغوی چی زمونږ د آیاتونو څخه انکار وکړ او هغه یی درواغ و ګڼل ، نو همدا خلک په اور(جهنم) کی دی او تل به په هغی کی وی.

همدا راز فرمایی : [ ان الذین کذبوا با یا تنا و استکبروا عنها لا تفتح لهم ابواب السمأ و لا یدخلون الجنة حتی یلج الجمل فی سم الخیاط . ( اعراف ۴۰)]

ژباړه : هغه خلکو چی زمونږ ایتونه درواغ و ګڼل او تکبریی پری وکړ ، هغوی ته به د اسمان دروازی خلاصی نه شی ، تر هغی چی اوښ د ستنی په سوری کی نه وی ننوتی .

همدا راز فرمایی : [ ان الذین یلحدون فی آیاتینا لایخفون علینا افمن یلقی فی النار خیر ام من یأتی امنا یوم القیامة. (حم سجده ۴۰)]

ژباړه : بی له شکه هغه خلک چی زمونږ په آیتونو کی کوږوالی وکړی هغوی زمونږ څخه پټ نه دی ، ایا هغوی ، کوم چی په اورکی واچول شی ، غوره دی ، یا هغوی چی په امن و امان سره دقیامت په ورځ راشی.

۲ـ عیسی علیه السلام د الله تعالی حق بنده، او دهغی رسول ( استازی ) دی . دهغی په هکله زیات شمیر قرآنی آیتونه راغلی دی.

و یعلمه الکتاب و الحکمة و التوراة و الانجیل و رسولا الی بنی اسراییل .( ال عمران ۴۸-۴۹)

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه : ښوونه به ورکړل شی هغی ته دکتاب او حکمت او تورات او انجیل ، او د بنی اسراییلو لوری ته به رسول (لیږل شوی استازی ) وی.

انما المسیح عیسی بن مریم رسول الله و کلمته القاها الی مریم وروح منه . ( انسا ۱۷۱)

ژباړه : بیشکه چی مسیح عیسی بن مریم د الله تعالی رسول دی او دهغی کلیمه ده چی مریم( علیهاالسلام ) ته القا شوی وه ، او دهغی له اړخه روح دی.

لیکن مرزا خو عیسی علیه السلام ته بد رد ویلی دی او دهغی د رسالت څخه یی انکار کړی دی او دکوم یو نبی د نبوت څخه انکار کول هم کفر دی.

د عیسی علیه السلام په هکله د مرزا بیانونه:

انجام آتهم د څلورمی صفحی په حاشیه کی او د خزاین په یولسم جلد ۲۸۸یمی صفحی کی لیکی چی : بیانو دغه ناپوهه اسراییلی داسی معمولی خبرو ته ولی د وړاند وینی نوم ورکړ ؟

بیا لیکی چی: بلی ! هغه ته د ښکنځلو کولو او د ژبی دبدی خورولو ډیر عادت و ، په وړی ، وړی خبره باندی به په غصه کیده ، خپل نفس یی د جذبانوتو څخه نشو قابو کولای . زما په وړاندی دهغی دغه حرکات دافسو س وړ نه دی ، ځکه چی هغه به شکنځلی کولی او یهودیانو به هم خپل کسر نه پریښوده .( ضمیمه انجام آتهم ۵م مخ )

په همدی صفحه کی راځی چی: دا هم باید په یاد وی چی هغه ته ددرواغو ویلو څومره عادت و..

په همدی صفحه کی بیا لیکی چی : په تورات کی یی چی دخپل ذات په هکله کومی ، کومی وړاند وینی موندل غوښتل ، پخپله یی ویلی دی چی په هغو کتابونو کی دهغه نوم اونشان هم نه پیدا کیده ( پورتنۍ حواله )

بیایی لیکلی دی چی : او ډیره د شرم خبره داده چی هغی غرنی تعلیم چی د انجیل مغز ورته ویل کیږی د یهودیانو دکتاب طالمود څخه پټ کړی او لیکلی یی دی. او بیا یی داسی وښوول چی گویا دا زما تعلیم او ښوونه ده . ( ضمیمه انجام آتهم ٦ مخ) .

مخته لیکی چی : چی دهغی د همدغی حرکاتو په واسطه دهغی خپل حقیقی ورور تل دهغه څخه سخت ناخوښه و او هغه متیقین و چی د هغه ( عیسی علیه السلام ) په دماغ کی خامخا څه خلل شته دی .( پورتنۍ حواله )

مرزا ددی مضمون وضاحت په دی توگه کړی دی:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه غوښتنه هم په ځرګنده توګه په دی خبره باندی دلیل دی چی په حقیقت کی یسوع د مرګی د ناروغتیا له امله لیونی شوی و . ( سنت بچن ۱۷۱م مخ )

مرزا نور مخته لیکی چی : د اروپا خلکو ته چی څومره زیان شراب چښلو ور رسولی دی دهغی علت داو چی پخپله عیسی علیه السلام شرا پ چښل . کیدای شی د کومی ناروغتیا په اساس وی او یا یی پخوانی عادت وی . مګر ای مسلمانانو ! ستاسو نبی علیه السلام خو دهر یو نشی څخه پا ک او معصوم و ، لکه چی هغه په حقیقت کی معصوم دی ( کشتی نوح٦٦م مخ ) . او د مسیح د نزول په ٣٦م مخ کی یی هغه علیه السلام ته (غل ) لیکلی دی (نعوذباالله من ذلک)

بیا په ضمیمه انجام آتهم کی په ۷ م مخ کی لیکی چی:

بیا نو افسو س دی چی نالایق عیسایان د داسی یوه شخص څخه خدای جوړوی ! د هغه کورنۍ هم ډیره پاکه او مطهره و ه ، دهغی دری نیاګانی او ادی ګانی زناکاری او کسبی ښځی وی چی دهغوی دوینی څخه د هغی وجود را پیدا شو ، مګر شاید دا هم د خدایی کیدو له پاره شرط وی ، د کنجرو ښځو سره دهغی صحبت هم شاید په همدی خاطر، چی د نیکونو مناسبت یی ورسره درلود ، و . او که نه هیڅ پرهیزګار انسان یوه ځوانه کنجری ښځی ته دا موقع اوفرصت نه ورکوی چی دهغی په سر دی ناپاکه لاس را کش کړی او د زنا په پیسو اخستل شوی عطر دی دهغی په سر باندی ووهی ، او خپل ویښتان دی دهغی پر پښو باندی و مښی . د پوهی خاوندان باید پوه شی چی دا ډول انسان به دکوم ډول انسانانو څخه وی.

مرزا یان د مرزا ددی کفریاتو او چټیاتو ځواب کی وایی چی په مسیح او یسوع کی فرق موجود دی ، یعنی هغه چی د الله تعالی رسول و د هغی نوم یسوع و چی هغی ته مرزا ښکنځلی نه دی کړی ؟؟؟

ځـــــــــــواب:

د مرزا په وړاندی یسوع او مسیح دواړه یودی ، دوه نه دی .

په توضیح المرام کی په دریم مخ کی لیکی چی : اوس مونږ د خپلی لمړنۍ صفایی له پاره دا لیکل غواړو چی د بایبل او زمونږ د احادیثو او اخبارونو دکتابونو له مخی ،دکومو انبیاو چی دعنصری وجود سره یو ځای یی اسمان ته تلل تصور کیږی . هغه نبیان دوه کسه دی ، یو د هغوی څخه یوحنا دی چی نوم یی (ایلیا) او ( ادریس) هم دی . اوبل کس یی مسیح بن مریم ، چی عیسی او یسوع هم ورته ویل کیږی

نتیجه دا شوه چی عیسی بن مریم چی په مسیح او یسوع هم مشهور دی د الله تعالی حق رسولان دی ، خو د مرزا پورتنی ذکر شوی عبارت کی هغه ته دومره ژوری ښکنځلی شوی دی ، چی یو فاسق او فاجر یی خپل مخالف

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بدمعاش او فاجر ته هم نه کوی. نو دا ځرګند دلیل دی چی ددی حق نبی څخه د انکار او سپکاوی په وجه مرزا تر ټولو لوی کافر دی.

۳ـ د عیسی علیه السلام د معجزاتو څخه انکار کونکی کافر دی .

الله تعالی دهغی د معجزاتو د ذکر کولو نه وروسته فرمایلی دی ؛

اذ جـْـتهم بالبینات فقال الذین کفروا منهم ان هذا الا سحر مبین ( المایده ۱۱۰)

یعنی کومو خلکو چی دعیسی علیه السلا م معجزاتو ته سحر ووایه هغه صریح کافر دی.

اوس نو د مرزا له اړخه د هغی دمعجزاتو تکذیب واوریـ:

ضمیمه انجام آتهم کی د اومی صفحی په حاشیه کی ، خزاین یولسم جلد ۲۹۱وم مخ کی لیکی چی :

ممکن ده چی هغی د معمولی تدبیر سره یوځای کوم ( شب کور ) په شپی کی نه کتونکی ، جوړ کړی وی او یا یی دکومی بلی داسی ناروغتیا علاج کړی وی مګر دهغی د بدقسمتیـ څخه په هغه زمانه کی داسی د اوبو یو ډنډ هم موجود و چی ستری ستری نښی تری را ولاړیدی . نو کیدای شی چی دهغی ډنډ ختی هغی هم استعمال کړی وی ، ددی ډنډ(تالاب ) څخه دهغی د معجزاتو ټول حقیقت را په ډاګه کیږی . او هم دی تالاب (ډنډ) پریکړه کړی وه چی که چیری له تاڅخه کومه معجزه را ښکاره شوه نو هغه به ستا معجزه نه وی بلکه هغه به ددی تالاب معجزه وی او ستا په لاسو کی د مکرو فریب پرته نورڅه نه و .

په اعجاز احمدی کی یی په ۱۴ مخ کی لیکلی دی چی:

های ، د چامخی ته دا غم یو سیـ چی د عیسی علیه السلام دری وړاند وینی درواغ و ختلی ، اونن به کومه زمکه وی چی دا عقده حل کړی ؟

په ازالة الاوهام لمړیـ چاپ په ۳۰۵ او ۳۰۹م مخونو کی لیکی چی :د مسیح معجزات ( کل الترب ) یعنی ( مسمریزم ) په توګه وی او دداسی عملونو څخه کاملین پرهیز کوی.

د عیسی علیه السلام معجزات په قرانکریم کی په پوره صراحت سره موجود دی . ( سوره ال عمران ، سوره مایده ) .

خو مرزا په ډاګیزه توګه ددی معجزو څخه انکار کوی او دهغی صلی الله علیه و سلم معجزات یوه تالاب (ډنډ ) ته منسوبوی . نو د مبارک آیت د غوښتنی په اساس ( فقال الذین کفروا منهم ) هغه صریحا کافر او مرتد دی.

۴ـ الله تعالی فرمایلی دی چی:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



و من یقل منهم انی اله من دونه فذلک نجزیه جهنم کذلک نجزی الظالمین . (الانبیأ ۲۹)

ژباړه : او دهغوی څخه چی څوک ووایی چی زه دهغی پرته معبود یم نوموړ هغه ته د جهنم سزا ورکوو او موږ ظالمانو ته همداسی سزا ورکونکی یو.

ددی آیت څخه په څرګنده توګه ثابته ده چی هر څو ک چی دخپل ځان له پاره د الوهیت د یوه صفت او یا دهغی څخه د ډیر و دعوا وکړی نو هغه ظالم ، کافر او جهنمی دی.

اوس موږ د مرزا ځینی دعواوی وړاندی کوو چی په هغوی کی یی ځآنته د الوهیت صفتونه ثابت کړی.

الف : مکاشفات مرتبه منظور الهی ۹ مخ کی لیکی چی:

ما په یوه کشف کی ولیدل چی زه خدای یم اویقین می وکړ چی زه هماغه یم.

ب: په خطبه الهامیه کی په ۱۲۹ مخ کی لیکی چی :

اعطیت صفة الافنأ و الاحیأ من الرب الفعال . ( ماته د مړو ژوندی کول اود ژوندود مړه کولو قدرت راکول شوی د ی.

په داسی حال کی چی الله تعالی فرمایی [ ولایشرک فی حکمه احدا .( کهف ۲٦)]. په دی اساس مرزا تر ټولو ستر مشرک دی.

ج؛ په حقیقة الوحی کی په ۱۰۵ مخ کی لیکی چی خدای ماته وویل : ( انما امرک اذا اردت شیٔا ان تقول له کن فیکون ) او په تریاق القلوب کی په ۳۳ مخ کی لیکی چی : ماته په کشفی توګه وښوول شو چی ما د قضا او قدر په ډیرو احکامو کی د دنیا د نیکیو اوبدیو په هکله ، هم خپل ځآنته او هم ډیروخپلو دوستانو ته لیکل کړی دی .

هـ:آینه کمالات اسلام په ۵٦۴م مخ کی لیکی چی :(و رایتنی فی المنام عین الله و تیقنت ا ننی هو.) ماخپل ځان په خوب کی ولید چی زه الله یم ، ما یقین وکړ چی زه همهغه یم.

و ـ ددریم اربعین د ۲۵ صفحی په حاشیه کی یی د یوه اوږده عبارت په اخر کی لیکلی دی چی:

)او داییل ، دانیال � نبی په خبل کتاب کی زما نوم میکاییل ایښی دی او په عبرانی لفظی معنی ، میکاییل دخدای په څیر دی(.

ز ـ آینه کمالات اسلام په ٥٦۴ او ٥٦٥ مخونو کی لیکی چی:

اوپه دغه حالت کی ، یعنی کله چی زه (مرزا) خدای وګرزیدم ، زه دا وایم چی موږ یو نوی نظام ، یو نوی اسمان او نوی زمکه غواړو . نو بیا ما اسمان او زمکه په لمړۍ کی په اجمالی شکل سره پیدا کړه چی هیڅ ډول ترتیب اوتفریق

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کې نه و . بیا ما د حق د ارادی په موافق هغه تر تیب اوتفریق کړه او زه وینم چې زه په دی خلق ( پیدا ینبت ) باندی قادر یم . اوبیا می ددنیا اسمان پیدا کړ .( انا زینا السمأ الدینا بمصابیح) بیا ما وویل چې( اوس انسان د ختې نه پیدا کوم ) . دا ټول خالصه کفریات ، لغویات ، چټیات او هرزلي برزلي دی ( چې د یوه لیونی ، پاګل او احمق انسان پرته هیڅکله هم د یوه سالم انسان په ژبه نه راځی(ژباړن ) ).

ح ــ د انجام آتهم په ۱۷٦م مخ کی لیکی چې : ( اعلموا ان فضل الله معی و ان روح الله ینطق فی نفسی ) پوه شئ چې د الله فضل له ماسره دی او د الله تعالی روح زما په نفس کی خبری کوی.

ط ــ د تصویر مرزا په ٦۹ مخ کی لیکی چې : ( اسمع و لدی ( واوره ای زما زویه !))

تاسی وکتل چې مرزا د خپل ځان له پاره د الوهیت څومره صفتونه ثابت کړی دی ، خدایی اختیار ، فنا وبقا ، تصرف کن فیکون ، د خدای په څیر کیده ، آسمان ، زمکه ، او د انسانانو پیدا کول ...... او نور . نو د قرانکریم له مخی به د مرزا په کفر کی څوک شک وکړی؟

۵ــ [ و نفخ فی الصور فاذا هم من الاجداث الی ربهم ینسلون (یس ۵۱)]

ژباړه : او په شپیلۍ کی به پوه کړل شي ، نو هغوی به د خپلو قبرونو څخه د خپل رب په لوری ورځغلی.

]و نفخ فی الصور فجمعنا هم جمعا ( کهف ۹۹) [

ژباړه : او په شپیلۍ کی به پوه کړل شي ، نو ټول به په را یوځای کولو سره را ټول کړو.

په دی آیتونو کی د (نفخ فی الصور ) ذکر شوی دی ، چې لمړۍ به د (نفخ ) په واسطه ټول مخلوق فنا شي او په دوهم ځل به مخلوق د قبرونو څخه ژوندی را ووځی.

خو مرزا په شهادة القران کی په ٦۴م مخ کی او د خزاین په ٦م جلد ، ۳٦۰م مخ کی لیکلی دی چې : لکه څرنګه چې د قران د( نفخ صور ) څخه د کوم مجدد رالیږل مراد دی ، تر څو د عیسایی مذهب غلبه ماته کړی. او دفتنې د امواجو څخه ( چې په حدیث کی راغلی ) دجالیت مراد دی.

(د نفخ فی الصور ) څخه دا ډول مراد اخستل د قران د قطعی آیت څخه انکار دی او صریح کفر دی.

٦ــ په لمړی باب کی مو د ختم نبوت د اثبات له پاره (۳۰) مبارک آیتونه ذکر کړی دی چې دهغی له جملی څخه دا آیت:

]ماکان محمد ابا احد من رجالکم و لکن رسول الله و خاتم النبیین[

هم دی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دی مسله کی دا قطعی اوصریح آیت دی ، او د ټولو پوهانو په دی مسله باندی اتفاق دی چی د قرانکریم د یوه آیت بلکه د یوی کلیمی څخه انکار کول هم څرګند کفر دی.

په دی اساس مرزا ( که څه هم چی په لمړیو کی یی په ختم نبوت باندی اقرار کړی و خو وروسته یی هغه منسوخ کړ ) دختم نبوت څخه انکار وکړ او د ( خاتم النبیین ) د لفظ غلط تاویلات ( مهر ، تصدیق کونکی ....) وکړل . نو دهمدی تاویلاتو په اساس هغه د کفر څخه نشی په ښنګ کیدای . ددی خبری تفصیل په لمړی باب کی تیر شوی دی.

۷ــ د الله تعالی په شان کی مرزا ډیری زیاتی بی ادبۍ او ګستاخۍ کړی دی چی د لیکلو څخه یی قلم هم شرمیږی : الله تعالی فرمایی چی:

ولــــئْن سالتهم لیقولن انما کنا نخوض و نلعب قل اباالله و آیاته ورسله کنتم تستهزؤ ن - لا تعتذروا قد کفرتم بعد ایمانکم ( توبه ٦٥-٦٦)

ژباړه : که چیری ته دهغوی نه و پوښتی نو په ډاګه به ووایی چی مونږ خو هسی په خپلو مینځو کی مشغول و، اولوبی مو کولی ، ورته ووایه چی ایا الله ، دهغی آیتونه او دهغی استازی (رسول ) ستاسی د ټوکو او مسخرو له پاره پاته شوی دی ؟ عذر ونه مه کوۍ . په یقین سره چی تاسی دایمان راوړو نه وروسته کافر شوی یاست.

ددی آیت څخه په څرګنده توګه را په ډاګه شوه چی د الله تعالی د ذات سره ټوکی او مسخری کول (پخپله) کفر دی ، نو مرزا په دی توګه هم (سوچه ) کافر دی : هغه په لاندی لیکونو کی د الله تعالی د ذات په هکله ګستاخی کړی دی :

۱ــ د براهین احمدیه د څلرم جلد په ٥٥٥م مخ کی لیکی چی ( خدای د فیل غاښ دی � ربنا عاج ).

۲ــ په البشری دویم جلد په ٧٦وم مخ کی لیکی چی( خدای برق (بجلی )ده � انی اناالصاعقة).

۳ -دهمدی کتاب په ۷۹وم مخ کی ( الحکم قادیان دریم فروری ۱۹۰۳ )کی لیکی چی: ( الله تعالی الهام کړی - اصلی واصوم ، اسهر وانام و اجعل لک اوار القدوم و اعطیناک مایدوم )( یعنی زه (خدای ) لمونځ کوم، روژه نیسم ، بیداریږم او بیده کیږم او ستا له پاره دخپلو راتلو نور دربښم ، او هغه څه به تاته درکوم چی له تاسره به تل موجود وی.

۴ــ دهمدی کتاب په ۷۹وم مخ کی ( البدر قادیان : ۹ فروری ۱۹۰۳ ) کی ، لیکی چی: د مرزا الهام دی :( انی معر الاسباب یأتیک بعتة انی مع الرسول اجیب اخطی و اصیب .)( یعنی ای مرزا ! زه د اسبابو سره یو ځای ناڅاپی تاته درځم ، زه د رسول سره ځواب ورکوم ، غلطی هم کوم اوصحیح هم کوم.)

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



٥ــ په دریم اربعین کی په ٦ م مخ کی لیکی چی : ( یا احمد یتم اسمک و لا یتم اسمی ) ( یعنی ای احمده ! ستانوم به پوره شی او زما نوم به پوره نشی .)

٦ــ په حقیقة الوحی کی په ٣٥٦م مخ کی لیکی چی: د حیرانتیا وړ ده چی الله تعالی په ځومره ادب سره زه بللی یم ، او مرزا یی را ته نه دی ویلی، بلکه مرزا صاحب یی راته ویلی دی ، خدای ته زما دنوم په اخستلو شرم پیدا کیږی او د همدی شرم د غلبی په اساس ، زما نوم په ژبه نه اخلی . [ العیاذ بالله من جمیع خباثات مرزا !!!]

٧ــ په قرانکریم کی د مریم علیه السلام ډیر ستر شان ، عظمت او عصمت ذکر شوی دی ( والله اعلم بما وضعت )[ او الله ته ښه معلومه ده چی کوم کوچنی به زیږوی ]

(ولیس الذکر کالا نثی )[ او � عام � هلک د (هغی) نجلۍ په څیر نه وی(

)و انی سمیتها مریم ( ماد هغی نوم مریم کښیښود )(

( و انی اعیذها بک و ذریتها من الشیطا ن الرجیم )( او زه هغه او دهغی اولاد، د مردود شیطان څه ، ستا په پناه کی درکوم.)

( فتقبلها ربها بقبول حسن ) ( نو هغه خپل رب په ډیره ښه توګه قبوله کړه )

( و انبتها نباتا حسنا )( او د هغی یی ډیره ښه پالنه وکړه )

)و کفلها زکریا ( او زکریا علیه السلام د هغی پالنه وکړه )(

( کلما دخل علیها زکریا المحراب وجد عندها رزقا . )( کله چی زکریا علیه السلام دهغی حجری ته ورته ، د هغی سره یی روزی موجوده ، موندله ). ( ال عمرا ٣٦-٣٧)

په دی سورة کی د مریم علیه السلام د عظمت په اړوند اته جملی ( اته ټکی ) ذکر شوی دی . اوبیا یی فرمایلی دی:

]و اذ قالت الملـــــکة یا مریم ان الله اصطفاک و طهرک و اصطفا ک علی نسأ العالمین � یا مریم اقنتی لربک کو استجدی و ارکعی مع الراکعین ( آل عمرا ٤٢-٤٣)[

ژباړه : او کله چی ملایکو ورته وویل : ای مریم ! الله تعالی ته منتخب کړی یی ، او ته یی پاکه او سپیڅلی کړی یی او د ټولی نړۍ په ښځو کی یی ته ټاکلی یی . ای مریمی ! دخپل رب اطاعت وکړه ، او سجده وکړه ، او د رکوع کونکو سره رکوع وکړه.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دی آیت کی هم ، په لمړی آیت کی څلور نکتی د هغی د فضیلت په هکله ذکر شوی دی . او په بل آیت کی هم دملایکو په ذریعه ورته خطاب کی د عباد ت کولو امر کړل شوی دی ..

بیایی فرمایلی دی : [قالت : انی یکون لی ولد و لم یمسسنی بشر قال کذلک الله یخلق مایشأ. ( آل عمرا ۴۷)]

ژباړه : ویی ویل چی ای ربه ! زما به څرنگه زوی پیدا شی ؟ حال داچی ماته کوم انسان لاس هم نه دی راوړی ؟ ملایکو ورته وویل : په هماغه توگه چی الله تعالی و غواړی هماغسی یی پیدا کوی.

په دی آیت کی یی د (لم یمسسنی ) لفظ دهغی د عفت د څرگندونی له پاره دلیل د ی . یعنی په کوم حالت کی چی هغه وه ، یعنی پرته د نارینه د لمس کیدو څخه یی زوی پیدا شو . بیا فرمایی:

]والتی احسنت فرجها فنفخنا فیها من روحنا و جعلنا ها و ابنها اية للعالمین ( انبیا ۹۱)[

ژباړه : او هغه پاک لمنی بی بی، چی دخپل عصمت ساتنه یی کړی وه ، مونږ په هغی کی خپل روح پوه کړ ، او هغه مو او دهغی زوی مو دټولی نړۍ له پاره نښه وگرځوله.

په دی آیت کی دمریم علیه السلام صریح عفت مذکور دی او په دی هکله تصریح شوی ده چی دهغی زوی د نارینه د لمس پرته پیدا شوی دی . په دی آیتونو کی د مریم علیه السلام عصمت او عفت په پوره توگه ډاگیزه دی .

خو مرزا په چشمه مسیحی کی په ۴۰م مخ کی لیکی چی:

کله چی د اوه میاشتو حمل را په ډاگه شو ، نو دحمل په حالت کی د هغی دقوم مشرانو دهغی نکاح د یوسف نومی ترکاڼ سره وکړه ، هغه به دهغی کور ته ورته، او دوه میاشتی وروسته دمریم زوی پیدا شو او د عیسی یا یسوع په نوم باندی ونومول شو.

مونږ وایو چی د حمل د پیدا کیدو وروسته د مریم دنکاح کولو گټه څه وه ؟ او څه اړتیا یی ورته لیدله ؟ مگر ددی مطلب خو دادی چی خلکو ته دا معلومه شی چی حمل د یوسف نجار څخه دی ، لکه چی په اوسنی وخت کی ددی له پاره چی دکومی ناواده شوی ښځی حمل په ځای پاته شی نو د زانی سره نکاح کوی تر څو د بدنومۍ او بدلمنۍ نه خوندی پاته شی. مرزا په خپل دغه بکواس اوارزلو برزلو سره دهغه قرانی آیتونو ، چی دعیسی علیه السلام پیدانښت په کی ، د الله تعالی له اړخه (یوه نښه ) بیان کړل شوی ده ، انکار کړی اودا صریح او څرگند کفر دی.

۸ -د قرانکریم په هکله الله تعالی د تحدی په توگه فرمایلی دی چی:

]قل ان کنتم فی ریب مما نزلنا علی عبدنا فاتوا بسوة من مثله ....الاية[

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکن په حقیقة الوحی کی په ۳۱۱م مخ کی مرزا لیکی چی:

زه په الله تعالی باندی په سوګند یادولو سره وایم چی زه په دغه الهاماتو باندی هماغسی ایمان راوړم لکه څنګه چی په قرانکریم باندی، او د خدای په نورو کتابونو باندی . او لکه څنګه چی زه قرانکریم د الله کلام او دهغی قطعی کتاب پیژنم په همدی توګه په هغه کلام هم چی پر ما باندی نازلیږی او دخدای دکلام یقین پری کوم.

بیا په کتاب النبوة والا الهام کی په ۴۳ م مخ کی قاضی محمد یوسف قادیانی لیکی چی( خدای د حضرت احمد علیه السلام مجموعی الهاماتو ته کتاب المبین ویلی دی او جدا، جدا الهامات یی په آیتونو نومولی دی . نو دهغی وحی ته هم جدا جدا آیت ویل کیدای شی . کله چی خدای تعالی هغه ته دغسی نوم ورکړی نو د الهاماتو مجموعی ته یی الکتاب المبین ویل کیدای شی.

و وینئ چی مرزا او د هغی پسی تلونکی د مرزا الهاماتو ته هغه نوم ورکوی چی د قرانکریم نوم دی (الکتاب المبین )، او لکه څنګه چی قرانکریم ، صادق او دالله له اړخه نازل شوی کتاب دی نو د مرزا الهامات( بکواسات ) یی هم صادق او منزل من الله ګڼلی دی .( ځکه چی هغوی په � فاتوا بمثله � باندی عمل کړی دی ) ، چی ټول کفر اوشرک تری عاجز دی خو یواځی مرزا ورته خپله سینه نیولی ده.

د مرزا دا دعوه یقینا کفر دی او په دی کی شک کول هم کفر دی.

۹ـ الله تعالی په قرانکریم کی حج کول د بیت الله سره خاص کړی دی.

قال الله تعالی:

]ولله علی الناس حج البیت من استطاع الیه سبیلا و من کفر فان الله غنی عن العالمین ( آل عمرا )[

خو مرزاییانو د قادیان په غونډه کی ګډون کولو ته د حج نوم ورکړی دی. لکه چی مرزا بشیر الدین وایی:

�نن د غونډی لمړی ورځ ده ، او زمونږ غونډه هم د حج په توګه ده ، ځکه چی د حج مقام دداسی خلکو په ولکه کی دی چی داحمدیانو وژل هم روا ګڼی . په دی خاطر خدای تعالی قادیان ددی کار له پاره ټاکلی دی ، لکه څنګه چی په حج کی رفث، فسوق او جدال منع دی نو په داسی غونډه کی هم منعه دی�. ( برکات خلافت مجموعه تقاریر کلنۍ غونډه ۱۹۱۴)

د پورتنی مبارک آیت په اخری جمله کی ویل شوی دی چی : هر هغه څوک چی د بیت الله نه انکار کوی او دتل لپاره یی پریږدی نوهغه کافر دی ، نو د حج له پاره بل ځای ټاکل خو تر ټولو ستر کفر دی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۰ـ قرانکریم کی فرمایلی دی:

]سبحن الذی اسری بعبده لیلا من المسجد الحرام الی المسجد الاقصی الذی بارکنا حوله ( اسرا ۱)[

په دی آیت کی د مفسرینو په اتفاق سره تر ی د مکی مسجد حرام او د شام د اقصی مسجد مراد دی . او په آیت کی یی د نبی صلی الله علیه و سلم د ( اسرا) د معجزی یادونه کړی ده.

خو مرزاییانو په کی صریح تحریف کړی او داقصی د مسجد څخه یی دقادیان مسجد مراد اخستی دی..

)الاخبار الفضل ۱۲۱ اگست ۱۹۳۳ کی لیکی چی :

په دی مبارک آیت کی د اقصی د مسجد څخه مراد د قادیان مسجد دی . لکه چی فرمایلی یی دی چی انحضرت صلی الله علیه و سلم د حرام د مسجد څخه د اقصی تر مسجده پوری سیر وکړ ،نو هغه د اقصی مسجد همدغه دی چی په قادیان کی په شرقی برخه کی پروت دی چی د موعود مسیح د برکاتو او کمالاتو تصویر دی او د انحضرت صلی الله علیه و سلم په لور یی نسبت د موهبت په توگه شوی دی.( دا تحریفات یقینا ډیر ستر کفر دی (

تر دی ځایه د قرانکریم د لسو ایتونو په رڼا کی مو د مرزا غلام احمد د کفر د اثبات له پاره لس دلیلونه یادکړل ، خو ددی نه علاوه زیات شمیر نور هم شته نو له دی وروسته دهغی په کفر کی د شک او شبی له پاره هیڅ ځای نه پاته کیږی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یولسم باب د جهاد څخه انکار ، د برتانوی حکومت سره دوستی ،**

او دمسلمانانو سره اړیکی پریکول (بایکاټ).

په حقیقت کی دا کار هم د مرزا دکافر کیدو د علتونو څخه یو دی ، ځکه چی جهاد په قرانکریم کی د یوی همیشنۍ فریضی په توګه یاد کړل شوی د ی.

قال الله تعالی:

]و قاتلوهم حتی لا تکون فتنة و یکون الدین کله لله (انفال۴۰)[

ژباړه: او تاسی د هغوی سره ترهغی حده پوری و جنګیږی چی په هغوی کی فساد،او شرک پاته نشی او یوائې د الله تعالی دین ( قایم )شي.

یعنی تر څو پوری چی په دنیا کی کفر او شرک جاری وی نو دهغی په مقابله کی به قتال فی سبیل الله هم جاری وی . به همدی توګه نور قطعی او غوڅ نصوص هم شته چی ددی قرانی فریضی څخه انکار کول د علم دخاوندانو په اتفاق سره کفر دی.

په همدی ترتیب الله تعالی په ډیر شمیر آیتونو کی د کفارو او مشرکینو سره د موالاتو (دوستیو) د غوڅولو حکم کړی دی لکه چی فرمایی :[ لا یتخذ المومنون الکافرین اولیا من دون المومنین .( ال عمران ۲۸)]

مومنانو ته په کار دی چی دایمان د خاوندانو په پرینښولو سره کافران دخپلو ځانو دوستان و نه ګرزوی ،

]یا ایهاالذین امنوا لا تتخذوا الیهود و النصاری بعضهم اولیأ بعض .(مایده ۵۱)[

ای د ایمان خاوندانو تاسیو یهود اونصاری خپل دوستان مه نیسۍ . دوی خو په خپلو مینځو کی یو دبل دوستان دی.

]لا تجد قوما یومنون با لله و الیوم الا خر یوادون من حاد الله و رسوله ولو کانوا ابأهم او ابنأهم او اخوانهم او عشیرتهم . ( مجادله ۲۲)[

ته به هیکله بیانه مومی داسی قوم ، چی په الله او اخرت باندی ایمان ولری ، چی دوستی وکړی دداسی خلکو سره چی دالله او دهغی د رسول مخالفت کوی ، که څه هم هغه دهغوی پلار یا دهغوی زوی یا دهغوی ورور او یا دهغوی کورنۍ ( خپلوان ) وی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو مرزا ددی دواړو نصوصو څخه نه یوازی خلاف بلکه دهغوی څخه یی انکار هم کړی دی

د جهاد څخه انکار:

دتحفه قصریه په اتم مخ کی لیکی چی:

او دویم اصول چی زه یی پری قایم کړی یم هغه د جهاد دهغی غلطی مسلی اصلاح کول دی چی په ځینو مسلمانانو کی مشهوره دی . نوخدای تعالی زه په دی پوهه کړم چی کومی طریقی چی تر اوسه پوری جهاد ګڼل کیدی هغه د قران دتعلیماتو څخه بلکل مخالفی دی . ( بیالیکی چی ) : دا دواړه مسلی په مسلمانانو کی ډیری خطرناکی او له یوه سره غلطی دی چی ددین له پاره د توری( په واسطه ) جهاد د خپل مذهب یو رکن ګڼي، او دهمدی لیونتوب په واسطه دیوه بل بی ګناه په وژلو سره فکر کوی چی ګویا هغه د ثواب یو ډیر ستر کار تر سره کړی دی.

بیا په نهمه صفحه کی لیکی چی( دمسلمانو د جهاد عقیده د مخلوق په حق کی ډیر بد نیت دی . )

بیا په اتمو اونهمو مخونو کی لیکی چی : زمونږ په مسلمانانو کی بل عیب داهم دی چی هغوی د یوه داسی وینه تویونکی مسیح او وینه تویونکی مهدی منتظر دی چی دهغوی په ګمان به دنیا د وینی څخه ډکه کړی . حال دا چی دا فکر له یوه سره غلط دی . زمونږ په باوری کتابونو کی لیکل شوی دی چی موعود مسیح به هیڅ ډول جنګ جګړه نه کوی او نه به توره پورته کړی . زه خدای ددی له پاره را استولی یم چی همدا غلطۍ لری کړم.

پوښتنه داده چی دا باوری کتابونه کوم او چیری دی چی مرزا یی حواله ورکړی ده ؟؟

د (تبلیغ رسالت په لسم جلد ، ۲٦م مخ کی لیکی چی:

ما د شلو کالو را په دیخوا پر خپل ځان دا مسولیت فرض کړی دی چی داسی کتابونه چی دجهاد مخالفت په کی وی اسلامی هیوادونو ته ضرور ور لیږم

دجهاد د فریضی د پریښولو د ترغیب په لړ کی د مرزا یو څو شعرونه ملاحظه کړۍ.

اب چهوړ دو جهاد کا ای دوستو خیال

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دین کی لیی حرام هی اب جنگ اور قتال

اب آگیا مسیح جو دین کا امام هی

دین کی تمام جنگو کا اب اختتام هی

اب اسمان سی نورخدا کانزول هی

اب جنگ وجدل کافتوی فضول هی

دشمن هی وه خدا کا جو کرتاهی جهاد

منکر نبی کاهی جو رکهتا هی یه اعتقاد

ژباړه :( ای دوستانو د جهاد کولو خیال اوس پریږدی . اوس ددین له پاره جنگ او قتال حرام دی . اوس مسیح چی ددین امام دی راغی ، او ددین د ټولو جنګونو اختتام یی وکړ . اوس د اسمان څخه د خدای نور نازلیږی ، او دجنگ او جدال فتوی اوس فضول ده . هغه خلک دخدای دښمنان دی چی جهاد کوی ،او څوک چی دا ډول عقیده ولری هغه د نبی نه منکر دی)

ددی نه علاوه ،د جهاد په هکله د هغی ډیر (هفوات ) چرندیات شته او د ټولو څخه یی مقصد د جهاد فی سبیل الله څخه انکار کول دی . څرنگه چی دا یوه قرانی فریضه ده او د قرانی فریضی څخه انکار کول سوچه کفر دی.

دکافر حکومت سره یی نزدی اړیکی:

په دی هکله خو هغی ډیری اوږدی اوږدی مقالی او د برتانوی حکومت تر مخ د اطاعت او تواضع الفاظ وړاندی کړی دی . دهغی عباراتو څخه یو شمیر کلیمات دنمونی په توگه وړاندی کوم:

دبرتانوی حکومت پر خلاف چی کومو علماو په هغه وخت کی جدو جهد او مجاهدی کړی دی او د(انگلیسی) حکومت پر خلاف یی فتوی ورکړی دی ، مرزا دهغوی په هکله لیکی چی:

دی خلکو د غلو ، لار وهونکو او حرامیانو په څیر د خپل محسن حکومت (دمرزا محسن ) باندی حمله پیل کړی ده او هغی ته یی دجهاد نوم ورکړ ، بی له شکه چی مونږ دغه داغ د مسلمانانو او په ځانگړی توگه دخپلو مولویانو د تندی څخه نشو پریمنځلی .(مرزا په دی مکلف نه دی ) چی هغه د ۱۸۵۷کال د مذهب په پرده کی دداسی ستری

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



گناه مرتکب وگرزی چې مونږ یې نمونه او مثال دهیڅ قوم په تاریخ کې نه شو موندلای )(ازالة الاولهام دپنځم چاپ د ۲۹۵ او ۲۹٦ مخونو حاشیې(.

بیا لیکې چې : زما دعمر ډیره برخه د انګریزانو د سلطنت په تایید او ملاتړ کې تیره شوه او ما د جهاد ممانعت او د انګریزانو د اطاعت په هکله دومره کتابونه ولیکل او دومره اشتهارات مې خپاره کړل چې که چیر ی هغه رسالې او کتابونه راټول کړل شي نو پنځوس الماری به تری ډکې شي (تر ټولو ستر درواغ) . ما داسې کتابونه ټولو عربو ملکونو ، مصر ، شام ، او کابل او روم ته رسولي دی .) (تریاق القلوب ٥ م مخ(

د همداسې یوه اوږده بیان په اخر کې لیکي چې:

دا زمونږ فرض دی چې ددی حکومت (انګریزانو د حکومت ) ددنیا او اخرت له پاره دعا وکړو .(تحقه قیصریه ۱۰م مخ)

دمرزا ددی دعا نه وروسته خو په نړۍ کې د برتانیې د (استعماری) نظام زوال پیل شو . اودا چې دهغې کفارو له پاره به په اخرت کې څه ډول سزا وی ؟ هغه الله تعالی ته ښه معلومه دی.

بیا لیکي چې : ما خپل لمړنۍ عمر کې (دا د ۱۸۹۳ کال خبره ده )، یعنې تر دی وخته چې نژدی شپیته کلنۍ ته رسیدلی یم دخپلې ژبې او قلم له لاری په دی کار کې مشغول وم چې دمسلمانانو زړونه د انګلیسي حکومت سره د ریښتنې محبت او خیرغوښتنې او دهغوی دملاتړ په لور و ګرځوم او دیو شمیر ناپوهه خلکو د زړونو څخه د جهاد غلط خیال او فکر لری کړم. ( ضمیمة شهادت القران ۱۰م مخ )

د خپلې ټولې کورنۍ په هکله لیکې چې : زه د یوی داسې کورنۍ څخه یم چې هغه ددی (انګریزی )حکومت پوره پوره خیر غوښتونکی دی . زما پلار غلام مرتضی د(انګریزی ) حکومت له اړخه د هغوی خیر غوښتونکی شخصیت دی . ۱۸۵۷کال کې هغه د خپل توان څخه پورته د انګریزانو بسپنه او کومک کړی دی. ان د ( پاڅون ) غدر په وخت کې یې هغوی ته پنځوس سپاره او آسپونه یې ( انګریزی حکومتی عسکرو) ته ور رسولي و. بیا زما د والد د مړینې نه وروسته زما مشر ورور غلام قادر په دغه سرکاری (دولتی ) خدمتونو کې مصروف شو . او کله چې د تمو په ګذر باندی د مفسدو او انګریزی فوځونو تر مینځ نښته وشوه نو هغه د انګریز ی فوځونو له اړخه په جنګ کې شریک شو، بیا د خپل پلار او ورور دمړینې وروسته هغه یو کونج ناستی انسان شو . مګر د ۱۷ کالو (د کتاب البریه تر لیکلو پوری ۱۸۹۸ ) مې د انګریز دسرکار په کومک او تایید باندی د خپل قلم څخه کارواخست په دی اولس کاله موده کې چې څومره کتابونه ما تالیف کړی دی په هغې ټولو کې د انګریز اطاعت او د هغوی سره د ملاتړ له پاره

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مې خلکو ته ترغيب ورکړی ، او دجهاد ممانعت په هکله مې ډيرې اغيزمنې ليکنې او ويناوې کړې دي.(کتاب البريه ۳ او ۷ م مخونه )

بيشکه چې دا زمونږ فرض دی چې مونږ خپل دغه محسن حکومت ته په ريښنونې زړه خير غوښتونکي او د ضرورت په وخت کې ځان ځارونکو په څير تيار و اوسو . خو په دې توګه هم په بيروني هيوادونو او نورو اقوامو کې د خپل دغه محسن حکومت د نيک نامې خپرول غواړم.( البلاغ ۳۲ او ۳۳ مخونه )

هر نيک بخته مسلمان بايد دعا وکړي چې په دې وخت کې انګريزان سوبه مند وګرځي . ځکه چې دا خلک زمونږ محسن دي او د برطانيې دسلطنت پر مونږ باندې ډير زيات احسان دی . ( ازالة الاوهام ، پنځم چاپ ،۲۱۱م مخ)

خپلې ډلې ته هم وصيت کوي او ليکي چې :

خدای تعالی زه په همدې اصولو باندې قايم کړی يم چې د محسن حکومت ، لکه څرنګه چې د برتانيې حکومت دی، په ريښتونې توګه اطاعت و کړم اوپه ريښتونې توګه د هغې شکر ادا کړم ، نو زه او زما ډله په دې اصولوباندې پابند يو. (تحقه قيصريه ۹ مخ ) .

برتانوی حکومت ته په دار الحرب ويلو باندې خفه کيدل:

دمصلحت خبره ده چې د انګريزانو د حکومت د خير غوښتنې په خاطر د هغه شمير ناپوهه مسلمانانو نومونه هم په نقشو کې (لستونو کې ) درج کړل شي چې په پټه دغه برتانوی هند ته دارا لحرب وايي . (تبليغ رسالت : ۵م جلد، ۱۱م مخ )

د برتانويانو د حکومت تر سيورې لاندې د مرزا د برياوو په هکله ليکي چې:

زما ستر ی موښې د هند دقيصر د حکومت تر سيورې لاندې په برې سره تر لاسه کيږې ، ددې پرته دا هيڅکله هم ممکن نه و چې د اموښې دبل کوم حکومت تر سيورې لاندې تر لاسه شوې وای.، که څه هم هغه اسلامي حکومت وايي .( تحفه قيصريه ۲۵ او ۲۹ مخونه )

بيا ليکي چې : ما خپل کارونه نه په مکه کې پر مخ بوتلای شول او نه په مدينه کې او نه په روم ، شام ، ايران ، او کابل کې ( مې په دې توګه برې تر لاسه کولی شو ) بلکه دا دانګريزانو حکومت و چې د هسک کيدو او بريا له پاره يې دعاکو م . ( تبليغ رسالت اتم جلد .٦۹م مخ )

پخپله خپل ځآن د برتانوی حکومت له اړخه را ټوکيدلی بوټی ګڼې او ليکي چې:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



�عاجزانه غوښتنه ده چی سرکار (انګریزان ) د یوی داسی کورنۍ په اړوند چی د پنځوسو کالو د پرلپسی ازمیښتونو له مخی وفادار او ځان ځارونکی ثابت شوی دی ، د یوه د خپله ځانه راټوکیدلی بوټی په هکله د ډیر احتیاط او تحقیق څخه کار واخلی ، او لاندی حکامو ته اشاره (حکم) وکړی چی هغوی هم ددی کورنۍ د ثابتی شوی وفادارۍ او اخلاص لحاظ وساتی او ماته او زما ډلی ته د مهربانی او عنایت په خاص نظر وګوری . زما کورنۍ د انګریزانو ته د خدمت په لار کی دخپلو وینو د ورکولو او ځان ځارونی څخه دریغ نه دی کړی او اوس به یی هم و نکړ ی�.

)د پنجاب ګورنر لفټینټ بهادر ته د مرزا غوښتنلیک ، چی د تبلیغ رسالت په اوم جلد کی په ۱۲۰ م مخ کی خپور شوی دی(

تبصره :

د مرزا د پورتنیو لیکنو څخه څو شیان را څرګندیږی.

۱ -داچی برتانوی حکومت د هغی محسن دی.

۲ -داچی د هغوی داطاعت او ملاتړ په خاطریی ترغیب ورکړی

۳ـ داچی د هغوی پر خلاف یی دجهاد څخه خلک منه کړی.

۴ـ دا چی دهغی پر خلاف یی جهاد کونکی علماو ته بد رد ویلی .

۵ـ دا چی دهغی حکومت دتایید او ملاتړ په خاطر یی ډیر عمر تیر کړی دی.

٦ـ دا چی دهغی له پاره یی ددنیا او اخرت دعاوی کړی دی.

۷ـ داچی په ژبه اوقلم یی د هغوی ډیر ستر خدمتونه کړی دی.

۸ـ دا چی د هغی کورنۍ دهغی حکومت خیر غوښتونکی وه.

۹ـ دا چی د ضرورت په وخت کی به ورنه د ځان د ځارولو وعده کوی.

۱۰ـ داچی خپله ټوله ډله یی ددی پابند ګرځولی ده.

۱۱ـ داچی د هغوی حکومت ته یی دارالحرب نه دی ویلی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۲ـ داچې مرزا خپل کار ، دانگریزانو دحکومت نه پرته ، په بل هیڅ کوم اسلامی حکومت کی په پوره بریالیتوب سره نشوای ترسره کولای . دا په ښکاره په دی دلالت کوی چې دمرزا اسلام دمکی ، مدینی او نورو اسلامی هیوادونو د اسلام څخه جلا دی او داسی اسلام به ضرور کفر وی.

۱۳ـ داچې خپل ځانته یی د برتانوی حکومت دخپله ځانه را ټوکیدلی بوټی ووایه.

ددی ټولو خبرو څخه او په ځانگړی توگه ددی اخری خبری څخه یی په ډاگه کیږی چې انگریزانو د مرزاییت بنسټ په دی خاطر ایښودی و تر څو دجهاد نظریه له منځه یوسی او په هندوستان کی دتل لپاره برتانوی حکومت سلطه ولری.

څرنگه چې مرزا په یوه ځل جهاد نشو ختمولای نو دهغی له پاره یی دختم نبوت څخه انکار وکړ او عیسی مسیح یی مړ اعلان کړ او دخپل ځان له پاره یی نبوت اعلان کړ . تر څو ددی لاری جهاد منسوخ کړی . او همدا علت دی چې تر نن ورځی پوری د انگریزانو حکومتونه ، او یهود اونصارا دمرزاییت پوره پوره ملاتړ کوی . او په انگریزی (اروپایی ) هیوادونو کی مرزاییت پرمختگ کوی.

په دی اساس د مرزا له اړخه د برتانوی حکومت له پاره داسی لیکنی اوعبارتونه ، خدمتونو او اطاعتونو باندی اعتراف کول او دهغوی همدردی تر لاسه کول ، او د برتانوی حکومت داطاعت لوری ته بلنه ورکول ...او داسی نور کارونه یی د پورته ذکر شوو مبارکو آیتونو څخه ښکاره، څرگنده اوپه ډاگه سرغړونه ده ، په کومو کی چې د (یهودو نصاری ) سره د موالاتو (دوستیو) دپری کولو حکم شوی دی ، نوداددی خبری ستر دلیل دی چې مرزا تر ټولو سترکافر (عظیم کافر ) دی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دولسم باب دمرزا فسق و فجور او ناوړه کارونه

د اهل سنت و الجماعت دټولو په دی اتفاق دی چی انبیا علیه السلام د نبوت په حال کی دهر ډول گنا څخه معصوم دی ، البته دنبوت تر مخه حالت کی یی اختلاف شته . او په دی هکله صحیح قول دادی چی د نبوت تر مخه هم هغوی د ناوړه کارونو ، بدو عاداتو ،او د سترو (کبیره ) گناهونو څخه پا ک ساتلی شوی دی.

خو مرزا غلام احمد قادیانی د خپلو کړنو او اخلاقو له اړخه د نبوت ددعوی د مخه او دهغی وروسته هم ډیر چټل او گنده و. زمونږ دغه وینا دهغی د کتابونو څخه پوره په ډاگه کیږی او هغه داچی:

دهغی د اخلاقو څونمونی وړاندی کیږی:

۱ـ د مرزا شراب څکل او داعلی درجی انگلیسی (ولایتی) شرابو سره دهغی محبت:

هغه خپل یوه مرید ته په خط کی لیکی چی ( اوس درته میا یارمحمد درلیږم ، ته به د خوراک څښاک شیان پخپله واخلی او یو بوتل (ټانک واین ) د (پلومر) ددکان څخه واخله ، خو د (ټانک واین ) (یوډول قوی شراب ) غواړم ، اودا باید په خاطر کی وساتی ) . مرزا غلام احمد ، ( د غلام په نوم خطوط ۵م مخ ).

۲ -د افیون سره مینه:

حضرت مسیح موعود (مرزا صاحب ) الهی تریاق ، د الله تعالی هدایت په واسطه ترخپل کنترول لاندی کړی دی چی دهغی لویه برخه افیون دی . او دغه دوایی یوڅه اندازه د افیون د زیادښت نه وروسته حضرت خلیفه اول ( حکیم نورالدین ) دشپږو میاشتو د زیاتی مودی راهیسی ورکوله . او پخپله یی هم د مختلفو ناروغتیاو په خاطر کله ناکله استعمالوله .( اخبار الفضل قادیان ۱۹ جولایی ، ۱۹۲۹)

۳ـ غولول او دوکه ورکول:

دمرزا جی عمر ۲۴یا ۲۵ کاله و نو د ځوانی په دغه وخت کی دادا صاحب تقاوت (پنشن ) داخستلو له پاره لاړ. (تفصیل یی داسی دی ): ماته خپلی مور وویل چی یوځل د ځوانی په زمانه کی حضرت صاحب د خپل پلار د تقاعد (۷۰۰کلدارو) داخستلو له پاره ولاړ نو دهغی پسی مرزا امام الدین هم پټ پټ ولاړ . کله چی هغی پیسی واختستی . نو هغه په دوکی او فریب او غولولو سره هغه د قادیان څخه بیرون یوړی . او هلته دلته یی ، چیری پریښودی او

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولاړ . حضرت صاحب د شرم او خجالت له مخی کور ته رانغی بلکه سیالکوټ ته ولاړ . او هلته د ډپټی کمشنر په کچهریو کی په ډیره لږه تنخوا (۱۵ کالداری ) باندی نوکر شو .( سیرة المهدی ۴۹م مخ)

په همدی توګه یو ځل هغی په دری سوه دلایلو باندی مشتمل د پنځوسو جلدونو د احمدیه د براهینو د لیکلو اعلان وکړ : چی مسوده یی تیاره ده او دهمدی په واسطه یی دخلکو څخه ستری ستر چندی او د پنځوسو جلدون قیمت ترلاسه کړ.

د هغی وروسته یی یواځی ۴ جلدونه چاپ کړل او نور یی لاس و نیوه اوپه دی تر تیب یی دخلکو رقم هضم کړ.

دمرینی څخه یی لږ دمخه پنځم جلد ولیکه خو هغی د موضوع سره هیڅ ډول اړیکی نه درلودل .اوهغه مخته اخستی رقم یی خلکو ته بیرته ورنکړ.(براهین احمدیه ۹۳م مخ) . په همدی توګه د سراج المنیر د اخبار معامله هم ده.( اشتهار ۲۰ فروری ۱۸۸٦ کال ) په همدی توګه یی دمنارة المسیح جوړولو په اعلان باندی دخلکو څخه چنده را ټوله کړه خو هغه کار یی په نیمایی کی پاته شو او مرزا له نړی څخه و لاړ.

۴ـ دستورو د اغیز منونکی نبی:

واقعی او صحیح حبره داده چی په ستورو کی اغیز اوتاثیرا ت شته دی ، چی په زمکه باندی اثر لری . نو په دی خاطر دهغه انسان څخه به ډیر بل ناپوهه او جاهل نه وی چی د بنفشی او نورو (بوټو اوجرړو) قایل وی خو د ستورو د اغیز اوتاثیراتو نه منکر وی. په دی شیانو کی هغومره اثرات دی چی په انسانی ژوند او انسانی تمدن باندی اغیز شیندلی شی. لکه چی پخوانیو علماو لیکلی دی ( حاشیه ګولړیه ۱۸۲م مخ ۱۹۹۱)

حال داچی په صحیح احادیثو کی دغه ډول عقیدی ته مشرکانه او کفر با الله ویل شوی دی چی دباران نسبت (دکوم ستوری ) په لور وکړل شی.

۵ـ دمرزا په خدمت کی نامحرمه ښځی:

المنبر لایل پور ۹ د شوال ۱۸۱۷کال قادیان : د ذرایعو په بنسټ لیکی چی:

مرزا صاحب به د نامحرمه ښځو په واسطه خپلی پښی زور کولی . چی په دی نامحرمه ښځو کی به ځوانی هم وی اوزړی هم.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په سيرة المهدی کی لیکی چی : مگر دهغه جمالیاتی حس دومره تیز ، او د حسن مشاهده یی دومره ژوره او پخه وه چی د ښځو د څهری د یوځل لیدلو څخه به یی دا اندازه معلوموله چی دا حسن به ډیره موده وی یا ژر به له منځه ولاړ شی.

فرایض او سنتونه یی نه ادا کول:

ډاکټر سید محمد اسماعیل صاحب ماته وویل چی حضرت مسیح موعود (مرزا ) حج نه دی کړی ، اعتکاف یی نه دی کړی ، زکاة نه ورکوی ، تسبیح نه کوی ، زکوة په دی خاطر نه ورکوی چی هغه کله هم د نصاب خاوند شوی نه دی . البته حضرت والده صاحبه په زیوراتو باندی ذکوة ورکوی . هغه د تسبیح او نورور رسمی وظایفو قایل نه د ی.(سیرة المهدی دریم جلد، ۱۱۹مخ )

ټولو مسلمانانو ته ښکنځلی کول:

زما څخه منکر مسلمانان حرامزادگان دی ( آینه کمالات الاسلام ۵۴۸م مخ)

ځوک چی زمونږ د بریالیتوب قایل نوی نو په دی دی په پوره توگه پوه شی چی هغه ته د (ولدالحرام ) کیدو شوق دی او حلال زاده نه دی.( انوار الاسلام ۱۳۰م مخ )

کل مسلم یقبلنی و یصدق دعوتی الا ذریة البغایا( ټول مسلمانان ما منی او زما دعوت قبلوی ، مگر بدکاره ، د وینځو اولاد، یعنی حرام زادگان ما نه منی . ( اینه کمالات ۵۴۷ م مخ(

بیا په شعر کی لیکی چی :

ان العدی صاروا خنازیر القلا نسأهم من دونهن الا کلب.

زما مخالفین او دشمنان د ځنگلونو خنزیران دی او دهغوی ښځی داسی دی چی سپی، هم دهغوی تر مخه هیڅ نه دی.

په همدی توگه د علماو او مشایخو هر یوه پر خلاف یی همداسی گنده اوچټل بکواس کړی دی.

شیخ سید نذیر حسین محدث دهلوی ( رحمه الله ) ته یی د ( ظالم طبع او مات ضالا هایما ) په څیر الفاظ لیکلی دی .(مواهب الرحمن ۱۲۷م مخ )

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مولانا محمد حسین بټالوی ، مولانا احمدالله امرتسری ، مولانا ثناالله امرتسری ( رحمهم الله ) ، هریو ته یی په نوم اخستلو سره لیکلی چی :(( دا درواغجن دی او د سپیو په څیر مرداری خوری .) (ضمیمه انجام آتهم ۲۵م مخ(

حال دا چی د مرزا څخه پخپله سپی جوړ شوی او ددغی علمایی کرام پر خلاف ځکه غپیږی چی هغی ټولو کرامو علماو د مرازایت د فتنی پوره پوره مقابله کړی ده.

د اسلام عام علما یی مخاطب کړی اولیکلی یی دی چی:

( ای ژر خفه کیدونکو، بد اخلاقو او په بد گمانیو کی ډوب ( غرق ) شویو!) ( ایام الصلح ۸۴ م مخ )

ای بدقسمته بد گمانو ذلیلو ملایانو ، پلیدو ملایانو ، د ناپاک طبیعت لرونکو مولویانو ، پلیدو الطبع مولویانو ، دخدای غضب دی په دی مولویانو وی ، مولوی د انسان څخه ډیر پلید او جاهل دی ( ایام الصلح ۱۱۵ مخ)

ددی نه علاوه یی دومره دبداخلاقی او ناوړی ژبی استعمال ددشمن پر خلاف هم چا نه دی کړی پرته له دی کذاب (درواعجن ) نبی څخه . ( لعنه الله تعالی و اتباعه اجمعین ) امین.

هیڅکله یی هم استغفار نه دی کړی:

د مولوی شیر علی مرزایی وینا ده چی ما هیڅکله هم مرزا په استغفار کولو او ویلو نه دی لیدلی.( سیرة المهدی لمړی ټوک ، ۲م مخ )

شاید چی مرزا په دروغو دا بهانه وکړی چی معصوم دی نو په دی خاطر د استغفار له پاره اړتیا نلری . خو دا بهانه غلطه ده . حق او معصوم نبی صلی الله علیه وسلم ته الله تعالی حکم کړی چی ( و استغفر لذنبک )(محمد)

که څه هم جناب محمد رسول الله صلی الله علیه و سلم د گناه ارتکاب هم نه و کړی خو د الله تر مخه ټول کرام انبیا د خپل نفس دماتولو ( کسرنفس ) په خاطر استغفار او توبه کوله ، لکه چی نبی اکرم صلی الله علیه و سلم به د ورځی اویا ځلی او په یوه روایت کی دی چی سل ځلی به یی استغفار او توبه کوله .

د تحریک چلولو پر وخت کی د سودی او حرام لاسته راوړنی خرڅول:

د مرزا بشیر په الفاظو کی د قادانیت د جواز فتوی هم مرزا جی ورکړی ده . په هغه زمانه کی د اسلام د خدمت له پاره د ځینو شرایطو د لاندی د سودی روپیو خرڅولو فتوی هم حضرت صاحب د همدغی اصولو په بنسټ ورکړی ده ( سیرة المهدی لمړی ټوک ، ۲٦۱م مخ)

د مرزا په وړاندی د یوی کنچنۍ ( دزنا له لاری لاسته راوړی رقم ) د اسلام د خدمت له پاره خرڅول جایزدی:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماته عبدالله صاحب سفوری ویلی دی چی یوځل د انباله یوی کنچنۍ ډیری زیاتی پیسی ګټلی وی بیا هغه مړه شوه او ماته د هغی ترکه تر لاسه شوه . خو وروسته ما ته الله تعالی د توبی کولو او اصلاح توفیق را په برخه کړ . اوس نو زه په دغه مال باندی څه وکړم ؟

حضرت صاحب ځواب راکړ چی زما په فکر په هغه زمانه کی دا ډول مال د اسلام پر خدمت کی مصرفیدای شو . ( کنچنی : کسبی فاحشی ښځی ته ویل کیږی )( سیرة المهدی لمړی ټوک ، ۲٦۱ او ۲٦۲ مخونه )

کله کله زنا کول:

حضرت مسیح موعود ( مرزا قادیانی ) ولی الله و او ولی الله هم کله کله زنا کوی .

که چیری هغی کله ناکله زنا کوله نو په هغی کی څه ستونزه ده ؟

بیا لیکی چی : مونږ ته په حضرت مسیح موعود (مرزا قادیانی ) باندی نیوکه نشته ، ځکه چی هغه به کله کله زنا کوله ، خومونږ په اوسنی خلیفه باندی نیوکه لرو ځکه چی نوموړی هر وخت زنا کوی .(روزنامه الفضل قادیان دارالامان ۳۱ اګست، ۱۹۳۸)

تبصره:

په پورتنیو لیکنو کی دداسی ګناهونو د ارتکاب یادونه شوی ده چی د هر(حق )نبی په شریعت کی هغه ستره ګناه او ممنوع ده . خو دا ټوله ګناه د مرزا قادیانی څخه د پیښیدو سره سره هغه نبی هم دی . کلا و حاشا!!!!

اتا مرون الناس بالبر و تنسون انفسکم.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دیارلسم باب د مرزا معتوهی (دلیونتوب ) حالت

معتوه (پاګل ) هیڅکله هم نبی کیدای نشی ، ځکه چی هغه به نوروته ، په داسی حال کی چی پخپله پاګل او لیونی و ، څه لارښوونه وکړی. راځئ چی دلته دمرزاغلام احمد د پاګل کیدو او لیونتوب د څو نمونو په لوستلو سره پر همغه باندی لعنت هم ولیږی.

۱ـ مرزا جی غوښتل چی چورګړی حلال کړی نود هغی په غاړه یی د چړی د راښکلو پر ځای په خپله ګوته را ښکله او په توبی توبی ویلو سره د چورګوړی د حلالولو څخه پور ته شو ( سیرة المهدی دویم جلد ۴ م مخ )

۲ـ کله به یی چی ډوډۍ خوړله نو هغه به یی په وړو وړو ټوټو باندی ویشله بیا به یی کومه ټوټه تری وخوړه اوپاته به یی په دستر خوان پریښوده . ( الفضل قادیان دریم مارچ ۱۹۳۵)

۳ـ د نوو څپلیو پیوندنی به یی تری غوځولی نو بیا به یی چی پوندی اینښودلی نو د تللو پر وخت کی به ګرد را الوت او په بنډیو باندی به یی کښیناسته ، اوکله به یی چی تیل په ځان لګول نو په قیمتی کوټ به یی داغونه جوړول . ( الحکم قادیان ۲۱ فروری ۱۹۳۵)

۴ـ کله به چی مرزا جی بوټان په پښو کول نو د ښی او چپ تمیز به په کی نشوکولای ، بلاخره ددی غلطۍ څخه د په څنګ کیدو په خاطر یی د یوی پښی په بوټ باندی توره نښه و لګوله .( منکرین خلافت کا انجام د جلال الدین قادیان لیکنه ۹٦م مخ)

۵ـ د واسکټ صدفونه به یی تل د سوریو څخه جدا ساتل نو ځکه به ډیر ژر ماتیدل. (الحکم قادیان ۲۱ فروری ۱۹۳۵)

٦ـ وخت به یی د ساعت د هندسو د شمیر لو په واسطه معلوماوه او په ګوته به یی د ساعت هندسی شمیرلی او په خوله به یی هم دغه شمار کاوه (سیرة المهدی ۱۸۰ مخ)

۷ـ مرزاجی د خوږی ( شیرنۍ ) سره ډیره مینه وه ، او د متیازو په ناروغتیا هم ککړ و په دی خاطر به یی د خاوری پنځه لوټې له ځآنه سره په جیب کی اینښودلی او په همدی جیب کی به یی د ګوړی غونډاری هم اینښودل ، کله به داسی هم کیدل چی د ګوړی د غونډاری پر ځای لوټه په خول کی واچوی . ( حالات مرزاجی مرتبه معراج الدین)

۸ـ دنفرت د ځای کیدو دعوا:

د مرزا شعر:

کرم خاکی هو میری پیاری نه آدم زاد هون -- هون بشرکی جای نفرت او انسانون کی عار.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



)درثمین اردو ۱۱٦ م مخ زمرزا قادیانی(

یعنی مرزا وایی چی زه ادم زاد نه یم بلکه د خاوری چینجی یم (وایی چی ترقی می کړی ) بلکه د بشر ( ښځه یانړ ) دنفرت ځای ( دشرم ځای ، شرمگاه ) او د انسانانو عار یم.

مرزاییان وایی چی دا دهغی د عاجزی او انکسار ښکاروندوی دی .

په داسی عقل دی تف وشی چی دغسی د لیونی خبرو ته عجز او انکسار وایی!!!

مونږ په اتم باب کی د مرزا دناروغتیاو یادونه کړی و ه چی په هغی کی هغه د مراق ، مالخولیا ، حافظی دکمزورتیا او ددماغ د ضعف تر څنگ ، د سر دوران ، د سر درد ، کم خوبی ، تشنج او .......نوری زیات شمیر ناروغتیاوی مووگڼلی.

زما په واړاندی صحیح خبره داده چی د مرزا دغه تیر شوی حال د هغی د سادگۍ او هیرونۍ په اساس نه دی ، بلکه د هغی د ناروغتیاو حقیقی اغیز دی چی د معتوه ( پاگل کیدواو لیونتوب ) ناروغی تری جوړه شوی ده. نو دداسی شخص الهام او وسوسه ، ریښتونولی او درواغ ، حق او باطل ، کی څه ډول تمیز او بیلتون کیدای شی ؟ څومره صادقین انبیأ چی د الله تعالی له لوری مبعوث شوی دی نو هغوی د لیونتوب او د لیونتوب د هرډول فروعاتو څخه خوندی اومامون ول.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## څورلسم باب دمرزا ټولی وړاند وینی (پیشنګویانی ) غلطی شوی:

دکلام دعلم مسله ده چی د مخلوق د علم له پاره دری اسبابه دی :

۱ـ ظاهری حواس چی دهغی په واسطه د محسوساتو علم او پوهه تر لاسه کولی شی.

۲ـ عقل ، چی دهغی په واسطه د معقولاتو علم او پوهه تر لاسه کولی شی.

۳ (وحی ، چی دهغی په ذریعه د حس او عقل نه د پورته شیانو علم او پوهه تر لاسه کولای شی.

خو په وحی کی اختیار نه وی ، هر وخت او د هر څیز علم چی الله تعالی وغواړی نوخپل بنده ته یی د وحی په ذریعه را لیږی.

په قرانی اصطلاح کی ددی له پاره د ، دخبرونو ښکاره کول ( انبأ ،اظهار )، په غیبو باندی د اطلاع په ورکولو اطلاق کیږی . او د وحی په اساس چی د غیبو کوم علم تر لاسه کیږی نو پر هغی غیب باندی علم ته اضافی غیب ویل کیږی.

بلی ! کوم حسی علم ، چی د عقل او وحی د ذریعی سره جوړ نه خوری او دهغه شیانو محتاج نه اوسی نو هغی ته حقیقی غیب ویل کیږی . او دا یواځی د الله تعالی ځانګړی اوخاص صفت دی . لکه چی الله تعالی فرمایی:

[ قل لا یعلم من فی السموات و الارض الغیب الا الله ( النمل )] ( ووایاست ! چی د اسمان او زمکی د خاوندانو څخه هیڅوک په غیبو نه پوهیږی ، پرته له الله تعالی څخه .)

نو هر نبی ته د وحی په ذریعی سره علم او پوهه ورکول کیږی ،خو الهام او کشف هیڅکله هم د علم د اسبابو څخه نه ګڼل کیږی ، انسان ته ددی لاری یواځی تسلی او زیری ورکول کیږی.

)دمرزا لمړی غلطی داده چی هغه د خپل ځان له پاره په ډیر زیادښت سره د الهام لفظ استعمال کړی چی هغه دلیل کیدای نشی(.

بیا د همدی وحی په واسطه کله کله د راتلونکو شیانو په هکله علم ورکول کیږی ، چی دهغی نوم وړاند وینه ( پیشګویی ) ده ، نودا هم د الله تعالی له اړخه وی او په هغی کی درواغ، غلطی ، تردد(شک) ، ان تر دی چی د نسخ امکان هم نه وی . که چیری د فرضیی په توګه دکوم نبی وړاند وینه غلطه او درواغ و خیژی نو څرګنده شوه چی هغه پر حق نبی نه دی ، بلکه کاهن او جادو ګر(سحر کونکی ) او یا نجومی ( دستوروپه هکله دپوهی خاوند) دی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمونږ د نبی صلی الله علیه و سلم څخه چی څومره وړاندوینی مخته راغلی هغه ټولی( نکته په نکته ) صحیح ثابتی شوی دی . او صحیح ثابتیدونکی دی . په دی کی شک کول کفر دی.

خو قادیانی چی څومره وړاند وینی کړی دی هغه ټولی یا له یوه سره درواغ ثابت شویدی ، او که کومه یوه یی ریښتیا هم ثابته شوی وی نو هغه هم په دی خاطر چی هغه د نجومو د علم استعمال کاوه ، لکه څرنګه چی دهغی د حالت څخه را په ډاګه کیږی . چی هغی د نجومو علم هم درلوده . ( لکه چی دهغی په کتاب د څوارلسمی پیړی مسیح ۱۱م مخ کی درج دی.)

بلی ! وړاند وینی د نبوت د دعوی دصداقت له پاره دلیل دی لکه چی پخپله مرزا لیکلی دی : ( زما د ریښتونولۍ او یاد درواغجنۍ د معلومولو له پاره ، زما د وړاند وینو څخه پورته بل هیڅ امتحان نه شی پیداکیدای .)(آینه کمالات الاسلام ۲۸۸م مخ )

په دی خاطر مونږ د لوستونکو تر مخ دهغی د ډیرو مشهورو وړاند وینو حقیقت تر مخ ږدو تر څو د هغی درواغجن کیده پخپله د هغی د خولی څخه ثابت شی . که څه هم هغی د وړاند وینی په هکله لیکلی دی چی زما د ریشتونولۍ له پاره چی کومی نښی ماته راکړل شوی دی هغه یو کروړ( سل لکو ) ته رسیږی او که ډیر یی را لنډی کړو نو د لسو لکو څخه خوکمی نه دی .( براهین احمدیه پنځم ټوک ۵۸ مخ )

دا ډول دعوا کول د عقل له مخی هم د محالاتو څخه دی او په خپله مرزا ته هم په دی هکله یقینی پوهه نشته ، په دی خاطر د یوکروړ څخه یی یو دم تر لسو لکو پور ی تنزل وکړ.

۱ـ د مسیحیت ددعوی کولو وروسته د ډپټی آتهم په اړوند وړاند وینه او نتیجه یی درواغ:

دهغی علت داو چی د مسیحیت ددعوا کولو نه نژدی دوه نیم کاله وروسته د مرزا او یوه عیسایی پادری ، ډپټی عبدالله آتهم ، په مینځ کی په امرتسر کی یوه منا ظره وشوه . چی پنځلس ورځی روانه وه . د مباحثی په اخری ورځ(۵جون ۱۸۹۳) مرزا د مسټر آتهم په اړوند یو ډیره کلکه وړاند وینه وکړه چی خپل الفاظ یی په لاندی توګه راغلی دی:

نن شپه چی ماته راښوول شوی هغه دادی چی : کله چی ما په ډیر تضرع او (ابتهال ) سره جناب الهی ته دعا وکړه چی ته په دی امر کی پریکړه وکړه او مونږ عاجز بندګان یو ستا دپریکړی پرته هیڅ نشو کولای ، نوهغه ماته دغه نښه د زیری د په توګه را کړه . چی په دی بحث کی ددواړو ډلو څخه هر یو قصدا درواغ (ووایی ) او عاجز انسان څخه خدای جوړوی نو هغه دی د همدی ورځو د بحثونو په لحاظ ، یعنی ( یوه ورځ د یوی میاشتی په اندازه واخستل

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شی او تر پنځلسو میاشتو پوری به په ( هاویه) کې اچول کیږی . او هغه ته به سخت ذلت ور ورسیږی . تر هغو چې دحق په لوری رجوع ونکړی . اوهغه چې په ریشتونی دی او ریښتونی خدای ،خدای ګڼی نو هغه ته به د هغی څخه عزت په لاس ور ځی او تر هغی وخته پوری چې دغه وړاند وینه راښکاره کیږی نو یو شمیر ړانده به لیدونکی( بنا) شی ، او یو شمیر ګوډان به (په لاره) روان شی او یوشمیر کاڼه به (اوریدل ) شروع کړی ، ( جنګ مقدس روداد مناظره آتهم و مرزا ۱۸۸مخ(

ددی څخه وروسته وضاحت کوی اولیکی چی :

زه اوس اقرار کوم چی که دغه وړاند وینه درواغ وختله یعنی هغه ډله چی د الله تعالی په وړاندی درواغجنه وی ، د پنځلس میاشتو په دوران کی ، یعنی د نن ورځی دتاریخ څخه اخوا د هاویه په سزا کی ونه لویدل ، نو زه دهغوی دهریوه سزا تیرولو ته تیاریم . ما ذلیله کړیٔ . زما په غاړه کی رسیٔ واچویٔ ، او ما غرغره ( پهانسی )کړیٔ . دهری خبری له پاره تیار یم او زه د الله تعالی سوګند یادوم . چی هغه به ضرور همداسی وکړی . زمکه او اسمان به ودریږی خو دهغی خبره به و نه دریږی (ایضا)

دا واړاند وینه غلطه و ختله ، هیڅ را ښکار ه نه شول ، او نه هغه لوازامات را څرګند شول ، بلکه آتهم د ټاکل شوی وخت نه وروسته هم نژدی دوه کاله ژوندی و . ( په ۵ م د ستمبر ۱۸۹۴کال دا وخت پایی ته ورسید او په ٦ م د ستمبر د هری لوری څخه د مرزا پر خلاف په اشتهاراتو کی طعن او خوښی لمانځل کیدی.

په خپله د مرزا خبره واوریٔ : هغوی (مخالفینو ) د پیښور څخه نیولی تر اله اباد پوری او بمبی او کلکتّی او نورو ښارونو پوری دډیری شوخیٔ څخه نڅا پیل کړی وه او داسلام ددین ، دمرزا مسیحیت ، باندی یی زړونه یخ کړل او ټول یهودی صفته ، او د اخبارونو خاوندان دهغوی سره په خوشحالی کی یوځای او دهغوی سره لاس په لاس وول . ( سراج منیر ۴۴م مخ )

کله چی د آتهم په هکله د وړاند وینی اخری ورځ وه نو په ډیره عاجزیٔ او تضرع سره یی د هغی د مړینی له پاره دعاوی وشوی ، په دی هکله دمرزا دخاص مرید عبدالله سنوری وینا ده:

کله چی د آتهم د ټاکلی وخت له پاره یواځی یوه ورځ باته شوه نو هغه ( مرزا ) ماته بلنه راکړه ، ماته یی وویل چی عبدالله (دومره اندازه ، ماته یاد نه دی ) چنی راوړه او په هری دانی یی د فیل سورة ولوله (چی ددښمن دهلاکیدو وظیفه د ه)، کله چی پوره شوی نو هغه له ما سره یوځای یو ناابادہ کوهی ته ولاړ او هغه چنی یی پر هغی کی ور وا چولی او وتښتید.(سیرة المهدی لمړیٔ ټوک ۱۷۸م مخ)

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دادمرزا دعملیاتو وظیفه وه ، ددی عمل څخه یی مقصد داو چی آتهم به ومری ، خو هغه ته هیڅ هم پیښ نه شول . ددی نه وروسته خو په کار داو چی مرزا ته د هغی له اړخه ټاکل شوی سزاګانو څخه یوه سزا ورکړل شوی وایی . خو څرنګه چی مرزا د انګریز انو د حکومت پوره وفاداره و نو بیا بل چا څه کولای شول ؟

۲ـ دویمه وړاند وینه یی د احمد بیګ د لور محمد ی بیګم د نکاح په اړوند وه خو هغه وړاند وینه د عاشقانه ارزوګانو تر مینځ له منځ ولاړه:

تفصیل یی داسی دی چی په پنجا ب کی د مرزا صاحب دکاکا دلور میړه احمد بیګ اوسیده . د احمدبیګ یوه لور محمدی بیګم نومیده. مرزا د کوچنی والی څخه تر ځوانی پوری د هغی د وجود د ټول خط و خال په کتلو سره ، څو ځلی د هغی سره دخپل واده په هکله اجمالی اشتهارونه خپاره کړی و. خو وروسته هغه پخپله په ډاګه کړه چی هغه ته په الهاماتو کی د محمدی بیګم سره د نکاح کولو اشاره شوی وه..

د احمدبیګ د زمکی په اړوند یوه معامله د مرزا دتصدیق او دسخط پوری موقوف وه ، مرزا همدا مسله غنیمت و ګڼله دهغی معامله یی د استخاری پوری موقوف کړه ، کله چی مرزا د بیګ اصرار وکوت نو مرزا هغه ته یو خط و لیکه چی لنډیز یی په دی توګه دی:

که چیری ته د محمدی بیګم نکاح له ماسره وکړی نو په (هبی نامی ) باندی به دی دستخط وکړم او که نه هیڅ مروت او سلوک به درسره ونه کړل شی.

احمد بیګ او دهغی کاکازی ورور په دغی د شرم نه ډکی سودا باندی ډیر په غصه شول او هغوی د مرزا دا خط خپور کړ اومرزا یی لوڅ لغړ کړ . خو مرزا پر ی چوپه خوله پاته شو.

بیایی په ۱۵م د جولای ۱۸۸۸ د یوه اشتهار په واسطه دخپلی پاکۍ او روحانی تقدس د ځای پځای ساتلو په خاطر ، ویره ونکی وړاند وینی یادی کړی چی دخپلی استخاری تفصیلات یی په کی بیان کړی دی:

�هغه قادر او حکیم خدای ماته وویل چی ددغه سړی ( احمدبیګ ) مشره لور محمدی بیګم دنکاح کولو له پاره تګ راتګ وکړه او دوی ته ووایه چی ټول سلوک او مروت به ددی شرط سره مشروط وی ، او دا نکاح به ستا له پاره دبرکت اورحمت نښه وی ، او دټولو رحمتونو اوبرکتونو څخه به برخمن شی. هغه اشتهار چی په ۲۰م د فروری ۱۸۸۷ کی خپور شوی دی ، خو که دنکاح څخه انحراف وشی نو ددی نجلۍ انجام به ډیر بد وی ، او بل هر چاته چی واده کړل شی نو دنکاح دهغی ورځی څخه به تر یونیم کاله پوری ، او په همدی ترتیب به د نجلۍ پلار تر دری کالو و مری . او دهغوی په کور کی به اختلافات را پیدا شی او تنګی به پری راشی . او ددی وخت په مینځ مینځ کی به ددی نجلۍ له پاره به سختی او غمونه مخته راشی . ( مجموعه اشتهارات مسیح موعود لمړی ټوک ۱۲م مخ )

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیایی لیکلی دی چی الله تعالی ماته دا مقرره کړی وه چی دخط دخاوند مشره لور ، چاپه هکله چی یی دنکاح غوښتنه کړی ده ، د هر خنډ دلری کولو وروسته ددی عاجز سره نکاح وکړی . او دابی دینه (د نجلیِ خپلوان ) به مسلمانان کړی .اوپه گمراهانو کی به هدایت خپور کړی او ان تر دی چی په دیسمبر( ۱۸۹۱ )کی یی دعوا وکړه چی الله تعالی دمحمدی بیگم نکاح زماسره پخپله لوستی ده.

الفاظ یی دادی:

په خدای سوگند ! دا ریښتنا دی اوته ددی خبری شون ( کیدل ) نشی ځنډولای ، ما (خدای ) پخپله دهغی(مرزا ) سره ستا نکاح لوستی ده . زما خبری هیڅوک نشی بدلولای . (فیصله اسمانی ۴۰م مخ)

او په همدی توگه یی یوبیان په حقیقة الوحی کی ۱۳۲م مخ کی درج کړی دی .

خو احمد بیگ او دهغی خپلوانو د مرزا په خبرو (اوتو بوتو ) باندی هیڅ باور و نه کړی ، څو ورځی وروسته د محمدی بیگم نکاح د لاهور دپټی اوسیدونکی ځوان سلطا ن محمد سره وشوه.

ددی کار سره یوځای مرزا مختلفو حیلو ، فشارونو ، د خدای او د رسول واسطی ، ټول هر څه ته لاس واچاوه ترڅو دا نکاح بیرته واخلی او منسوخ یی کړی ، لیکن یوی خبری یی هم اغیز ونکړ.

په اوم د اگست ۱۸۹۲ کال کی د مرزا صاحب اسمانی منکوحه د سلطان محمد سره یوځای واده شوه اوهغه له ځانه سره یوړه . داخبر په مرزا باندی داسمانی تندر په څیر را پریوت....

دمرزا د وړاند وینی دری برخی وی:

۱ـ خدای تعالی به هر خنډ لری کړی او محمدبیگم به د مرزا په نکاح کی ورکړی .( دوړاند وینی بنسټیز لفظ همدا دی )

۲ـ د نکاح کونکی ، سلطان محمد ، مرگ به دوه نیم کا له وروسته را پیښیږی.

۳ـ او احمد بیگ به په دری کالو کی مری

اما احمدبیگ د محمدی بیگم د نکاح څخه یواځی شپږ میاشتی وروسته (۳۰ ستمبر ۱۸۹۲)ومړ. او سلطان محمد ژوند و ، خو د وړاند وینی په مطابق د سلطان محمد مړینه د احمد بیگ نه نژدی شپږ میاشتی مخته په کاروه (خو دهغی پرخلاف کار وشو ).

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا لیکی چی سلطان محمد د خپل خسر احمد بیگ د مړینی څخه په ویره کی و په دی خاطر دهغی مړینه د ځو ورځو له پاره و ځنډیده . خو په هر حال هغه به زما په ژوند کی ومری او نجلیۍ به په هرصورت زما په نکاح کی راځی.

اوبیا لیکی چی : پخپله وړاندوینه ( د احمدبیگ او سلطان محمد مړینه ) ښکاره تقدیر دی او دهغی انتظار کوه که چیری زه درواغجن وم نو دغه وړاند وینی به پوره نشی او ماته به مړینه راشی .(ضمیمه انجام آتهم ۳۱م مخ)

او ددی پسی نور زیات لیکی چی : ځکه چی دهغی له پاره د الهی دالهام فقره موجوده ده چی (لا تبدیل لکلمات الله ) یعنی زما په خبرو کی به هیڅکله هم بدلون را نشی . نو که چیری تبدیلی راشی نود خدای کلام باطلیږی .(اشتهار ٦م اکتوبر ۱۸۹۴، مندرجه تبلیغ رسالت دریم ټوک ، ۱۱۵ مخ ، اشتهارات دویم ټوک ۴۳م مخ )

�زه تاسی ته دانه وایم چی دا کار ( یعنی محمدی بیگم سره د مرزا نکاح) شوی ده ، دا کار تراوسه پوری په خپل ځای پاته دی . او هیڅوک یی هم د هیڅ حیلی په واسطه مخنیوی نه شی کولای . او دا څرګند تقدیر دی دهغی وخت به راشی ،په خدای سوګند چی محمد رسول الله صلی الله علیه و سلم یی را استولی دی دا بلکل ریښتا دی ، تاسی به یی ووینی او زه دغه خبره د خپلی ریشتونولیۍ او یا درواغجنی له پاره معیار نیسم اوما چی څه ویلی دی هغه می دخدای څخه په خبر اخستلو سره ویلی دی�. ( انجام آتهم ۲۲۳م مخ)

بیا یی په ۱۹۰۱ عیسوی کال کی په محکمه کی په سووګند خوړلو سره یو بیان ورکړ چی په هغی کی مرزا وویل:

�هغه ښځه ما له واده شوی نه ده خو زما به له هغی سره نکاح ضرور کیږی ، لکه څرنګه چی په وړاند وینه کی درج دی . دا ښځه تر اوسه پوری ژوندیۍ ده ، زما نکاح کی به ضرور راځی ، څه ډول امید؟ په کامل یقین سره ، دا خدای خبری دی ، معطل کیږی نه .او ضرور به کیږی�. ( الحکم قادیان ۱۰م اګست ، ۱۹۰۱ کال ۱۴م مخ ، دریم کالم .)

ددی نه وروسته یی په ۱۹۰۵ کال کی د یوه سوال په ځواب کی ولیکل چی : د ا دالهی د الهام الفاظ دادی :

(سیکفیکهم الله و یردها الیک ) یعنی خدای به ستا د مخالفینو مقابله وکړی او هغه ( محمدی بیګم) به ستا لوری ته را وګرزوی . او وعده داده چی هغه به دنکاح په اړوند را ځی او همدا سی به کیږی .(الحکم قادیان ۳۰جون ۱۹۰۵کال دویم مخ دویم کالم )

خو هغه د عشق او لیونتوب په جوش کی راغی و او خپلی لمړنیۍ ښځی ته یی طلاق ورکړ او دهغی د ګیډی څخه یی پیدا شوی مشر زوی ډپټی سلطان محمد عاق کړ او خپل بل زوی فضل احمد څخه یی دهغی د ښځی ( چی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



داحمد بیگ د خپلوانو څخه وه ) طلاق واخستل یعنی هغه یی په طلاقولو مجبور کړ ، او بیا یی همدا فضل احمد هم عاق کړ. ( سیرة المهدی ۲۲-۲۳ مخونه )

خو نتیجه یی دا شوه چی مرزا دمی دمیاشتی په ۲٦مه ۱۹۰۸م کال په ډیر و ارمانونو سره ددی دنیا څخه ولاړ . او دهغی پر خلاف سلطان محمد او محمدی بیګم د مرزا دټولو بد دعاو څخه ، د ټولو نعمتونو او ښه صحتونو سره ، او په ټولنه کی د ډیر نیک شهرت سره ترډیری مودی پوری ژوندی پاته شول، چی په دغه موده کی د مرزا نه وروسته او دهغی د ډلی ټول یو نسل له منځه ولاړ.

پخپله سلطان محمد د خپل رزق د پرخوالي په هکله لیکی چی زما شپږ زامن دی چی دهغوی څخه یی یو په لاهور کی درس وایی . د حکومت له اړخه هغه ته ۲۵ کلداری میاشتنی وظیفه ورکول کیږی ، بل زوی می په انټرنس کی تعلیم تر لاسه کوی . زه داللّه تعال پر فضل سره داهل سنت و الجماعت له ډلی څخه یم . زه احمدی ( قادیانی ) مذهب ډیر بد( او درواغ ) ګنم ، او دهغی پیرو نه یم ، د هغه دین ددرواغو دین دی . ( دا لیک په همدی ورځو کی د اهل حدیث امرتسر (۱۴نومبر ، ۱۹۳۰) کی خپور شوی دی )

او پخپله محمدی بیګم دنوی کالو په عمر په ۱۹م د نومبر ۱۹٦٦ کال کی د هفتی به ورځ په لاهور کی وفات شوه . او دخپله ځاَنه وروسته یی ،زامن ، لوڼې ، لمسیان ، او لمسیانی ، او کړوسیو (زامنو او لوڼو) یوه ستره ډله پری ایښی ده . او دوفات پر وخت کی یی وصیت کړی و چی د مرزایانو څخه څوک یی جنازی ته را پری نږدی. ( محمدیه پاکټ بک ۳٦مخ ،دویم چاپ.)

دا د یوه نامراد عاشق (درواغجن نبی) وړاند وینی وی، چی د هغی ددرواغجن کیدو له پاره څرګند دلیل دی.

۳ـ دمرزا وړاند وینی ، پخپله دهغی دخپل عمر په هکله هم غلطی و ختلی:

مرزا د جولای (۱۸۸۷ )کال کی لیکلی و : چی ماته الله تعالی خطا ب کړی دی چی :

یاتی علیک زمان مختلف بارواح مختلفة و تری نسلا بعیدا لنحیینک حیاة طیبة ثمانین حولا اوقریبا من ذلک.

)ازالة الاوهام دویمه برخه ۳۱۸م مخ.(

یعنی پر تاباندی به دمختلفو هواو له لوری ، مختلف وختونه راشی، او ته به ستر نسل ووینی ، او مونږ تاته د (۸۰) کالو اویا هغی ته نزدی پا ک ژوند درکوو .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا ورپسی لیکی چی : دا خو ما د نمونی په توګه څو وړاندو ینی بیان کړی چی په حقیقت کی زما د درواغجن کیدو او یا ریښتونولۍ له پاره بسنه کوی . بیا په دی الهام کی (قریبا من ذلک ) مطلب مرزا په خپله واضح کوی او لیکی ی چی : اطال الله بقا یک � اتیا (۸۰) او یا په (۸۰) کالو باندی پنځه یا څلور کم اویا پنځه یا څلور زیات .� (حقیقتة الوحی ۱۰۰م مخ)

بیا ددی نه هم په ډیره څرګنده او ډاګیزه توګه لیکی چی: خدای تعالی ماته په واضحه توګه اطلاع راکړی ده چی ستا عمر به اتیا کاله وی او یا داچی پنځه شپږ کاله به کم او یا پنځه شپږ کاله به زیاد وی ، اود وحی په هکله چی کوم ظاهری الفاظ راغلی دی نو هغه د (٧٦) او (٨٦) تر مینځ د عمر تعین کوی . ( براهین احمدیه پنځم جلد ، ۹۷م مخ)

تبصره:

۱ـ دمرزا د وړاند وینو په الفاظو کی پخپله دهمغی د شرک او تردد الفاظ لکه ( یا ، قریبا من ذالک ) موجود دی . او دا خو داسی دی لکه یوه سړی چی ویلی وی زه په غیبو پوهیږم ،ځکه چی سبا به یا اسمان پاک وی او یا به په کی وریځ وی . نودی خبری ته خو وړاند وینه نه ویل کیږی.

۲ـ دا چی ددی څرګندونو څخه د مرزا عمر لږ تر لږه (۷۴کاله) او یا ډیر تر ډیره (۸۴) کله یا (٨٦) کاله با ید وای. بلکه دا هر څه ډیر غلط راوختل ځکه چی هغی دخپل عمر په (٦٦) کا لنۍ کی ومړ.

د مرزا په عمر باندی استدلال:

۱ـ هغه ویلی و چی کله چی زما عمر څلویښت کلنی ته ورسیده نو زه خدای تعالی په الهام او کلام باندی مشرف کړم . او دا حیرانونکی پیښه وه چی زما د څلویښت کلنی ته د رسیدو سره سم د پیړۍ سر هم را ورسید . نو بیا الله تعالی د الهام په ذریعه ماته د ا راوښووله چی ته ددی پیړۍ مجدد اود صلیبی فتنو چاره کونکی به یی .(تریاق القلوب دویمه ضمیمه ٦٨م مخ لمړۍ چاپ )

استدلال : مرزا د خپل نوم د حروفو او عددونو څخه اشاره کوی یعنی د (۱۳۰۰) عدد چی دهغی د نوم څخه راوځی هغه ښیی چی د دیارلسمی پیړۍ دپایی ته رسیدو په وخت کی همدغه مجدد را پیدا شو چی نوم یی (۱۳۰۰) عدد پوره کوی .(تریاق القلوب لمړۍ چاپ ١٦م مخ ) ددی دواړو حوالو څخه دوه خبری مخ ته راځی

لمړۍ داچی : مرزا د دیارلسمی پیړۍ پر پایی ته رسیدو سره مبعوث شوی دی.

دویم دا چی : هغه وخت د مرزا عمر څلویښت کاله و.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو مرزا په اتفاق سره په ۱۳۲٦ هجری کی مړ شوی دی ، نو د څوالسمی پیړی شپږویشت کاله د څلویښتو سره جمع کړی نو ټول عمر یی ٦٦کاله کیږی . نوبیا خو د (٧٦) یا (٨٦) او (٦٦) تر مینځ توپیر پخپله د خندا وړ دی.

بلی ! د مرزا باوری شخص او دهغی لمړی خلیفه حکیم نورالدین په خپلی رساله (نورالدین ) کی په ۱۷۰م مخ کی د مرزا د پیدا کیدو یوه نقشه جوړه کړی ده : هغه لیکی چی : مرزا په ۱۸۴۰ کال کی پیدا شوی دی ( مرزا په ۱۹۰۸ کال کی مړشوی دی نو په دی حساب سره دهغه عمر (٦٨) کاله کیږی . ) بیا هم د ۸٦،۷۴، او ٦٨ تر مینځ ډیر زیات توپیر موجود دی.

ددی څخه بلکل په ډاګه کیږی چی دا د مرزا درواغجنی وړاندوینی وی اوهغه پخپله دخپلی دغی وینا مصداق ګرځی چی ویلی یی دی : په خپلو وړاند وینو کی د یوه انسان درواغجن کیدل ، د ټولو شرمنو څخه ستر شرم او رسوایی ده .(نزول مسیح ١٨٦م مخ)

بیا لیکی چی : زماد ریښتونولی او دروغجن کیدو له پاره زما د وړاند وینو څخه بل باوری ازمیښت نه شته .( تبلیغ رسالت لمړی ټوک ۱۱۸ م مخ )

د مرزا د همدی وینا وو څخه ثابتیږی چی هغه د زمانی تر ټولو ستر دروغجن دی او د ازمیښتونو به محکمه کی هغه صریح او څرګند درواغجن را وښوت او درواعجن انسان هیڅکله هم نبی نشی ګرزیدای.

۴ـ د طاعون د ناروغتیا څخه د قادیان دخوندی پاته کیدو په هکله یی وړاند وینه کړی وه چی بلکل غلطه راووتله:

په ۱۹۰۲ کال کی مرزا خپل یو الهام خپور کړ( انه اوی القریة ) او ویلی یی و چی ددی په مطلب لا تراوسه پوری نه یم پوه شوی .(دا هم یوه دهوکه او فریب و ) ، ځکه په همدی ورځو کی دهندوستان په یو شمیر ولایتونو کی د طاعون وبا خپره شوی وه . خلکو دا ناروغتیاد الله له اړخه عذاب و ګاڼه او الله ته یی دعاګانی او استغفار شروع کړ. خو بیا هم یوشمیر سیمی تری (تر یوه وخته پوری) خوندی پاته شوی . الله تعالی د ازمیښت په توګه تری قادیان هم تریوه وخته پوری خوندی وساتل . نو مرزا ددی حال څخه ګټه واخسته او ویی ویل چی څرنګه چی قادیان د مرزا د اوسیدو ځای دی په دی خاطر هلته عذاب رانغی . او نورو خلکو چی د مرزا تکذیب یی کاوه د وبا په ناروغتیا باندی ککړ شول . او دا یی هم وویل چی هر هغه څوک چی قادیان ته راشی ، نو ددی وبا څخه به خوندی پاته شی. او ویی ویل چی د ( انه اوی القریة مطلب همدا دادی ) یعنی هغوی چی خوندی شول ، د هغی علت داو چی هغوی د قادیان په سیمه کی پناه اخستی وه.

بیا مرزا وایی چی په هغه ښارونو او کلیو کی چی دمرزا مریدا ن شته دی هغه به هم د طاعون د وبا څخه خوندی پاته وی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددی پروپاګنډ څخه یو شمیر ساده زړی اغیزمن شول ، او په همدی وخت کی مرزا خپل کتاب ( د نوح کشتۍ ) ترنامه لاندی ولیکه ؛ یعنی قادیان ددی وبا په وخت کی د نوح د کشتۍ په توګه و.

دغه مهلت او استدراج تر یوه وخته پوری جاری و او قادیانیانو هم دهمدی خوندیتوب په اساس په پوره غرور او لویی سره خپل سرونه هسک وړل . په هغه وخت کی دهغوی د خطیب مولوی عبدالکریم یوه مقاله خپره شوه چی په ډیری دعوی سره یی په کی لیکلی و چی:

)په دی توګه موعود مسیح د خپلی لاری او ستر شفاعت ثبوت وړاندی کړ ، او دغه معامله د قادیان او نوروښارونو تر مینځ یو تمیز ( بیلتون ) وګرزید . چی هر چیری چی یو قادیانی و نوهغه ځای الله تعالی د غضب څخه په څنګ کړ . نو ای مخالفینو ! تاسی هم همداراز وړاند وینی وکړی چی په هغی کی د مرزا د پیغمبرۍ دعوا باطله کړل شی او قادیان په طاعون باندی ککړشی .( خلاصه الهامات مرزا ۱۱۳،۱۱۲،۱۰۹ مخونه(

ددی څخه دری خبری ثابتیږی:

۱ـ دا چی قادیان به د طاعون څخه بلکل خوندی پاته شی . ان تر دی چی دهغی ځای کافر ، مشرک اود مرزا مخالف به هم په دی وبا باندی ککړ نشی .

۲ـ داچی ، هر چیری چی یو قادیانی هم وی نو هلته د طاعون د ناروغتیا خپریدل د مرزا د نبوت په درواغژنۍ باندی دلیل دی.

۳ـ دا چی قادیان ته د طاعون دناروغتیا ور رسیدل به دمرزا د درواغژنۍ له پاره دلیل وی.

کله چی د قادیانیانو غرور تر اخری پولی پوری ورسید نو د الله تعالی عذاب پری راښکته شو ، او په قادیانیانو باندی د طاعون د ناروغتیا ډیر ستر اغیز و شو ، هغوی دا نشوای پټولای ، ان تر دی چی هغوی خپلی ټاکل شوی غونډی هم منسوخ کړی . او بالاخره په ۱۹۰۲کال کی مرزا په دی اعلان کولو مجبور شوچی :

�د ډسمبر د میاشتی په رخصتیو کی به پخوا زیات ملګری را ټولیدل . خو اوس دغه ټولنه د پورتنی یاد کړل شوی ضرورت له مخی (یعنی په قادیان کی د وبا د خپریدو په اساس ) موقوف شوه� . ( الهامات مرزا ۱۱۳ مخ )

او بیا یی د مرزایی آرګن البدر ( داپریل ۱٦مه ۱۹۰۴ کال ) په خپرونه کی پخپله و لیکل چی:

په قادیان کی طاعون صفایی ( د خلکو په مکمله توګه له منځه وړل ) پیل کړی دی .( الهامات مرزا ۱۱۳مخ)

او په همدی الهام کی یی لیکلی دی چی : بیا یوه میاشت وروسته د می په میاشت (۱۹۰۴) کی مرزا د خپل قادیان مکتب د طاعون دخپریدو له امله و تاړه . د طاعون د ناروغتیا د تیزۍ سره دخپرولو حال داو چی ټول خلک هغه او

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه لوری ته و تښتیدل او دقادیان ټوله سیمه د یوی دشتی په څیر (بی څوکه ) په نظر راتلله . حقیقة الوحی ۸۴م مخ ) او بیا لیکی چی : هغه وخت چی طاعون په پوره زور سره خپریده، نو زما زوی شریف هم ناروغه شو.

نو د مرزا دا وړاند وینه وچی قادیان به د طاعون څخه خوندی پاته شی غلطه او درواغ و ختله . او دنبوت دعوا یی بی دلیله پاته شوه . دغه ډول نبوت جعلی نبوت وی چی مسلمانانو ته تری انکار کول فرض دی.

ددی نه علاوه نوری وړاندوینی یی هم شته ، خو په هغی یوه کی یی هم درینښتینولې هیڅ څرک په نظر نه راځی ،بلکه دهوکه ، فریب او غولونه ده.

## پنځلسم باب د مرزا درواغ (اکاذیب )

ددی څخه مخته چی څه یاد کړل شو هغه هم د مرزا د کاذیبو او درواغویوه نمونه وه . خو هغه یواځی د وړاند وینو په اړه و . اوس مونږپه دغه باب کی دهغی نه علاوه د مرزا غلام نور اکاذیب او درواغ را نقلوو:

دا خو شرعا اوعقلا معلومه ده چی درواغ ویل سخته او قبیحه گناه ده . د محدیثینو د اصولو په اساس چی که دیوه انسان څخه یوځل درواغ ثابته شول نو بیا دهغی څخه روایت کړل شوی احادیث دلیل او حجت نشی گرزیدای.

په داسی حال کی چی مرزا لیکلی دی چی درواغ ویل د مرتد کیدو څخه کم نه دی.( حاشیه ضمیمه تحفه گولړویه تحتی کلان ۱۳ م مخ ) خو ددی هر څه سره یی څه درواغ ،دلته دنمونی په توگه ولولې :

۱ -د عیسی علیه السلام په هکله لیکی چی:

قران په ډاگه وایی چی عیسی دمریمی زوی ( رسول الله ) په زمکه کی دفن ( ښخ ) کړل شوی دی .( تحفه گولړیه ۴٦م مخ)

مونږ پو ښتنه کوو چی په قرانکریم کی مونږ ته داسی یو آیت را وښایی ؟ دا خو په الله تعالی باندی درواغ او افترأ ده چی دهر ډول درواغو څخه زیات جرم دی.

۲ـ لیکی چی د امام بغوی د معالم التزیل په تفسیر کی په ۱٦۳م مخ کی لیکل شوی دی چی : د حضرت عباس رضی الله عنه عقیده هم همداسی وه چی مسیح مړ شوی دی ( ازالة الاوهام ۱٦۹م مخ)

مونږ وایو چی : په همدی تفسیر کی مونږ ته دا ډول خبره را په گوته کړې ! دا خو په ابن عباس رضی الله عنه اوپه بغوی مفسر رحمه الله علیه باندی افترا ده.

۳ـ لیکی چی : ځلور واړه امامان د مسیح په مړینه باند متفق دی : ( تحفه گولړیه ۴م مخ)

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مونږ وایو چی : په دی هکله مونږ ته د یوه امام وینا اوقول دهغوی په یوه کتاب کی هم را په گوته کړی ! دا خو په امامانو باندی څرگنده افترا او درواغ تپل دی .

۴ـ د عیسی علیه السلام په هکله لیکی چی:

عیسی علیه السلام ته ښکنځل اوبد رد ویل او دهغی په هکله خرابه ژبه خوزول دهغی (دمرزا) ستر عادت او خوی و. دا باید هم په یاد وی چی هغه ته د لږی اندازی ددرواغو ویلو عادت هم و . ( ضمیمه انجام آتهم ۵ )

پدی وینا او لیکنه کی د الله تعالی یو حق نبی ( عیسی علی علیه السلام ) باندی افترا تړل او دهغی د نبوت څخه انکار کول ، پخپله صریح ، څرگند او په ډاگه کفر دی.

۵ـ لیکی چی عیسایانو ستا ډیری معجزی لیکلی دی خو حقه خبره داده چی له تا څخه هیڅ معجزه نه ده صادر شوی . ستا په لاسو کی د مکر اوفریب نه پرته نور څه نه وو . ( پورتنی حواله )

په دی خبرو کی یی د عیسی علیه السلام د معجزاتو څخه په صریحه توگه انکار کړی دی او دا لیکنه او وینا یی د قران ددی لاندی آیت په مقتضا څرگند اوصریح کفر دی : چی وایی [فقال الذین کفروا منهم ان هذا الاسحر مبین (مایده ۱۱۰)]

د عیسی علیه السلام د یوی بلی معجزی چی د مرغانو د جوړولو په هکله ده لیکی چی :دا د جادو او منتر یو عمل و .( ازالة الاوهام تحتی کلان ۱۳۲ م مخ )

د وهم دفع : د برتانوی عیسایی حکومت د ویری په اسا س مرزا وویل چی د عیسی او یسسوع تر مینځ توپیر شته .

ځواب : ( که څه هم ددی څخه مخته مو په لنډه توگه بیان کړی دی ) خو د مرزا په وړاندی عیسی او یسوع دواړه د یوه ذا ت دوه نومونه دی . لکه چی په نور القران کی یی په ۲۰ م مخ کی او په توضیح المرام کی یی په دریم مخ کی او په براهین احمدیه کی یی په ۱۸۰مخ ( پنځم ټوک ) تصریحات موجود دی(.

٦ـ د بخاری د راټولونکی (امام بخاری رحمه الله علیه ) په هکله لیکی چی : په هغی کی یوحدیث راغلی چی ( هذا خلیفة الله المهدی ) ( شهادة القران ۳۲م مخ ) . خو ایا مونږ ته د امام بخاری رحمه الله په راټوله کی داسی کومه کلیمه ښوولای شی؟

په همدی تر تیب مرزا نور هم زیات درواغ لری چی پری د لعنت کولو له پاره بسنه کوی.

د اهل حدیثو د عالم او مرزا تر مینځ مباهله

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مرزا او د شیخ ثناالله امرتسری دحمه الله علیه تر مینځ مباهله

په قرانکریم کی د رسوله الله صلی الله علیه وسلم ، یهودو ته دمباهلی بلنه د بقری او د جمعی په سورتونو کی اود نصاراو سره د آل عمرا په سورة کی یاده کړل شوی ده . او په دی د امت اتفاق دی چی ددی نه وروسته هره مسله په قطعیت سره تبلیغ او د حسنه موعظی او دلایلو سره وړاندی کول او دمخالفینو شکوک او شبهاتو ته د ځواب ورکولو نه وروسته مباهله روا بلکه ضروری ده . او دا ترتیب د آل عمرا ن د سوری څخه را څرګند دی.

بلی ! په مباهله کی ، په یوی غونډه کی د اهل و عیال موجودیت ضروری نه دی ، ان تردی چی دمباهله کونکو مخ تر مخ دریدل هم شرط نه دی .مګر د آل عمران په سورة کی دنصاراو سره د مباهلی په وخت کی د ډلی موجودیت یو ځانګړی امر و.

نو په همدی توګه د اهل حدیثو مشهور دینی عالم ، شیخ ثنا الله امرتسری رحمة الله او د مرزا غلام احمد قادیانی تر مینځ په غایبانه توګه مباهله وشوه. بلکه مرزا په خپله د شر(دغوښتو ) له پاره دعا وکړه او ویی ویل چی:

ای الله ! هغه چی ستا له نظره په ریښتونی توګه مفسد او درواغجن وی نو هغه د صادق په ژوند کی له نړی څخه پورته کړی .(دمرزا اشتهار ۱۵م اپریل ، ۱۹۰۷کال ، مندرجه تبلیغ رسالت ، دویم جلد ۱۲۰م مخ )

بیا یوه هفته، لس ورځی وروسته ، ( ۲۵م د اپریل ۱۹۰۷کال ) د قادیان په اخبار کی راغلل چی دا د شر د غوښتلو دعا د خدای له اړخه الهام وه .

ددی وروسته په ۲٦م د می ۱۹۰۸ کال په لس نیمی بجو د سهار مرزا د اسهال د ناروغتیا د زیادښت له امله و مړ. ( ضمیمه اخبار الحکم قادیان غیر معمولی مورخه ۲۸ می ۱۹۰۸ عیسوی کال )

او شیخ ثناالله مرتسری رحمة الله علیه تر (۱۹۳۴) کله پوری ژوندی و.

ریښتیا یی ویلی دی چی:

لکها تها کاذب مریګا پیشتر کذب می سچاتها پهلی مرګیا

)لیکلی یی و چی درواغژن به مخته مری ، په درواغو کی ریښتونی و نو لومړی ومړ(

د محکمی پریکړه داسلامی عدالت قانون

د ولسی جرګی (قومی اسمبلۍ) دمرزاییت په اړه دکفر پریکړه :

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ۱۹۷۴ عیسوی کال د سپتمبر د میاشتې په ۱۷ مه د پاکستان ټاکل شوی ولسی جرګی ، نزدی د څوارلسو ورځو علمی بحث او څیړنی وروسته په متفقه توګه ، قادیانیان د هغوی د کفری عقایدو په بنسټ نامسلمانه (غیرمسلم ) اعلان کړل . په ولسی جرګه کی د قادیانیانو مشر ، مرزا ناصر احمد ته د دلایلو د ویلو له پاره پوره وخت ورکړل شوی و.

په هغه وخت کی ذوالفقار علی بوټو د پاکستاو صدراعظم و ، دهغی وروسته د پاکستان جمهور ریس ( جنرال محمد ضیاالحق ) په ۲٦م د اپریل (۱۹۸۴) عیسوی کال دقادیانیت د ممنوع کیدو حکم جاری کړ ، چی په هغی کی قادیانیانو ته داسلامی شعایرو استعمالول او خپل ځان مسلمان څرګندولو باندی بندیز و لګول شو.

قادیانیانو ددی حکم څخه څرګندی خلاف ورزی وکړه او د قانون د تر پښو لاندی کولو هڅه او هاند یی وکړ. ددوی پرخلاف مقدمات د لمړنیو (ابتدایی )محکمو څخه نیولی تر ستری محکمی پوری ورسیدل ، د څلورو واړو ایالتونو ( صوبو) عالی محکمو هم د قادیانیانو د کفری عقایدو په درلودلو سره په هغوی دکفر مهر و لګاوه . قادیانیانو دهای کورټس ( عالی محکمو ) پر خلاف تر ټولو ستری محکمی ( سپریم کورټ اف پاکستان ) ته عریضه وړاندی کړه . په ۱۹۹۲کال پوری ددوی دعرایضو شمیره تر اتو پوری ورسیده ،

د۱۹۹۳کال د جولایی په میاشت کی دسپریم کورټ ( ستری محکمی ) ستر قاضی ، قاضی محمدافضل ظله ددی عرایضو په اوریدو او تحقیق پیل وکړ او دهغی د حل له پاره یی یوه پنځه کسیزه کمیټه جوړه کړه چی په قاضی شفیع الرحمن ، قاضی عبدالقدیر ، قاضی محمد افضل لون ، قاضی ولی محمد خان او قاضی وسیم اختر باندی مشتمله وه.

د ستری محکمی دغه کمیسیون په متفقه توګه قادیانیان ، دکفری عقایدو په درلودلو سره ، دهغوی پر خلاف یوه تاریخ جوړونکی پریکړه وکړه چی د لوستلو وړ ده.

ددی پریکړی تر ټولو لویه ښیګڼه داده چی پر هغی کی د قادیانیانو دکفری عقایدو په هکله پوره بحث او څیړنه شوی ده ، او په اخر کی درانه قاضیان دی نتیجی ته ورسیدل چی دا قادیانیان د خپلو کفری عقایدو له اړخه د (ملعون سلمان رشدی ) په څیر دی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اخري غوښتنه

دقادیانیانو کفریات ، تلبیسات او تحریفات ددی پورته یاد کړل شوی لیکنی څخه نور هم ډیر زیات دی ، مونږ په ډیره لنډتو گه ( دمشت نمونه خروار ) په څیر دهغی څو نمونی ستاسی تر مخ وړاندی کړی.

قران او حدیث ، د اسلام ټول علما، د پاکستان ولسی جرگی (قومی اسمبلی ) ، د پاکستان سپریم کورټ ( ستری محکمی ) چی کوم شخص کافر او نامسلمانه گرزولی دی ، نو بیا خو دهغی نه وروسته دهغی په کفر کی به څرنگه شک وکړل شی ؟

مونږ په غوڅه توگه وایو چی :قادانیان کافر دی اوڅوک چی دهغوی په کفر کی شک وکړی هغوی هم کافر دی.

دټولو مسلمانانو څخه غوښتنه کوو چی ددی فتنی څخه هم خپل ځانونه وساتی اوهر ډول اړیکی ورسره و شکوی اوبرأت تری وکړی . او دکتابونو د لوست او مطالعی څخه یی ځان وژغوری ،( او د نورو په ژغورلو کی هم خپله ایمانی دنده ترسره کړی (ژباړن. (

دالله تعالی څخه دعا کوم چی ټول مسلمانان د گمراهۍ ددی ستر ی فتنی څخه محفوظ اوخوند وساتی .

اللهم آمین

عبدالسلام رستمی

۱۳جولایی ، ۲۰۰۵م کال ، ٦م د جمادی الثانی ۱۴۲٦م هجری ق کال

الحمد لله رب العالمین ، اللهم تقبل منی انک انت السمیع العلیم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوټ:

د استاد ، شیخ الاسلام ،شیخ القران عبدالسلام رستمی حفظه الله ، دغه ستره او علمی څېړنه چې په هغې کې د قادیانیت پر خلاف ډېره په زړه پوری علمی ، تحقیقی او څېړنیز بحث شوی دی ، د الله تعالی جل جلا له په مرحمت ، تعاون او توفیق چې زما لاسو ، ګوتو ، فکر ، وجود او کورنۍ ته یی ور ښښلی و،دغه ژباړه په ۲۸د جولایی پیل او په ۴م د اګست ،می په مکمله توګه، دژباړی سره سم د کمپیوتر په مغز کی هم خوندی کړه . دعزت مند استاد دا لیکنه دومره په زړه پوری وه چې ما یی د ژباړی له پاره خپل ټول نورمصروفیات شاته پریښول، او ټول فکر می همدی لوری ته راواړاوه ، ترڅودهمدی خدمت په خاطر ، په هغه قلمی جهاد کی ورګډ شم چې درووند استاد یی یادونه کړی . د الله جل جلا له څخه غواړم چې هغه مسلمانانوته چې د درووند استاد عبدالسلام حفظه الله دغه کتاب ور و رسیږی ، په لوستلو سره یی دقادیانیت ددغی ستری فتنی څخه خوندی پاته شی . همدا راز دهغه د اقدس ذات څخه ارزو لرم چې دغه ژباړه به زما له پاره جاری صدقه وګرزوی او په دنیا او اخرت کی به می دهغی په اجر سره مفتخر کړی .

الحمد لله رب العالمین ، اللهم تقبل منی انک انت السمیع العلیم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما نوری ژباړی:

۱-اسلامی سیاست د مولانا گوهر الرحمن لیکنه.

۲-دحدیثو د انکار څخه د قران تر انکاره پوری : د شیخ السلام ،علامه عبدالسلام رستمی ،حفظه الله ،لیکنه.

۳-اسلامی ریاست د مولانا ابولاعلی مودودی (رح) لیکنه.

۴-حجاب (شرعی پرده ) دمولانا ابولاعلی مودودی (رح) لیکنه.

۵-خلافت او ملوکیت : دمولانا ابولاعلی مودودی (رح) لیکنه.

٦-داسلامی انقلاب حکمتونه : د سیداسعد گیلانی (رح) لیکنه

۷-دنبوت پای ( ختم نبوت ): د شیخ السلام ،علامه عبدالسلام رستمی،حفظه الله ، لیکنه.

او یو شمیر نوری کوچنۍ رسالی ، چی نومونه به یی وروسته ، انشأالله، و لیکل شی.

Download from: ketabton.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**